

# په اوږده مارش کې
# له مشر ماو سره

د چن چانګ - فېنګ لیکنه

# فهرست

فهرست.....2
ماشوموالی .....4
د لېدلوکتلو يو کور.....14
لومړی ګام په اوږده مارش کې.....23
د مياؤ له سيمې څخه تېرېدل.....30
نوی کال د وو سيند په غاړه.....39
د طلايي رېکونو .....45
د سيند په غاړه.....45
د يي خلک .....50
صدر مائو نه هرکلی کوي.....50
له انشونچنګ څخه .....55
تر لوتينګ پله پورې.....55
د شولتسېتي په لور سرک باندې.....61
واورين غرونه .....65
او زرغونې زمکې.....65
د ليوپان په غره باندې.....81
مون په کور کې يوو!.....86
صدر مائو.....92
زه ښوونځي ته ولېږلم.....92
ماله صدر مائو سره.....99
خدای په اماني وکړه.....99
پيوستون.....104
خوشحالي خاطرې.....104
پيوستون.....110
د اوږده مارش په هکله.....110
يادښت:.....122

# پە اوږدە مارش کې
# لە
# صدر مائو سرە

چن چانګ- فینګ

# ماشوموالی

زه د ۱۹۱۵ز کال په مني کې د «کیانګسي» ولایت د «نینګتو» ولسوالۍ د «لینګناو» په کلي کې وزیږېدم. زموږ کورنۍ د خورا بې وزلو کورنیو له ډلې څخه وه. زه یوولس کلن وم، چې مور مې مړه شوه. پلارمې زموږ کورنۍ یوه خان ته د کار کولو له لارې ساتله. موږ د بې وزلۍ او فشار له کبله د خانانو او سیمه ایزو دیکتاتورانو په لاس کې ځورېدلو؛ له همدې کبله ما له ماشوموالي راهیسې د دغې لوټمارۍ او ښکیلاککرۍ طبقې څخه د زړه له تله کرکه لرله.

په ۱۹۲۸ز کې ګاونډي کلي «ونګفنګ» ته د «سره پوځ» د ناځاپه رارسېدو ګونګوسی زموږ په کلي کې خپور شو. هغه له

«نینګتو» څخه د «جویشین» او «تاپوتي» په لور تېرېده. دې خبر ټول کلی راوپاراوه او ګېرچاپېره داسې خپور شو، چې د افسانې بڼه یې ومونده. غریبان خوښ وو. دوی ویل، دا لښکرې به بې وزلو سره مرسته وکړي. خلک دوی کمونست ګوند او یا سور پوځ بولي، دوی به له شتمنو، د خانانو او دیکتاتورانو سره وګوري او سپین زر به کوڅو ته وغورځوي، چې بې وزلي یې له ځانونو لپاره راټول کړي. شتمن بېرېدلي وو. دوې دغه مېږونه ستوني پرې کونکي او لاروهونکي بلل. زه په دې وخت کې یوازې دیارلس کلن وم. زه په سیاست هېڅ نه پوهېدم، خو له هغه څه سره، چې غریبو خلکو ویل، سم لاسي موافق وم. هغه کوچني تکي: «مړه دې وي شتمن! ژوندي دې وي بېوزلي!» زما په مغزو کې وکنل شول.

ډېرې ورځې تېرې شوې. د کلي ځینو مساپرو، چې «شانګتینګ» او «فوکین» ولایتونو ته تلي وو، له هغه څه یې چې هلته کتلي وو، په خورا خوند کېسې کولې. سور پوځ چې شانګتینګ یې لاس ته راوړی وو، د سیمه ایزو دیکتاتورانو سره جنګېده او خانان یې رانسکورول. پر بې وزلو ځمکې ویشېدلې؛ دوی د لمړي ځل لپاره په خپلو پښو درېدلي وو. دې خبرونو زه خوشاله کړی وم او ما د هغې ورځې تمه په بې صبرۍ سره کوله، چې د پوځ عسکر زمونږ کلي ته راشي. د نوي کال شپه وه، چې زمونږ په کور یرغل وشو او ولوټل شو. موږ له سیمه ایز دیکتاتور څخه څه روپې پورورې وو او هر څه چې موږ لرل ـ له ازغني نرۍ ځیرې ځمکې څخه نیولې زما د کوټې تر ترانګې برستنې پورې ـ ټول یې راڅخه واخیستل. دا هم یوازې زمونږ د زړه سوانده ګاونډې سوال له برکته وه، چې د وریژو پخولو ماته کټوه یې راته پرېښوده. زمونږ ژوند تر هره وخته اوس ګران شوی وو. له نېکه مرغه ما ته د نورو خلکو د غواګانو څرولو دنده را پیدا شوه. خو ما له څارویو خورا ناوړه ژوند تېراوه. که چېرې یو غویی یا آس خپله دنده سرته ورسوي، نو خواړه

ورکول کېږي، خو کله کله زموږ ټولي کورنۍ، چې د اوماچ يو ځاځکی هم زموږ په منځ کې د ويش لپاره نه وو، لوږه ګاللــه.
زه څه وکړم؟ له سره پوځ سره يوځای شم! دا سوچ ناځاپه زما په سر کې راپيدا شو او په دې هکله مې چې څومره هم ډېر فکر کاوه، هومره مې پرېکړه زياته غوځېدله، چې دا کار وکړم. فقط د نوي کال څخه ورسته د لمړۍ مياشتې د دوهمې ورځې په شپه تيره تياره وه، زه او يو ګاونډۍ، ون نومی يو ځوان، په مخفي توګه د کلي نه بهر وده شوو، بې له دې چې حتا خپلو کورنيو ته هم حال ووايو، د چانګتين په لور رهي شوو. موږ پرېکړه کړې وه، چې سور پوځ ومونډو او ورسره يوځای شو.
زه نه پوهېږم، چې موږ د څو ورځو په مخ او څومره لرې سفر وکړ، بې له دې چې د سره پوځ له يوه عسکر سره هم مخامخ شو. موږ له ستومانۍ نه ختم شوي وو، خو هېڅکله د بېرته ستنېدو په فکر کې نه وو. په يوه غونډۍ د پنځلس لي* په واټن د دوو سرتېرو سره مخامخ شوو، چې سره ستوري يې په خوليو نښتي وو. بالاخره سور پوځ! موږ سم لاسي د دوی خوا ته ورپورته شوو او دوی ته مو څرګنده کړه، چې موږ راغلي يو، تر څو د سره پوځ سره يوځای شو. وروسته له دې، چې موږ يې دقيق وپوښتلو، دوی موږ ته وويل، که چېرې تاسو واقعا سره پوځ کې شاملېدل غواړۍ، نو په چيانګتين کې د سرو سرتيرو د جلب مرکز ته ولاړ شی.
په چيانګتين کې مو د سرو سرتېرو د جلب مرکز، چې د پرخو د پله تر خوا جوړ شوی ؤ، ومونډ. موږ له دې کبله، چې په سره پوځ کې سم لاسي شامليدلو، هومره خوشال وو، چې د دوی توضيحاتو ته مو هم غوږ نه نيوه. موږ تصور هم نه کاوه، چې دوی به زموږ د قضيې له پلټلو وروسته سر وخوځوی او «نه» ووايي. دوی وويل، چې زه خورا ځوان يم او د ټوپک په مټه وړلو کې به ستونزه ولرم.

---

* لي تقريبا د يوه ميل يوه په دريمه ده

اوښکې مې په سترګو کې تاوې شوې. خو زه به تسلیم نه شم. «زه باید په سره پوځ کې داخل شم!» په ژړا سره مې وویل. «که تاسو ما ته د داخلیدو اجازه رانکړی، زه به له همدې ځایه، چې پرې ولاړیم، و نخوځېږم» په پا یې کې یې، چې ولېدل، چې زه هومره ټینګار کوم، پاسته شول او زه له هغه دمه راهیسې زموږ د ویاړلي ولسي سره پوځ غړی یم.

زه د چین د کارګرانو او بزګرو د خلورم پوځ په مرکز کې د قوماندان ملګري چوته تر قوماندې لاندې د ترم غږونکي په توګه وګمارل شوم. وروسته مې ساتندوی ته ارتقا وکړه. د ۱۹۳۰ مارچ په یوه ماسپښین، کله چې زموږ مرکز د کیانګسي د یونګ فینګ ولسوالی د پایشا په کلي کې و، مرستیال افسر لیو ماته وویل، چې زه تبدیل شوی یم. زه هغه دم د «تبدیل» کلمې په پوره مانا نه پوهېدم. نو له ده څخه مې دهغې مانا وپوښتله.

لیو وویل: «د تبدیل مانا داده، چې ستا د کار ځای بدل شوی دی.» ده ما ته په ځیرو کتوکې داسې وویل، لکه چې څه مهمه خبره وي او هغه یې ما ته په یو ځل ویلای نشي.

«زه به چېرې تبدیل شوی وم؟» ما له لیو څخه دوباره وپوښتل. زه ډېر خوښ نه وم، ولی چې زه له دې ځایه، چې پکی بوخت وم، راضي وم.

ده په موسکا سره وویل: «ته د جبهې کمیټې ته د کمیسار مائو د پاسلون(محافظ) په توګه ځې»

ما د چین کمونیست ګوند د جبهې کمیټه پیژندله، خو دا چې کمیسار مائو څوک و، زه ښه نه پوهېدم. هغه باید لاربنود افسر وي، ما فکر وکړ، چې دی ګوندې پاسلون نه لري. خو څه ډول سړی به وي؟ آیا دی به خوښ چلنده سړی وي؟ مرستیال لیو چې زما ځنډمني ولېده، زه یې په متو وډبولم او په هڅوونکي توګه یې وویل: «ته یو وړوکی نیکمرغه شیطان یې. کمیسار مائو یو حیرانونکی سړی دی. ته به هرومرو عالي راتلونکې ولرې، که له ده سره کار وکړې!»

وروسته يې ماته د پيژندګلوۍ يو ليک راکړ او ويې ويل، چې لوښي مې ټول کړم او روان شم. ما د انتقال لپاره لږ څه لرل. ټول څه مې چې لرل، ټولو يوځاى يوازې د درو کتيو[*] په خوا او شا کې وزن لرلو.

د جبهې کميټه په همدې کلي کې وه، نو زه چټک هلته ورسېدم. زه لږ څه وراخطا وم. يوه ملګري د وو په نوم زه کميسار ته ورروستم. هغه د کيانګسي په ټيپيک لرګين کور کې، چې دوې(دخوب او دفتر) کوټې يې لرلې، ژوند کاوه. موږ د خوب کوټې له لارې ننوتلو. په هغه کې يو لرګين تخت، چې په کتان ټوکر پوښل شوى ؤ، موجود ؤ. حتا بالښت يې نه درلود. وارخطايي مې يو څه کمه شوه. له کوټې څخه په قضاوت کې مې فکر وکړ، چې کميسار مائو بايد زموږ ټولو په شان ساده ژوند ولري. دوو سړيو په کوټه کې په خپلو کې خبرې کولې. ملګري وو په څوکۍ باندې ناست سړي ته اشاره و کړه او په کراره سره يې وويل: "هغه کميسار مائو دى." ما ده ته پلټونکي وکتل. د ده خاورين رنګى يونيفرم زموږ په شان و. يوازينى توپير يې دا و، چې د ده کميس جيبونه په خاصه توګه لوى ښکارېدل. د ده تورو ويښتو د ده له منصفى څېرې سره پريکړنده توپير درلود. شايد دى څه ډېر نرى و. سترګې يې خورا غټې او اغېزناکې برېښېدې. دى ډېر چې وي، د ځلويښتو کلو په شاو او خوا کې ښکارېدو. خپل مخامخ سړي سره چې غږېدو، په خپلو لاسونو سره يې هم تمثيل کاوه. غږ يې مهربانه ؤ. که څه هم زه پوه نشوم، چې د څه په هکله غږېده، خو احساس مې وکړ، چې دى جدي و. لږه موده وروسته د ده مېلمه پاڅېدو، چې لاړ شي. دى هم ودرېدو. يوازې تر هغه ورروسته و، چې ما ولېدل دى هومره لوړ دى. همدا چې مېلمه ووانه، ملګري وو، ما ته په اشارې سره، کميسار مائو ته وويل: "ما تاته يو پاسلون ومونده."

---

[*] يو کتي مساوى ده په يولسو پونډونو

که څه هم زه يو څه شرمېدلی وم، خو ما هغه رسمونه، چې د پوځ په مرکز کې مې زده کړي وو، هېر کړي نه وو. زه يو قدم وړاندې شوم، سلامي مې ووهله او په جګ غږ مې وويل: «خذمت ته حاظريم!» کميسار مائو ما ته وکتل او په مهربانۍ سره يې وخندل. هغې موسکا زما ټوله ناکراري له منځه يووړه.
"ستا نوم څه دی؟" ده وپوښتل.
"چن" ما لکه يو رښتين سرتيري په شان په جګ غږ ځواب ورکړ.
"کورنی نوم دې څه دی؟"
"چنګ- فېنګ"
"څوکلن يې؟"
"شپاړس" په دې وخت کې زما غږ لږ څه طبيعي شوی و.
"ولې له سره پوځ سره يوځای شوې؟"
کميسار مائو له ما څخه لکه د ښونځي د ښوونکي په توګه پوښتنې کولې.
"سور پوځ ښه دی. له سيمه ايزو ظالمانو سره جنګيږي! " زه لا هم ځير او نيغ درېدلی وم. کميسار مائو زه کيناستلو ته وبللم او په علاقمندۍ سره يې پوښتنې کولې، "ستاسو په کلي کې سيمه ايز ظالمان شته؟"
"هو"، ومې ويل، "زه پخپله د هغو له لاسه تښتېدلی يم"
او ما ده ته په دقت سره وويل، چې ما له خپلې کورنۍ سره څرنګه ژوند کاوه او زه څرنګه وتښتېدلم او سره پوځ سره يوځای شوم. هغه ماته په مينې سره غوږ نيولی ؤ، کله کله يې سر خوځاوه او نرم موسکېدو. دې خبرې زه کرارولم او ما فکر کاوه چې له دې سړي سره کولی شم په ډېره ښه توګه اوږده موده تېره کړم. زه خورا ډېر اوږد وغږېدم. يوازې د ملګري وو په اشاره سره متوجه شوم، چې ډېر اوږد غږېدلی وم. زه لږ څه وارخطا او غلی شوم.

"ښه" ملګرى مائو وويل. "اوس نو ته غواړې کلک زيار وباسې او زده کړې وکړې." وروسته له يوى دمې يې وپوښتل: "کولى شې نوم دې وليکې؟"
زه ودرېدم او د خپلې کرتۍ ځنډه مې له شرمه تر لاسه تاووله.
"زه هېڅکله ښوونځي ته نه يم تلى. زه نه پوهېږم، چې څرنګه وليکم" ما ځواب ورکړ.
کميسار مائو وخندل او له ځايه پاڅېده.
"نو ته به ليکل زده کوې ـ د خپل نامه او د نورو خلکو د نومونو ليکل. دا دې خوښېږي، داسې نه ده؟"
"هو، زه غواړم" ما په ټيټ غږ ځواب ورکړ.
دى راوګرځېده او ملګرى وو يې مخاطب کړ.
"دا نوى ملګرى دى، تاسو بايد خورا هڅه وکړى، چې له ده سره مرسته وکړى" نو بيا ما ته راوګرځېدو، "که څه شى تا ته روښانه نه وي، له دوى څخه پوښتنه کوه."
کله چې زه له ملګري وو سره له درپيو(زينو) ښکته کېدم، ده ما ته وويل:
"ولى دومره ډېر وګړېدې؟ مګر ته نه پوهېږې، چې هغه څومره مصروف دى؟"
ما خپل سر وخوځاوه.
"هغه مصروف سړى دى" وو ادامه ورکړه. "په ياد دې اوسه، کله چې دى لولي، شور جوړ نکړې. برسېره پر دې دى د شپې تر ناوخته پورې کار کوي. ته بايد ده ته سهارنى ورورې، خو ډېر وختي نه وي، پوه شوې! "
ما ځواب ورکړ: "هو"
زه خورا خوشال او داسې هيجاني شوى وم، چې ګرده شپه مې يوه سترګه خوب هم ونکړ.
سبا سهار مې يو لرګين سطل واخيست، چې اوبه راوړم، څه چې ما خپله ورځنې دنده ګڼله. زه ملګري وو سره تم شوم.

"څه کوې؟"
په اطمينان سره مې وويل : "د کميسار مائو لپاره اوبه وړم."
"ما درته ونه ويل، چې کميسار مائو ناوخته وېده شوی؟"
ملګری وو بې حوصلې و. "ته خو نه غواړې هغه ويښ کړې؟"
ما سر وخوځاوه او سطل مې کېښود.
تر هغه وروسته مې د کميسار مائو لپاره د وينځلو اوبه سهار وختې د ده دړې مخې ته اېښودلې، پرته له دې چې څه غږ جوړ کړم او بيا درپيو ترخوا په وړه زانګو کې د ده د امر ته په تمه (انتظار) کېناستلم. خو کميسار مائو په ندرت سره ما ته غږ کاوه او زه په همدې توګه ډېرې ورځې نور هم هسې ناست وم. يوه ورځ وروسته له پرېمېنځلو ده زه وپوښتم: "چن چنګ- فېنګه، ولې ته تل هلته بې موخې ناست يې؟"
زه چې لا هم په زانګو پرېوتی وم ځواب مې ورکړ: "زه ډارېږم، که چېرې زه لرې لاړ شم او تا په کار وم، وبه مې نه مومدې."
دی په خندا شو او لکه ماشوم ته چې غږېدو. "له همدې شېبې وروسته ته نبايد هلته بې کاره کېنې. کله چې دلته ستا د کولو لپاره څه نه وي، ته ځه او د نورو سره مطالعه کوه. دلته تالة د کولو لپاره ډېر څه نشته."
په هغه وخت کې هره ورځ جګړې وې. موږ تل په خوځېدو وو. موږ په ندرت سره په يوه ځای کې تر يوې مياشتې زيات پاتې کېدو.
د کميسار مائو ژوند خورا ساده و او زه ژر د ده له عادتونو سره آشنا شوم. د ده شخصي شتمني يوازې له دوو څادرونو، يوه کتان توکر، دو خاورين رنګي يونيفرمونو، زموږ په شان زړو جامو، زاړه بالاپوش او يوه زاړه بنپل(بنيان) څخه عبارت وه. نور يې يوه ماته چترې، د وريژو خوړلو يو جامګی او د کتابونو، اسنادو او نقشولپاره يې يوه نهه جيبه خلطه لرله. کله به چې موږ په جګړې

او یا مارش کې وو، نو چترې او خلطه به ده خپله له ځانه سره اخیستله. پاتې شیان ما وړل. کله به مو چې خیمه ووهله، ما دوې لرګینې تختې موندلې او هغه مې سره جوختې اېښودلې او څادرونه او کتان مې پر هغو غوړولو، د ده یونیفرم می سره نغاښته، چې بالښت ترې جوړ کړم. دا د ده کټ ؤ.

دی ډېر کم ویده کېدلو. موږ یوه کوچنې ډېوه لرله، د مارش په بهیر کې مو د لارې رڼا کولو لپاره کار ځینې اخیستلو، خو کله چې خیمه مو وهله، د ده په دفتر کې په خښته او یا تیګې پورې به مو ځوړندوله. د شپې تر ډېرې وروسته به ده دا ډېوه لګوله، خپله خلطه به یې خلاص کړه او نقشې، اسناد، کتابونه، کاغذ، د لیکلو برش او ځینې شیان، چې لا یې کار ورکاوه، راوبه یې ایستل.

زه هغه وخت تر ټولو ځوان وم او ټوله شپه ویښ نشوم پاته کېدای. کله به چې کمیسار مائو لیکل او یا یې لوستل زه به یې تر څنګه کېناستلم، خو ډېر ژر به مې سر د ده په مېز پرېوت او په خرېدو به مې پیل وکړ. کله به چې ده زه راویښ کړم، موږ به دواړه خندېدلو او ما ته به یې ویل، چې ویده شم.

د دوبي په شپو کې ده له ما څخه غوښتل، چې لږې اوبه راوړم. ما به بیا وړوکی لرګین سطل واخیست او څه سړې اوبه به مې راوړلې. له هغه ځایه چې موږ تشت نه لرلو، ده به تولیه په سطل کې لانده کړه او په مخ او کله کله به یې په ځان موښله، تر څو ځان تازه کړي. کله به چې دی وږی شو، نو ما به ماسپښین د "وریژو ساندویچ" (د وریژو په دوو پټونو کې پاخه سابه) ورته ګرم کړ او ده ته به مې په کاسه کې کېښود، چې ویې خوري.

کله به یې د وریژو کاسه ختمولې نشوای، نو ما به هغه ده ته د کاغذ په ټوټه کې راونغاړلې چې د ډوډۍ بل وخت کې یې وخوري. یو وار ما وریژې لرې وغورځولې، دی لاړ وو او بله ورځ یې زه وپوښتم:

"چن چنګ ـ فینګه، هغه وریژې، چې له پرون څخه پاتې شوې وې، چېرې دي؟"

ما ورته وویل، چې ما خه کړې او ده په ما نیوکه وکړه.

"د هرې یوې دانې وریژې لپاره، چې خلک یې کري، جګړه روانه ده. په راتلونکې کې هغه څه، چې له ما څخه پاته کېږي، لرې مه اچوه. د ډوډۍ بل وخت ته یې ساته."

موږ هره ورځ په یوه وخت کې هم لاریون کاوه او هم جنګېدلو. کمیسار مائو حتا د دې وخت هم نه لاره، چې یو غړپ اوبه وڅکي. زه اندېښمن وم. نو ما تل هڅه کوله، چې یو ترموز د ده لپاره واخلم. اکثرا به چې موږ یوه سیمه ونیوله او جنګي غنایم به مو لاس ته راغلل، خو کمیسار مائو به هېڅ څه نه اخیستل. ده به تل هغه څه چې ترلاسه کړل، خپلو تیټ پوړو او یا روغتون ته لېږل. د ۱۹۵۱ په ژمي کې، کله چې موږ چیان په کیانګسي کې ونیوه، ما هلته د سیمې دیکتاتور په خونه کې، کوم چې تښولی وو، یو ترموز وموندہ. زه د طالع له دې وړې توټې څخه خورا خوښ وم، خو ډارېدم، چې کمیسار مائو به خبر شي. د مارش په بهیر کې ما له بل چا وغوښتل، چې زما لپاره یې له ځانه سره وېسي، تر څو دی په دې هکله خبر نشي. په هغه ترموز سره زه تل توانمن وم، چې د ده لپاره څه ګرمې اوبه تیارې وساتم، خو لا هم ګرانه وه، چې د ده لپاره چټکه ډوډې برابره کړم. د ده وړې کاسې کې خورا ډېرې وریژې نه ځایېدې. د شپې ډوډۍ لپاره کافي وه، خو په مارش کې ډېره په درد نه لږېدله. اکثرا موږ تر جګړې ورسته سم لاسي په مارش پیل کاوه. وروسته به چې موږ کله دمه کوله، خپله ډوډۍ مو خوړله، کمیسار مائو به لا هم خپل "ساندویچ" خوړلو.

د ۱۹۳۱ په نومبر کې د کارګرانو او بزګرانو د مرکزي دیموکراتیک حکومت بنسټ کېښودل شو او دی د جمهوریت صدر وټاکل شو. همدا وخت وو، چې موږ پیل وکړ، چې دی د کمیسار پر ځای صدر مائو وبلو. خو ده لا هم له وړې کاسې څخه د ډوډې لپاره

کار اخيستلو. يوازې د ۱۹۳۴م د فبرورئ ماشت وه، کله چې موږ چنګچو، فوکين ونيول، نو زه بريالی شوم، چې واقعا د ډوډئ يو درې پوړه رنګين لوښی د ده د خوړو لپاره وموندم.

# د لېدلوکتلو يو کور

هرکله به چې موږ يوه سيمه او يا ښارګوټی ونيوه، صدر مائو به سيمه ايزې دولتي ادارې ته بل ځوک لېږل او يا به په خپله تللو، تر څو د غليم اسناد او آرشيف لاس ته راوړي، او بيا به سيمه ايز پوستنځي ته تللو، چې ورځپاڼې او مجلې واخلي. اکثرن موږ خالي لاسونه تللو او بېرته به د کتابونو او مجلو په بنډلونو بار را تللو. ماښام به صدر مائو په سره پنسل سره په نښه کولې، په دې توګه موږ کولی شوای هغه څه چې ضرور وو، سره وتړو او وساتو.

يوه ورځ موږ د کيانګسي د هسينفنګ سيمې ته راغلو. مو پخوا هم ډېر ځله هلته وو، نو سيمه ايزو خلکو سور پوځ پېژانده. ټولې

هتې خلاصې وې او ډېر خلک راووتل، تر څو زموږ هرکلی وکړي.
همدا چې موږ په خپل ټاکلي ځای کې هستوګن شوو، صدر مائو ماته نارې کړې: "چن چنګ ـ فنګه! پوستنځي ته!"

هغه وخت ما فکر کاوه، چې پوستنځی یوازې د کتابونو د پلورلو او اخیستلو ځای وو.

کله چې موږ هلته ورسېدو، صدر مائو د کتابونو او ورځپاڼو په ډېریو کې سر شو. کله به ده یو راواخیست او ما ته یې په لاس کې راکړ. موږ د هغه څه لپاره، چې پکار مو وو، پیسې ورکړې او کله چې زه د اخیستل شویو په ترلو بوخت وم، ما دی وپوښته: "صدر مائو، یو پوستنځی څه کارونه کوي؟"

"اوه، دوی ډېر څه کوي،" ده ځواب راکړ. "دوی لیکونه او ورځپاڼې رسوي؛ ټېلیفون او ټېلیګرام کوي. که ته غواړې کور ته لیک ولیږې، دوی یې ستا لپاره لیږي."

که زه لیک ولیکم، دوی به یې په ټوله لار زما لپاره کور ته ورسوي؟ زه حیران وم.

کله چې موږ پوستنځی خوشې کړ، دې سوچ زما فکر مشغول کړ. ما فکر وکړ، چې دا لویه خبره ده. زه اوس د دوو او درو کلو لپاره کور ته تلی نه وم؛ زه نه پوهېدم، چې پلار مې څنګه وو، او آیا دی به لا ژوندی وو... ډېرې پوښتنې مې په سر کې تېرې شوې. دا به ښه وې، که زه وکولی شم کور ته لیک ولیږم!

کله چې موږ خپل هستوګنځي ته بېرته راغلو. ما کتابونه او ورځپاڼې ښکته کړلې او صدر مائو ته مې ډېوه ولګوله، ده سملاسي په لوستلو پیل وکړ. زما لپاره د خوړلو وخت وو، خو ما پوستنځي له سره نه شو ایستلی. ما په رڼو سترګو خوب لېدل پیل کړل.

"څه پېښ دي؟" صدر مائو زه وپوښتلم، زما کړېدلې بڼه یې چې وکتله.

"صدر مائو،" ما وویل، "دوی واقعا کولی شي، زما لیک کورته راته ولیږي؟"

"څوک دی مطلب دی؟" ده وپوښتل.
"پوستنځی."
"یقینا دوی کولی شي. ستاسو کور په شوروي* ساحو کې دی.
ده هغه څه چې زما په فکر کې وو، اټکلول.
"ته غواړې کور ته یو لیک ولیږې؟ " ده وپوښتم.
ما سر وخوځاوه او په ټینګ غږ مې وویل، "زه غواړم کور ته یو لیک ولیکم، خو... "
"ته لا هم هغه نشې لیکلی! " صدر مائو زما جمله زما لپاره بشپړه کړه. "راځه زه به یې ستا لپاره ولیکم."
زه د دې وړاندیز لپاره خورا خوښ وم. له بله پلوه زه په سادګۍ سره مزاحم وم، ولې چې زه پوهېدم، چې دی هومره بوخت وو، او دا به د ده ارزښتناکه وخت ونیسي. خو دی په تشویقولو لګیا شو:
" پلار ته دې څه غواړې چې ووایې؟" کله چې ده خبرې کولې، ورځپاڼه یې یوې خوا ته وخوځوله او د لیک کاغذ او د لیکلو برش یې راواخیست.
"زه... " زه مې پلار ته څه ووایم؟ ما لږکې آیډیا هم نه لرله، نو ما وویل:
"صدر مائو، ته هغه څه، چې ته یې ښه بولې، ولیکه. په هره توګه زه غواړم ووایم، چې په سره پوځ کې هر څه سم دي. زه له تا سره هر څه ښه احساسوم. ډېر ډېر ښه. ټول همدا دي!"
ده زما د کور پته او زما د پلار نوم راواخیستل. بیا نو زه لاړم، تر څو ډوډۍ راوړم. کله چې زه له ډوډۍ سره بېرته راوګرځېدم، صدر مائو په ژور فکر کې ډوب وو، غومبورې یې په یوه لاس کې او برش یې په بل کې. زه پوهېدم، چې دا وړ نه وه، چې له ده څخه مې هغه شیبه غوښتلي وای، چې ډوډۍ وخوري، نو ما کراره د وریژو لوښی د مېز په سر کېښود او ووتلم.

---

* آزادې شوې سیمې هغه مهال په شوروي ساحو یادېدلې.

ما ځان د واښو په نرم کټ وغزاوه. زه په منونکي تصور کې ژور ډوب او ویده شوم. زه له یوه اړخه بل اړخ ته تاوېدم، د ده د خواخوږيو په هکله مې سوچ کاوه. زه، د یوه ببوزلي بزګر زوی، خپل پوځ سره یوځای شوم او د جمهوريت د صدر د باډیګارد دنده مې لاس ته راوړه. (په هغه وخت کې زه نور د ده ناظم نه وم، خو باډیګارد.) او اوس دی صدر مائو په خپله زما لپاره یو لیک لیکي. په تېرو لړو کلونو کې صدر مائو زما لپاره د پلار حیثیت موندلی وو، زما د ورځني ژوند او روزنې سره یې مینه ښودله. زه به هېڅکله داسې یو ښوونکی له یاده و نه باسم. کله چې ما په دې هکله سوچ کاوه، اوښکې به مې په غومبورو رارواني شوې او د وښو نالي ته به و څڅېدلې. شپه خورا کراره وه. زه ووتلم. د صدر مائو په کوټه کې یوه رڼا ښکارېدله. ده لا کار کاوه.

راتلونکي سهار، کله مې چې سبناری(ناشتا) وروړلو، صدر مائو هغه لیک راکړ، چې ده ما ته لیکلی وو.

"لیک دغه دی. غواړې چې ویې ګورې، چې هر څه سم دي؟"

په ډېرې شرم سره، ما د دوړی لوښی کېښوده، لیک مې په دوو لاسو راواخیست او وپوښتېدم، "ښکاره ده، چې سم به وي!"

"پوستنځي ته لاړ شه او ویې لېږه،" صدر مائو وويل.

"ستاسو سبناری تیار دی،" ما ځواب ورکړ.

"دلته یې کېږده. ژر لاړ شه!"

په عادي توګه مې سلامي وکړه او له دفتره ووتلم، په سختی سره پوهېدم، چط څه مې کول.

کله چې راستون شوم، صدر مائو ما ته وکتل. "اوس، هوسا احساس کوې؟" ده وويل. "لا هم د کور په سوچ کې یې؟"

"نه،" زه مسک شوم. "زه به لاړ نه شم، ان ته هم که ما ته امر وکړې!"

د ۱۹۹۳م په مني کې، کله چې زموږ پوځونو چینګ چنګفو باندې یرغل وکړ، صدر مائو او د مرکزي کمیټې ځیني نور غړي

کوانګ چنګ ته راورسېدل. دا زمونږ د کور سيمې ته نږدې، نينګتو سره وو، او ناڅاپه د کور ته تګ آيډيا زما په سر کې راپيدا شوه. په هغه ورځ ما صدر مائو ته وويل:
"زه په کوانګ چنګ کې ښه بلد يم. که زه بيرته کور ته لاړ شم او خپله کورنۍ وګورم. زه نه پوهېږم چې څنګه هلته لاړ شم!"
صدر مائو مسک شو. "بېړه مه کوه، ساده عملي يې کړه! برسېره پر دې کله چې نږدې شوو، موږ به ستا کور ته لاړ شو."
"واقعاً؟" ما وپوښتل. زه دومره خوشال وم، چې زړه مې ستوني ته راټوپ وهل.
دوې يا درې ورځې وروسته هغه سيمې ته راورسېدلو، چې ما ډېره اوږده موده پخوا خوشې کړې وه. د ماسپښين د دوو بجو شا او خوا کې وه. صدر مائو قومندان لي فو- چون، د کيانګسي ايالتي ګوندي سکرتر، سره پاته شو. کله چې موږ ځای پر ځای شوو، ده څوک ما پسې راولېږل او ويې پوښتم، "غواړې کور ته لاړشې؟"
"...هو"
"ښه ده!" ده ځواب راکړ. "زه به په دغو لږو ورځو کې ډېرې کتنې ولرم. ته کور ته لاړ شه او هر څه وګوره." ده لنډه دمه وکړه او ما ته يې په پوښتونکې توګه وکتل: "څومره ورځې دې په کار دي؟"
زما مخ سور شو. ما نشو کولای د ده پوښتنې ته ښه ځواب ورکړم. خيل لوی لاسونه يې وغزول، ده وپوښتل: "لس ورځې؟ څنګه دي؟"
"ښې دي؟" ما وويل، او غوښتل مې ژر لاړ شم. خو هغه دم مې چې غوښتل لاړ شم، ناڅاپه مې سوچ وکړ: که زه لاړ شم، څوک به د ده د خوراک او څښاک غم وخوري؟ "نه، صدره. زه به لاړ نشم" ما ځرګنده کړه.
"څه پېښ دي؟" صدر مائو ما ته په پلټونکې توګه وکتل.
"که زه کور ته لاړ شم، څوک به ستاسو ډوډې تياروي؟"

ده وخندل، او ما ته راغی، خپل دواړه لاسونه يې زما په اوږو کېښول، بيايې په خواخوږۍ سره وويل، "ځه او خلک دې وګوره او بيا به ته تر دې لا ښه کار وکړې، کله چې راستون شوې. ستا کورنې اوس په شوروي ساحه کې ده." ده دمه وکړه او ادامه يې ورکړه: "بېرته دلته مه راځه. سيخ چنګ ـ تينګ ته لاړ شه او ته به ما هلته ومونديې."

ما سر وخوځاوه، خو زه لا هم نازړه وم، چې لاړ شم. زما په زړه کې ستونزه وه.

زه د کور په لار په لوی هيجان کې ډوب وم. کور... صدر... صدر... کور. د وريژو پټي داسې ښايسته وو، لکه ګلان په لمر لوېدو کې. کور، زما کور اوس په شوروي ساحې کې وو. له دې نه بل ښه ځای پيدا کېدای شو؟ بيا ما د صدر مائو په هکله سوچ وکړو. دی د بېوزلو خلکو بشپړ لوی لارښود وو. آيا تر ده ښه سړی پيدا کېدی شي؟

ډېره تياره خپره شوې وه، کله چې زه د اوبو هغه واړه بهير ته راورسېدم، چېرته چې ما يوځل رمه څرولو ته راوستې وه. لينګناو، هغه کلی، چې زه پکې زېږېدلی وم، د مخامخ غونډۍ په سر ښکارېده.

زه په ډکه جاله کې کېناستم. زما يونيفرم او تومانچې چې ما له ځانه سره وړله، بايد د سيمې خلکو پاملرنه، چې ما ته يې کتل، جلب کړې وي، يو بل ته پوسېدل.

"اوبخښئ، " ما وويل، "تاسو چنګ تای ـ هسهيانګ(زما د پلار نوم) په کلي کې پېژنئ؟"

يوې شېبې لپاره ټول چپ وو. ما په مشوشېدو پيل وکړ. بيا يو غږ راغی:

"هو، هلته يو سړی د چن ـ هسيانګ په نامه شته دی."

"اوه، ته ... يې!" يو د منځني عمر خاوند سړي ما ته زما د ماشوموالي د نامه په اخيستو سره غږ وکړ.



"پلار ته دې څه غواړې ووايې؟" (۱۶م مخ)

"هو، هو، زه هغه يم!" زه په هيجان سره وژړېدم. دی زما زوړ آشنا وو. ما ټوپ وکړ، لکه په جاله کې چې نه وم. د يخ په ماتېدو سره ټوله جاله په خوځېدو راغله. ټول خلک يوځای غړېدل، ټول مايل وو، چې ما ته نکل وکړي: چې ځنګه کلی سور شو، ځنګه

خانان او سيمه ايز ديکتاتوران راوپرځول شول، ځنګه زمکه وويشل شوه او زما پلار خپله برخه ترلاسه کړله...
کله چې مخامخ غونډی ته ورسېدو، ټول جمعيت تر کوره پورې زما ملګرتيا وکړه. په هغه ماښام کې داسې ښکارېده، چې زموږ په کور کې د پرګنو جرګه روانه ده. ټول کلی هلته وو، د کلي شورا د صدر په ګډون. دوی زه پوښتلم، چې ورته ووايم، چې په سره پوځ کې مې څه خوښېږي. کله چې ما خبرې کولې، زما ناست و او موسېدلو. دا لمړی ځل وو، چې ما دی په داسې راضي خندلو لېده.
کله چې دوی واورېدل، چې زه د صدر مائو باډيګارډ وم، دوی لا ډېره مينه پيدا کړه او ټينګار يې کاوه، چې زه دوی ته نور ډېر څه د صدر په هکله ووايم.
"صدر مائو يوازې موږ عادي خلکو په شان دی،" ما وويل.
دوی له دې سره موافق نه وو او ټينګار يې کاوه، چې زه دوی ته د هغه په هکله ډېر څه ووايم. هغه شيبه موږ تر هغه پورې وغږېدو، چې چرګ دوه ځلې بانګونه ووهل.
په نهمه ورځ زه د چنګتينګ په لور ووتلم، تر څو صدر مائو ومومم. د پلټون په ترخ کې را ته وويل شول، چې دی په مرکزي روغتون کې دی. زه اندېښمن شوم. دی ناروغ وو؟ زه په چټکتيا سره روغتون ته لاړم، خو دی بشپړ روغ وو. هېڅ دليل موجود نه وو، چې سړی اندېښمن واوسي.
دی خوښ وو، چې زه يې بېرته وکتلم. ما ده ته د موميليو او تيکوا[*] تحفه ورکړه، چې پلار مې ده ته رالېږلې وه. ده دا تحفې په خندې سره ومنلې او ويې پوښتل، "کورنۍ دې ځنګه ده؟"
"هرڅه ښه دي!" ما خپل هيجان پټولی نشول او ده ته مې کېسه وکړه. "اوس زموږ په کلي کې يوه شورا ده؛ ټول خانان او سيمه ايز

---

* يوه پيازډوله شاني ميوه

دېکتاتوران راپرځول شوي دي. زما کورنۍ ته درې کوټې او شپاړس مو* ځمکه ورکړې شوې ده."

صدر مائو په ازمويونکې توګه سر وخوځاوه او ويې ويل، "ښه دي!" بيايې وپوښتل، "ستاسو دکلي د جرګې صدر موږ سړی دی او که ښځه؟"

"يو ښځه سړی، چې د هغه کورنۍ هم پخوا زما د کورنۍ په شان کړېدلې وه!"

ده غوښتل د کلي مناسباتو په هکله ډېر پوه شي، او په پای کې، نيم جدي، نيم په ټوکو سره يې وپوښتل: "پلار ستا لپاره مور موندلې ده؟"

ده ښه حافظه لرله. دا درې کاله پخوا وو، کله چې ما دی لمړي ځل لپاره وليده او ما ده ته ويلي وو، چې ما خپله مور له لاسه ورکړې ده.

"هو. ګاونډيانو ما ته وويل، چې دا په نوي دود سره د آزاد خوښون واده وو." صدر مائو په رضايت سره وخندل.

---

* يو مو له ۱/۶ ايکر (acre)سره سم دی

# لومړۍ ګام په اوږده مارش کې

وروسته له دې چې د ۱۹۵۴م دوبې په سر کې ده په شچویه کې د مالي او اقتصادي پوښتنو په هکله کنفرانس مشري په غاړه لرله، صدر مائو د کیانګسي ایالت د جویچین سیمې وویانګ ښار ـ په مرکزي شوروي ساحه کې د تولید نمونه علاقې ـ ته لاړو، تر څو د کرهنې د شرایطو په هکله څېړني په غاړه واخلي. له هغه ځایه دی د هویچانګ سیمې، د کوانګتونګ ـ کیانګسي ایالتي ګوندي کمیټې زړې ـ ته لاړ، چېرې چې دی د څه مودې لپاره پاته شو. وروسته دی یوتو خواته لاړ. په اګوست کې دی جوچین ته نږدې کائوپینائو ـ هغه سیمې ته چې دی هغه وخت پکې مقرر شوي وو، بېرته راستون شو. د ډېرو میاشتو لپاره دی خورا ډېر بوخت وو، په سیمو کې یې د مسئولو کدرونو رابلل شویو میټینګونو کې برخه اخیستله او یا یې په کلو کې څېړنې کولې.

حالت، کله چې غلیم د محاصرې پنځم یرغل پیل کړی وو، خطریز شوی وو. غلیم توله ورځ غړمبېدلې یرغلونه پلانول، بمې یې اچولې او نني جنایاتونه یې ځواکمن کول.
د هغو ورځو په ترڅ کې صدر مائو له همدې کبله ډېر بوخت وو. ده د غونډۍ په لمن کې د ملګرې هسیه چوبه ـ تسای سره یو ځای په یوه لوی عبادتځي کې ژوند کاوه. د ورځې په موکه ده له غونډۍ څخه درې لي ښکته په پښو مزل را کاوه، تر څو د پوځې غونډو د میټنګونو څارنه وکړي. کله به چې بېرته راوګرځېده، تر ناوخته پورې به یې لیکنې کولې. ډېر وختونه به یې زه د شپې ناوخته ولیږلم، تر څو هغه مطالب چې ده لیکلي وو، معاون صدر چو ېن – لای او نورو رهبرانو ته ورسوم. زه نه پوهېدم، چې دا مانوسکرېپتونه څه وو، تر هغه چې وروسته به د رسالو په توګه په سرو او شنو کاغذونو باندې خپاره شول. هغه د ګوریلایي جګړې د تاکتیکونو په هکله لیکل شوي وو.
هر ورځ خلک هغه غونډۍ ته، چې موږ پکې اوسېدو، راتلل. صدر ډېر ښه نه وو. اکثرا ده څه نه خوړل او لږ بیده کېده. د زیات اندازه وزن له لاسه ورکړ، او موږ باډیګاردان تشویشي شوو. خو موږ څه کولی شوای؟ هر وخت موږ وړاندیز کاوه، چې دی باید استراحت وکړي، ده به د سندونو ډېرۍ ته اشاره کوله او لکه زموږ سره چې مشوره کوي، ویل به یې: "کله مې چې دا ختم کړل، نو ژر تر ژره به استراحت وکړم. دا به سمه وي؟" په هره توګه دې سندونو، چې د ثابت بهیر په شان راروان وو، پای نه درلود. موږ پیل وکړ، چې ده ته د ډاکټر په فکر شو.
یو ماسخوتن د شپې تر ډوډۍ وروسته، کله چې صدر د عبادتګاه مخې ته په درپیه(زینه) باندې، په فکر کې ډوب، ولاړ وو، ډایرېکټر یوآن فو-چینګ د مرکزي روغتون ملګری د عمومي چارو له دفتر څخه راغی. زه د دوی په لیدو سره خورا خوښ وم او زه متیقن وم، چې د دوی کتنه به صدر لپاره د ډاکټر ګمارل تر سره

کړي. زه پوهېدم، هر څوک چې ناروغ وي، هر څوک هم چې وي، باید د ډاکټر امر ته غاړه کېږدي.

وروسته له دې، چې دوی لاسونه سره ورکړل، په خبرو يې پيل وکړ. زه خوا ته تيار ودرېدم – که موکه اجازه راکړي – چې په يو يا دوه تکي ذکر کړم، تر څو د صدر لپاره يو ښه ډاکټر داده کړم.

دايرکټر يوآن لمړی د مهتر موضوع يې را منځ ته کړه. ډاکټر څنګه کېږي؟ زه بې صبره کېدلم. وروسته تر اوږدو خبرو څخه وو، چې يوآن وويل:

"صدره، موږ ستا لپاره يو ښه ډاکټر موندلی دی. دی به له تاسو سره روان شي."

ما نږدې ټاپ کړي وای. اوس به يو څه وشي، ما بړچ وهل، "ډېر ښه!". "ژر يې صدر ته راولېږی!"

بيا راپه ياد شول، چې زه نبايد د مشرانو په وړاندې خبرې وکړم، او زه وارخطا شوم.

صدر ما ته وکتل او بيا يې دايرکټر يوآن او د ده ملګرو ته. سګرټ يې ولګاوه، ده ورو پيل وکړ: "زه فکر نه کوم، چې ډاکټر ضرور وي. يو نرس کافي دی – يوازې د تبې معلومول او د پېچکارۍ راکول دی ..."

"صدره،" يوآن ده ته ماتل نه شو چې خبرې پای ته ورسوي. "ستا د اوسني حالت د قضاوت پر بنسټ، زه فکر کوم، بهتره ده چې يو ډاکټر ولرې، او موږ خو يو تيار لرو ..."

"نه،" صدر مائو د ده خبره پرې کړه. "پوځ ډاکټرانو ته اړتيا لري. موږ خورا لږ ډاکټران لرو. څنګه زه کولی شم، يو ډاکټر يواز ځان ته ونيسم؟" بيا دی مسک شو، "زما صحت بد نه دی. يوازې نرس به کافي نه وي؟"

دايرکټر يوآن او نورو ملګر غوښتل چې نور څه هم ووايي. خو د صدر په طبيعت پوهېدل او ټينګار يې ونه کړ. دوی سملاسي ستانه شول.

لږې ورځې وروسته یو ځوان سړی د اتلسو کلو په خوا کې، چې په سره صلیب سره ټاپه شوې چانټه یې وړله، موږ ته راغی. هغه چونګ فو-چنګ وو، یو طبي چوپړ، هغه ځوک، چې د صدر سره باید د ټول اوږده مارش په بهیر کې هملاری وای.
د هغو موکه موږ له صدر مائو څخه امر واخیست، ځانونه ساده مجهز کړو او چمتو شو، چې مرچې ته لاړ شو (موږ نه پوهېدو، چې دا به یو اوږد مارش د شمالي شنسي په لور وي). موږ بادیګارډانو ته یو څه حیرانوونکي وه. ولې د ساده تجهیزاتو لپاره امر دغه وخت دومره جدي وو؟ په خپله صدر پخپله هم حتا هغه ۹ جیب لونګي چانټه له ځانه سره وانه خیستله. د ده ټول تجهیزات له دو کمبلو څخه عبارت وو، یو کتان توکړ، یوه مومجامه، یو پخوانی کوټ، یوه ماته چتري او یو بنډل د کتابونو.
"موږ مورچل ته د جګړې لپاره ځو!" دا په ټولو خواوو کې د ژوندي بحث موضوع وه.
د سپتمبر په پای کې له کاؤپیناؤ څخه د صدر مائو سره د یوتو په لور روان شوو.
د ۱۳۹۴م کال د اکتوبر ۱۸مه د چین په انقلاب کې یوه نه هېرېدونکي نېټه ده. څه د پاسه ۵ بجې د مازدیګر، د صدر مائو له دلې څخه موږ د شلو کسانو په شا او خوا کې یوتو خوشې کړ. د په اوږده مارش کې لمړی اړکی وو.
د یوتو له شمالي دروازې څخه په تېرېدو سره په لویدیز لور، موږ د یوه سیند اړخ ته راورسېدو، چې خپله لار مو د هغه په څنډه د بهیر په مخامخ لوري ونیوله. خړو اوبو ځک وهلو او غړمبېدلې. لمرلوېدو سوړ باد راوړ. صدر بالاپوش نه وو اغوستی. هغه یوازې خړ یونیفورم اچولی او د سره یوځ خولۍ په سر کړې وه. تر ټولو وړاندې په کلکو ګامونو سره مخکې روان وو.
کله چې موږ ۲۰ لي له یوتو څخه لېرې یوه ټکې ته راورسېدلو، د ډزو غږ مو واورېده او د ډېوو رڼا مو په څه واټن کې ولېدله. طبي

مسئول چونګ فو-چنګ او زه رهي شوو، چې ځان په حالت پوه کړو.
"هغه زموږ لښکرې دي،" صدر مائو وويل.
زموږ لښکرې؟ ما سوچ وکړ. موږ يو عسکر مو هم ونه ليدلو، کله چې يوتو ځخه روان شوو. څنګه کېداى شي په هغه ځاى کې دومره ډېر ناڅاپه راپيدا شي؟ زه اريان وم.
کله چې موږ د سيند غاړې ته نږدې شوو، موږ د سرو لښکرو خورا لوى شمېر د سيند دواړو غاړو ته وليده. په ټوله سيمه کې شور بګټ جوړ وو، زرګونو ډېوې وړاندې وروسته تللې، او بدلې غږېدلې، خنداوې وې، او له يوه پايه تر بله پورې ډزې کېدې. ببرې د پراخ سيند په لنډو اچول شوې وې، تر څو يو پل جوړ کړي او او لښکرې د سيند له منځه په دوامدار بهير سره پورې وزي.
زه خوشحال وم او صدر مائو ته مې وروګرځاستل. "څنګه کېداى شي، چې موږ دومره ډېرې لښکرې لرو؟" ما په جګ غږ وپوښتل. ده وخندل. "دا ټول نه دي،" ده ژر وويل. "ډېر نور د دوى نه مخکې لاړ دي!"
موږ د صدر مائو تر شا ببړى ته وروختلو. د عسکرو ګڼ شمېر پر آسانو سپاره، په پښو، جواليانو او سيمه ايزو خلکو لښکرو ته، چې د سيند له منځه په متداوم بهير سره تېرېدل، شيان لېږل. صدر ودرېدو، تر څو نورو ته لار ورکړي.
د نيمې شپې پر مهال مو يو تذکره وليدله، چې زخمي عسکر يې په مقابل لوري راوړلو. د سيمې خلک په سرک باند سخت په غوسه وو.
"کوپې او هسينتين به ژر تر ژره فتح شي!" دوى موږ ته وويل.
صدر مائو تذکرې ته ورغى او او مره يې لږه کش کړه، ترڅو زخمي سړى پټ کړي. "ستاسو زخم ډېر وران دى، ملګريه؟" ده په مهربانۍ سره وپوښتل.

په تذکرې باندې سرې صدر مائو ته د ډېوې په رڼا کې وکتل. دی په ستونزمنه توګه وخوځېده. "نه، ډېر وران نه دی" ده ځواب ورکړ. "زه به ډېر ژر جبهې ته راوګرځم!"

کله چې تذکره تېره شوه، صدر مائو، ډوب په سوچ کې، ده ته یې زیر زیر کتل.

لږ مخکې له ورځې ماتېدو څخه، د سیمه ایزو خلکو یو جشن، چې هر یوه یې یوه بوجې په شا وړله، زموږ لار را پرې کړه.

"تاسو د کوم ځای یاست؟" زه ورغلم، چې دوی وپوښتم.

"کوپي او هسینتین فتحه شول!" دوی په یوه غږ وویل.

"تاسو هلته څه ترلاسه کړل؟"

"مالګه! دا د طلا په څېر ارزښتناکه ده!"

دوی د زړې شوروي سیمې مشران وو او دوی له کوپي او هسینتین څخه مالګه بیرته وړله. هلته په شوروي سیمو کې د مالګې لپاره شدید ضرورت وو.

صدر ماو دوی ته وروخوځېده. "دا وخت تاسو نباید د مالګې له امله وارخطا واوسی، که څنګه؟" ده وویل.

ښکته، د خلکو ډله په سړک باندې ښکاربدله، وړاندې وروسته یې خپې وهلې. په دېوالونو، په ونو او هر چېرې په کلو کې پوسترونه ښخ وو، چې زموږ د برې اعلان یې کاوه: "زموږ لښکرو کوپي او هسینتین یې فتح کړ!" او "زموږ د لمړې لوی برې جشن ونیسی!"



ستاسو زخم خورا بد دی، ملګریه؟

# د میاؤ له سیمې څخه تېرېدل

د غلیم د څلورمې محاصرې کیلې - د هسیانګ سیند - په ماتولو سره، سور پوځ د ۱۹۳۴ کال په نومبر کې د کوانګسی او هونان په غاړه لویلارې ته ورسېدو. یو څه تیاره وه، چې زموږ ګوند هلته ورسېدو، موږ تل د شپې له خوا سفرر کاوه، تر څو دښمن ته د ښکاره کېدو څخه مخ نیوی وکړو. ښکته موږ ځانونه په یوه نري غرني کلي بیاموندل.

موږ په تولو لار مارش او جګړه کوله. صدر ماؤ یوه ګوتې سوکړک هم نه لرلو. همدا چې لښکرو یوه تفریح کوله، بادیګارد ملګری تسپنګ هسهین-چې او زه به تللو، چې یوڅه خواړو پسې سر شو. دا یو وړوکی کلی ؤو او اوسیدونکي یې هم خورا بېوزلي وو. یوازینی شی، چې موږ یې د اخیستلو توان درلوده، څه شل کتی تیکوا خوړه وو. ما هغه پاخه کړل او صدر ماؤ ته مې ورووړل. دی په

وږه کرسۍ ناسته ؤو، تر ده چاپېره باډيګارډانو او مهترانو سره يې خبرې اترې کولې. "د هسيانګ له سينده پورېوتل يو لوی بری ؤو!" ده وويل. په هره توګه، تېره شپه د هسيانګ له سيند څخه تېرېدل اصلی مقصد نه ؤو.

تسېنګ هسين-چي او ما خاورين ديګونه مو راوړل او د شپې ډوډۍ د تياروالي اعلان مو وکړ. موږ صدر ماۍو ته ورغلو او ومو پوښته، چې خپله ډوډۍ غواړي او که نه. يو تيکوا يې واخيست او په خوړلو يې پيل وکړ. بيا ده وويل:

"موږ به ژر هغه سيمې ته چې د مياؤ خلک په کې اوسي، ورسيږو!"

د مياؤ سيمه! دا نوي څه وو. زما يادېږي، چې يوه ښوونکي په کوم ټولګي کې د سياسي څېړنو په بهير کې يو ځل موږ ته ويلي وو، چې د مياؤ خلک يو ملی لږکی دی، چې له کلتوري او اقتصادي پلوه وروسته پاتې دي، چې د دوی لاري او دودونه زموږ سره توپير لري، او دا چې دوی لا هم ډېر په بې رحمۍ سره د سپين پوځ* له خوا تر ستم لاندې وو. خو دوی د پټ راز په شان ښکارېدل.

"دوی زموږ د حان خلکو په شان دي،" صدر ادامه ورکړه. "دوی هم غواړي د سپين پوځ د ظلم پر ضد انقلابي خوځښت کې ګډون وکړي. نو دوی زموږ ښه ورونه دي."

صدر مائو موږ ته په مياؤ خلکو باندې د سپين پوځ ظلمونو په هکله په ډېر ډيټيل سره خبرې وکړې، د دوی د دودونو، عادتونو، مذهبي عقايدو او نورو شيانو په هکله. ده موږ ته توصيه وکړه، چې موږ د مياؤ سيمې ته په ننوتو سره د پرګنو په منځ کې په خپلو اصولو باندې بايد لا نور ټينګ واوسو. د موږ ته د بې ځايه ګرځېدو او هغو شيانو ته، چې په موږ پورې اړه نه لري، لاس وهلو په هکله اخطار راکړ. ده وويل چې ښځې د مياؤ په سيمه کې هم د شوروي

---

* د کومينګ تانګ او جګړه مارو پوځونه

سیمو د ښځو سره توپیر لري، ځوک چې په سرو سرتېرو کې د ورور په توګه شاملیږي، او معلومه ده چې په همدې سترګو ورته کتل کیږي. د میاؤ ښځې له داسې مناسباتو سره آشنایي نه لرله. دوی لا فیوډالي افکار لرل.

د صدر خبرو ته په غوږ کېدو سره موږ هک پک پاته شوو. آیا دا ممنوعه ساحه وه، چې موږ ورننوتلو؟

موږ باید ژرنګه چلند وکړو، کله مو چې خیمې ووهلې او ضرورت پېښ شي، چې قرض وکړو؟ ما له صدر مائو ځخه وپوښتل، چې دا به سم وي، چې د دړو لوحې* د ده لپاره راښکته کړو، چې خوب پرې وکړي، لکه چې معمولاً مو داسې کول، چېرې به چې د شپې لپاره پاتې شوو.

"نه، داسې نه شي کېدای!" ده په ټینګار سره وویل. بیا یې په خندا سره وپوښتل: "تا ته مې اخطار درنکړ، چط هغه شیانو ته، چې په موږ پورې اړه نلري، لاس ونرورې؟"

"په څه باندې به وېدیږې نو؟"

"هرڅه سره چې غرض کوی، خو له دړو سره به یې کار نه لری!"

زه لږ څه ناراضه وم او نور مې د ویلو لپاره څه نلرل. ما له ځانه سره سوچ وکړ، چې د میاؤ خلک باید له موږ هانانو سره ډېر توپیر ولري. دو باید ډېر بې انصافه وي. دقیقا همدا شیبه یو چا په خرارو پیل وکړ. دا هوانګ یینګ-هو، جوالي ؤو. دی د تیکوا پاتې برخه په لاس کې د صدر په څنګ کې ویده شوی ؤو.

---

* دا د بزګرانو دود ؤو، چې سره پوځ ته یې اجازه ورکوله، چې د دوی دړو تختې راښکته کړي، د کټ پرځای کار ترې واخلي او سبا سهار یې بېرته وموښلوي.

صدر مائو په ټوکو وویل، "دا بیخي سمه ده" ده وویيل. "دا هغه کار دی، چې موږ ټول یې باید د شفتي ډوډۍ ځخه وروسته باید وکړو. نه شپه مارش په مخه لړو."

که څه هم زه بد وږده شوی وم، خو بیا هم ویښ پاتې شوم. پرته له هوانګ یین-هو ځخه ټول ویښ وو. سپېدې چې د ورځې په رڼایي بدلي شوې، د غلیم الوتکې غورېدلې او د مرګ خبرونه یې راوړل او وخت په وخت یې بمې غورځولې، کورونه یې وانول او وریژې یې په پټیو کې له بېخه اړولې.

په همدغه ماښام مو خپل مارش ته ادامه ورکړه. د نومبر- شپې سختې سړې وې او سپوږمۍ هم نه وه. ټوله شپه مو په غرونو کې سفر وکړ، یوه شېبه مخ پورته او بله مخ کارته. کله به ستغه ډډه مخ پورته ختلو او په بله خوا کې به خویدلو. کله به چې لوړې ځوکې ته ورسېدلو، آسمان به مو سیخ په سر ولاړ ؤو. بیا به صدر شا او خوا وکتل او مخکې له دې چې مخ په وړاندې وخوځېږي، اطمینان به یې حاصل کړ، چې ټول شته دي.

بل سپېده دم د یوه غره نه په راکوزېدو کې ګیر کړو. موږ ته مخامخ د یوه واړه غره په ډډه کې عجیبه شاني لرګین کورونه وو، چې مخکې له هغه مو کله هم نه وو لیدلي. هغه نه یوپوړیز او نه هم دوه پوړیز وو، بلکه لکه ټوکرې چې له هوا نه ځوړندې وي. صدر مائو موږ ته وویل، چې موږ د میاؤ په سیمه کې یوو.

لمر راوختو، کله چې موږ کلي ته راورسېدلو. د سهارني غبار په تنکي کېدو سره مو وکولای شول چې کورونه رانه وګورو. غره د کلي شاتنۍ دېوال جوړ کړی ؤو، چې په رښتیا سره کلي د هغه د ډډې تداوم په شان ښکارېده. په کلي کې د خنځیرانو غوجل او یا د پسونو رمې وې. یوه وړه ویاله د غره نه ښکته رابهېدله او دلته او هلته یې واړه ډنډونه جوړ کړي وو، لکه چې د کړکیو لاندې پراته وي.

د هغه کور کړکی، چې صدر په هغه کې شپه تېره کړه، د یوه لوی ډنډ په سر ؤو، چې غټ سري کارپ کبان پکې وو.

"راځی، چې څه کبان د صدر لپاره ونیسو!"، د صدر د باډیګارډ، وو چیح-چینګ نظر ؤو. طبیعی ده، چې دا یو ښه سوچ ؤو. خو څنګه مو دا جرات کولای شوی، وروسته له هغه څه چې صدر یوه ورځ مخکې موږ ته ویلي وو؟

موږ ټول چپ پاتې شوو.

"برسېره پر دې، د کور خاوند کېدای شي یو دیکتاتور وي،" وو چیح-چینګ خپله دریز څرګند کړ.

"زه فکر کوم، بیا به هم ښه وي، چې لمړی صدر وپوښتو،" هوانګ یینګ- هو ورو وویل. کله چې ما یو څه اوبه د صدر مائو کوټې ته ورووړلې، دی مې د استراحت په حال کې وموند. ما اوبه د یو مزرین مېز په سر کېښودلې او یوه شیبه ودرېدم او ځان نه مې پوښتل، چې څنګه پیل وکړم.

بالاخره مې یو لار وموندله، "صدره، تاسو وږي یاست؟"

"څه شی شته، چې سری یې وخوري؟"

ما چټک وویل: "اوه، هوا!"

صدر ما ته وکتل او ویې پوښتل: "څه دي؟"

ما یو څه اوبه واچولې، او داسې سرسبرن، خومره مې چې کولای شول، وویل، "کب، یو څه غټ کبان!"

صدر وپوښتل، چې "له کومه نه یې نیسې؟"

ما له کړکې نه ډنډ ته اشاره وکړه، "همدې ځای نه!"

صدر کړکې ته لاړو او ویې کتل. بیایې ما مخ ما ته راواړولو. ده په کرجنه توګه وویل: "داسې ژر دې هېرکړل، ما چې پرون څه درته ویلي وو؟"

ما سر ټیټ کړ او کرار مې وویل: "موږ پیسې ورکوو."

"دا به هم نه کوی!"

ما ټینګار وکړ، "یوازې یو څو په پیسو اخلو."

صدر راغی او زما تر څنګه کیناست، او د لږکیو خصوصیات او د دوی په اړوند زموږ سیاست یې تشریح کړ. "توپیر یې نشته، چې څومره هم د دوی پسونه او کبان غټ هم وي، باید لاس ورنه روږو"، ده وویل. "شاید دوی غواړي هغه د خپلو خدایانو لپاره قرباني کړي."
ده خپلې خبرې په دې سره ختمې کړې، چې زه باید نورو تولو ته هم ووایم، چې موږ هېڅکله باید په هغو شیانو ولګیږو، چې په دغو خلکو پورې اړه ولري، ان دا چې په پیسو یې هم واخلو.
ما وویل، همداسې به وکړم، او راووتلم. وو چینګ-چیح ښکاره وه، چې بهر زما خبر ته ماتل ؤو، زه مخامخ ده ته ورغلم. ده سم لاسي وپوښتل، چې پایله څه شوه.
ما پخ ځواب ورکړ: "صدر موافقه ونکړه."
"موږ روپۍ پرې کووا!"
"موږ د پیسو پرې کولو اجازه هم نلروا!" په غوږ کې مې ور کوکه کړه. "دا دسپلین دی، پوهیږې؟" بیا زه لاړم.
ماسپښین یوه ډله سړي، چې د هان خلکو کالي یې اغوستي او توپک یې لرل، راورسېدل. دوی وپوښتل، چې صدر چېرې دی.
په بېړه مې کرتي وتړله، ما دوی وپوښتل، چې له کومه نه راځي.
دوی له هغه څه چې ما تصور کاوه، ډېر ښه روزل شوي خلک وو. له دوی څخه یوه خبره واخیستله، "موږ د سیمي خلک یو"، په کوانګسي لهجې سره یې وویل. د ده په لهجه سړی په سختۍ پوهېده.
د سیمي خلک؟ ما فکر وکړ. بیا نو میاؤ باید واوسي. صدر د څه لپاره ګوري – او له توپکو سره؟
"د پیژندګلوۍ لیک لرئ؟" ما دوی وپوښتل.
"هو، هو" یوه غټ سړي یوه وړه توټه کاغذ له خپل جیب څخه راوویستلو.



ما صدر ته ورووړلو. ده د يوه سړک نقشه کتله. ما ورته وويل: "څوک راغلي او غواړي تا وګوري."
ده وپوښتل: "څوک دي؟"
"د سيمي ځينې خلک." ما ليک ورکړ. "دوی توپک لري!"
د هغه څه، چې په کاغذ ليکل شوي وو، له لوستلو وروسته صدر ماته مخ راواړولو، په ټول مخ يې خوشحالي لېکل شوې وه. "له دوی څخه هيله وکړه، چې راننوځي." بيا بهر ووتلو، چې خپل مېلمانه وګوري.
ما پردي د صدر کوټې ته بدرګه کړل و راوګرځېدم. زه لږ څه اريان وم. د دوی څه کار ؤو؟ ولې د صدر چلند له دوی سره دومره ملګريز وو؟
پردي د صدر په کوټه کې له ډېرې مودې لپاره پاتې شول. لمر تقريبان په غرغرو ؤو، چې دوی لاړل.
کله چې ما د شپې ډوډۍ ننه ورووړله، صدر لا هم د نقشې مخې ته درېدلی ؤو، چې اوس سره دايره ترې چاپېره شوې وه. ما وويل، "ډوډۍ دې خوره، صدره؟" او کاسې مې کرار په ځمکه کېښودې.
دی راتاو شو او خپل پنسل يې کېښود. "تا د نورو خلکو کبان دې نه دي نيولي، نيولي دې دي؟" ده په خندا سره وپوښتل.
ما بېرته وروخندل او سرمې وخوځاوه.
"صدره"، ما وپوښتل، "دا خلک څه کوي؟"
ده په وياړ سره وويل: "دوی مياؤي ملګري دي!"
زه پلټونکی وم، "د مياؤ خلک هم توپک لري؟"
صدر ماته نظر وکتل. ده وويل: "دوی مياؤي ګوريلايان دي – زموږ ملګري!"
ما غږ وکړ: "موږ په مياؤ خلکو کې ملګري لرو؟"
"موږ هر چېرې ملګري لرو او هر چېرې کمونيستان شته دی!" بيا يې سترګې و بربښېدې. ده په ټوکو وويل: "ته فکر کوې، چې موږ انقلاب انحصار کړی دی؟"

زه مسک شوم.

په همدغه ماښام مو خپل سفر ته ادامه ورکړه. ما وو چینګ-چیح ته خصوصي وویل: "پوهیږې، چې د میاؤ خلکو په منځ کې کمونیستان او ګوریلایان – زموږ ملګري شته دي؟"

"واقعا؟" وو شکمن ؤو.

# نوی کال د وو سیند په غاړه

د ۱۹۳۴م کال وروستې ورځ وه، کله چې د مرکزي سور پوځ د کوایچووژ ایالت د هوانګپینګ د ولایت هوچنګ سیمې ته ورسېده. موږ غوښتلو، چې د کال پای لپاره دلته خیمې ووهو.

هوچنګ یو ښار ؤو، چېرته چې جشن نېول شوی ؤو. یو ژوندی بازار یې لرلو. له هغه وخته مو چې جویچین خوشې کړی ؤو، دا تر ټولو غټ ځای ؤو.

همدا چې موږ راورسېدلو، صدر مائو د پوځي جرګه ګۍ مرکزي دفتر ته د یوې غونډې لپاره لاړو. زموږ د باډیګارډانو د پلان پر بنسټ تسېنګ هسین-چې او ما باید نن په لمړي ځل صدر دغې غونډې ته بدرګه کړې وی، په دې حال کې چې چوېح کوی-ایان او لین یو- تسي باید د ده لپاره د اوسېدو ځای لټولی وای.

تر لمرلوېدو لږ مخکې چوبح راغی، چې زما ځای ونیسي، تر څو زه ولاړ شم او لږ څه د خوړلو لپاره ترلاسه کړم. ده راته وویل، چې ژر بېرته راستون شم، تر څو وکولی شم صدر کورته ورسوم.
ما وپوښتل: "هر څه دې سم کړل؟"
"ته ورشه او وګوره،" ده ما ته لاس وخوځاوه او مشکوک شاني راښکاره شو.
زه د لښکرو کمپ ته راغلم. دا زموږ د پخوانیو کمپونو په پرتله بیخي بل شاني ښکارېده. هر یو ډېر عصبي ؤو. ځینو سرتېرو په نري یونیفورم کې واوره له سرکه پاکوله، نورو د ډېرو تختې وړلې چې کتونه جوړ کړي، نورو بیا د سرودونو تمرین کاوه. زه پوه شوم، چې موږ د نوي کال د جشن لپاره تیاری نیوه او داسې ښکارېده، چې شپه به له ساعت تېریو څخه ډک جشن جوړ شي. زه خورا هیجاني وم. زموږ د ډېرو ورځو ستومانتیا د واورو په څپولو کې ورکه شوه. ما خپل ګامونه چټک کړل او باډیګارډ تسپنګ هسین- چې مې له لاسه کش کړ. ما وویل: "زاځه چې ځو، وګورو، چې څرنګه ترتیبات یې نیولي. همدا چې صدر بیرته راغی، موږ به په نوي کال د جشن سیل وکړو او ساعت به مو تېر شي!"
هغه کور چې صدر ته تیار شوی ؤو، د بېجن (پیکنګ) ستایل یې درلوده، څلور کوټې په څلورو خواوو کې او لوی انګړ په منځ کې. دوه لوړ او دنګ واورین سړی د دړې مخې ته دریدلي وو. د انګړ د منځ څښتینه لار پاکه وه، لکه چې همدا اوس مینځل شوي وي. درې هوالرونکې او رڼې کوټې جنوبي لوري ته د صدر ته ټاکل شوې وې. منځنۍ کوټه باید وجره وای. یوه د تېلو ډېوه له چته راځوړنده شوې وه. د ډېواله تر خوا د چې ښنلو یو اوږد، نری، انتیک شاني مېز ولاړ ؤو. د هغه مخې ته یو مربع مېز، چې درانه کوچونه یې تر دواړو خواو پراته وو، درېدلي ؤو. دړې ته مخامخ دېواله باندې د موسکېدلي ارهات(بودایي کامل رهبر) عکس، چې لاسونه یې تېتر ته نیولي وو، ځوړند ؤو، تا به ویل، چې د ښه

راغلاست په حال کې ولاړ ؤو. کینې خواته کوټه د صدر د خوب کوټه وه. یو لید څرګندوله، چې چوپړ او لین د نظم په جوړولو کې خورا زیار ایستلی ؤو. دوی هومره واخه په کټ اچولي وو، چې تر هر کوچه نرم ؤو. ښی خواته کوټه به د صدر دفتر وای. دوه مېزونه سره یوځای د لیکلو مېز په شان اېښودل شوي وو، چې قرطاسیه او ټیلیفون باید پرې اېښودل شوي وای. ما په خوشحالۍ سره ناره کړه، چې "ډېر ښکلی!"، کله چې په کوټې کې راتاو شوو. تردې وړاندې هېڅکله صدر په داسې ښایسته کور کې نه ؤو اوسېدلی، ان په زړې شوروي ساحې کې هم نه، څه ورسېږي، چې په اوږده مارش کې. څومره د خوشحالۍ ځای ؤو، چې پوه شوو، چې دی به په داسې ظریف ځای کې آرام وکړي! دا موږ بادیګارډانو ته تر هر څه زیات ارزښت لرلو، مخصوصا د نوي کال په جشن کې.

یو څه لا هم په دې کوټه کې کم ښکارېدل. هو، څوکې، ما وویل، راځه چې ژر یې راوړو! تسېنګ او زه چټک ووتلو او د تقریبا ۳۰ مربع مترو څوکیو سره راستانه شوو، چې د لیک مېز نه مو چاپېره کېښودلې، لکه مېلمستیا چې پیل کېږي. تسېنګ غوښتل پوه شي، چې دومره څوکې څه پکار دي. ما ورله وویل، دا د نوي کال جشن دی، یقینا د مرکزي کمیټې غړي او د مرکزي دفتر څخه د رهبرۍ ملګري به دلته راشي او صدر سره به د نوي کال نمانځلو لپاره یوځای شي. څه به کوي، چې د ناستې لپاره څه نه وي؟

تسېنګ هسین- چې سر وخوځاوه، لکه چې غوږ واوسي.

بیا ما ده سره سلا وکړه، چې صدر لپاره څه ډول ډوډۍ باید تیاره کړو. "ښه دي، دا نوی کال دی،" ده وویل. "موږ باید هغه څه ، چې د ده ډېر خوښېږي، تیار کړو." ما صدر ته په زړه پورې شیانو لست ولوستلو: غوېینه غوښه، مرچ، سرې کرې کورخې- چکه...

"او شېدو وریژې هېرې نکړی!" تسېنګ په لوړ غږ ناره کړه، لکه چې یوه عالي فکر ته رسېدلی وي.

لا وخته تياره شوې وه، چې موږ هر څه تيار کړل. تسبنګ او زه، ډېوه په لاس، لاړو چې صدر وګورو.
زموږ پام شو، چې غونډې لا داوم درلوده. چوبځ کوی- لان له ځان نه راضي ښکارېده. "بيا"، ده وويل، "راضي يې ملګريه؟" اوس زه پوه شوم، چې دی ولې دومره له سره ډک ښکارېده. د غوښتل، چې موږ ته زېرى راکړي. په مخ پورته کټه ګوته مې شاباسى ورکړ او ده ماته رضايتمنده موسکا وکړه.
لس بجې وې، کله چې غونډه پای ته ورسېده. کله چې صدر غوښتل کوټ واچوي، زه له ډېوې سره ورغلم چې ويې ګورم. موږ لږ څه په پښو مزل وکړو او کله چې ده وپوښتلو، چې هغه ځای، چې دی به پکې شپه تېروي، څومره لېرې وي، ما ځواب ورکړ، چې نږدې دوه يا درې لي لېرې دی.
واوره ورېده او باد تند ؤو. هغه کالي، چې صدر اغوستي وو، کافي تاوده نه وو. کله چې ما د ده شاته قدم اخيسته، ډېوه په لاس کې، ناڅاپه احساساتو ونيوم. دوه مياشتې کېدې، چې له شوروي ساحو څخه راوتلي وو، او صدر دومره بوخت ؤو، چې په مشکل سره يې د آرام لپاره وخت لرلو. د مارش په بهير کې ده اکثرا خپل آس ضعيفو او ناروغو ملګرو ته ورکولو، او دی به په پښو روان ؤو. د کمپ په منځ کې ده غونډې نيولې، ټيلېګرامونه او د اسنادو مسودې يې لوستلې، او داسې نور، کله چې د نورو اکثريت تلل، چې ويده شي. ډه څنګه دا زغملای شول؟ څومره به عالي وای، چې ده په داسې ښايسته ځای کې د لږ څه ډېرو ورځو لپاره پاتې شوای وی، نوې کال يې په خوشحالۍ تېر کړی او له آرامتيا نه يې خوند اخيستى وای!
زه نور دا زغملای نشم. "صدره"، ما وويل، "دا نوی کال دی. موږ بايد دلته ښه تفريح وکړو. موږ هر څه تيار کړي دي!"

صدر ودرېدو. راوګرځېدو او ما ته يې وکتل او زما خوله يې سمه کړه او کرار غږېده: "څه؟ تاسو هر څه تيار کړي، چې نوې کال تېر کړو؟"

تسينګ هسين- چي وويل :"هو، هر څه تيار شوي دي!"

صدر ما ته وکتل، بيا يې تسبنګ ته. ده هېڅ ونه ويل. دی په فکر کې ډوب ښکارېده.

دليل يې څه ؤو؟ شايد هغه څه، چې موږ وويل، ده نه وي اورېدلي. د کيدای شي، د هغه پوښتنو په هکله، چې په غونډه کې بحث پرې شوی ؤو، فکر کاوه.

وروسته له يوه اوږد اسويلي صدر وغږېده: "موږ دلته نشو پاتې کېدای، موږ د نوي کال له وختنه لا ډېر مهمه کارونه لرو، چې يې مجبورا سرته ورسوو، زه"

"هغه څه دي، چې موږ يې مجبورا سر ته ورسوو؟" زه اريان وم.

"موږ د وخت سره منډې وهو، تر څو د وو سيند له خنډه تېر شو،" صدر پيل وکړو او زموږ د متو ټپول يې بس کړل. "موږ سور پوځ يو. د سره پوځ لپاره تر ټولو مهم څه دي، چې اوس بايد سر ته ورسوي؟ له غليم سره جنګېدل. له وو سيند نه تېرېدل ډېر مهم دي. تاسو فکر کوی، چې هوچنګ لوی ځای دی. نه. په چين کې لا ډېر لوی ځايونه شته، تر دې ځايه خورا ډېر لوی. دسونجي د بيلګې په توګه، او تر دسونجي هم لا ډېر غټ ځايونه شته دي. که چېرې له وو سيند څخه تېر شوو او دسونجي مو ونيوو، بيا به د نوي کال لمانځل هلته ډېر په زړه پورې وي."

ده موږ ته لنډ د عمومي وضعې په هکله څه وويل. چيانګ کای- شک ډېرې لښکرې د هسوبح او چو-هون يوان په مشرې رالېږلې، تر څو موږ له نږدې تعقيب کړي. موږ بايد د وو له سينده، څومره ژر چې ممکنه ده، تېر شو، تر څو له غليم سره له مخامخېدو مخنيوی وکړو.

وروسته له دي مې، چې د مشر وينا واورېده، نو دا ډېره سخته ده، چې خپل احساسات تشريح کړم. خو بيا هم د وو له سينده تېرېدو لپاره د ځغستلو فکر پارونکی فکر ؤو او زما هيجان په پورته کېدو پيل وکړو.

کور ته په رسېدو سره مو منځني کوټه د لويې ډېوي په رڼا سره ځلانده وموندہ. صدر موږ ته وخندل. "دا واقعا د نوي کال په شان ښکاري!" تر دې ويلو وروسته يې څه اسناد راواخيستل او ځان يې مېشته کړ، تر څو تر ناوخته پورې کار وکړي. ده وويل، چې د شپې ډوډۍ يې په مرکز کې خوړلې او موږ مجبور نه يوو، چې څه شی ورله تيار کړو.

تسېنګ په چټکي سره وويل: "خو موږ ستا لپاره ښه شی لرو!"

ده خپل سر جګ کړ، "څه لرې؟"

"خوږې شېدوورېژې، ستا سو په زړه پورې شی!"

صدر وويل :"ډېر ښه"، ودرېدو او په لاس سره يې د څوکيو دايرې خوا ته اشاره وکړه، "راځئ چې د نوي کال جشن همدلته په ګډه ونمانځو!"

وروسته له څه خوړلو يې موږ ته وويل، چې ويده شو او دی په خپل کار پيل وکړو.

د راتلونکي سهار د څلورو بجو په شا او خوا کې خبر راورسېدو، چې زموږ سر لښکرې د وو سيند ته، په کوم لور چې موږ هم روان وو، رسېدلي.

# د طلايي رېګونو
# د سيند په غاړه

د ۱۹۳۵ د اپرېل يو ماښام ؤو، زما يادېږي، چې د سره پوځ نهم، لمړي او پنځم لښکر – ټول د سره پوځ (مرکزي سره پوځ) په لمړۍ جبهې پورې تړلي وو – او د مرکزي کميټې غړي د طلايي رېګونو سيند ته ورسېدل. د وو سيند له تېرېدو څخه وروسته د طلايي رېګونو سند لمړۍ لوی درياب ؤو، چې زموږ مخې ته راغی. اوبه چټکې شوي وې، او غوسه ناکې اژدهاري - څپې زموږ مخې ته راتلې. د رهبرۍ ټول ملګري د تېرېدو له ستونزې سره مخامخ وو، ولې چې موږ يوازې يو څو وړې بېړۍ په واک کې لرلې. صدر مائو ښکاره ده، چې د دې بحثونو په جرګې واقع ؤو.

د سپېدو څه لږ مخکې زه د ده سره په بېړۍ کې تېر شوم. موږ لا سم ښکته شوي نه وو، چې ده د ملګري لیو پو- چېنګ سره، چې د درستیز مشر ؤو، د مارش د راتلونکي مرحلې په پلانونو لګیا شو. زه په لټولو بوخت شوم، چې کوم چېرې د ده د دفتر او کور لپاره موقتي ځای پیدا کړم.

د کومې هیلې تمه نه وه. د سیند غاړه پرته له لغړو تیګو څخه بل څه نه وه، چې په ډبرو کې يې نم سوري جوړ کړي وو، هغه هم دومره لوی نه وو، چې د سمڅو نوم دې پرې اېښودلای شوی. زه خوشې په تنبې او واخو پسې ګرځېدم، چې د کټ پر ځای وکاروم. په پای کې مې یو غوړ توکر پر ځمکه خپور کړ او مړه مې پرې وغوړوله، په دې احساس، چې لږ تر لږه دا به یو څه وي، چې دی پرې پرېوزي – ده توله شپه هېڅ آرام ونکړ. برسېره پر دې ده د نورو څو ورځو لپاره هېڅ آرام ونکړو.

زما بله دنده دا وه، چې د ده اسناد، نقشې او نور کاغذونه وېړ(هوار) کړم. معمولا مې دا کار د ده سکرتر، ملګري هوانګ یو- فېنګ سره کولو، کله به چې موږ خیمه وهله. پخوا به مو یو ډول مېز او یا د لیکلو مېز جوړاوه، خو اوس اصلا هېڅ هم نه وو، چې کار مو ترې اخیستی وی، او ملګری هوانګ هم د سیند بلې غاړې کې ؤو. صدر به خپل کار څرنګه سرته رسولای؟ ما غوښتل چې نقشه د سمڅې په دېواله وتومبم، خو دا ښه نه وو - خو هغه تول رېګ وو، او مېخ يې نیولای نشوی، او کوټه هم نه وه، چې اسناد مې پکې وېړ کړي وای. خو بیا هم ما ډېر وخت ضایع کړ؛ زه هره دقیقه له غونډې څخه د صدر مائو د راستنېدو په تمه وم، او ما د خوتېدلو اوبو یو ځاځکی هم تیار کړی نه ؤو. زه پوهېدم، چې دی به د شپې له کار څخه وروسته ضرورت ورته ولري. ما د مېز ستونزه خوا ته وغورځوله او په چټکی سره ووتلم، چې وګورم، چې د اوبو په برخه کې څه کولی شم.

رڼا ورځ وه، چې صدر مائو بېرته راغی او ما پسې يې څوک ولېږل. زه چې سمڅې ته راغلم، دی مې ولېدو، چې په سوچ کې ډوب ؤو.

ما وويل: "ته بېرته راستون شوې."

"مم... هرڅه تيار دي؟"

"څه مې چې له لاسه پوره وو، وکړل،" "تخت" ته مې په اشارې سره وويل. "هېڅ تنبې نه موندل کېدې، نو ما دا څه جوړ کړل. غواړې چې د يوې شپېې لپاره پرېوزې؟ اوبه به هر دقيقه په خوټېدو وي."

زه وګرځېدم، چې د اوبو وضعه وګورم، خو ده بېرته ورګرځېدو ته غږ راوکړ.

ده وپوښتم: "ما ته دې د کار کولو لپاره ځای و نه مونده؟"

"ملګرى هوانګ لا نه دې را تېر شوى"، ما پرته له دې چې فکروکړم، وويل: "ما هېڅ شی و نه موندل، چې د ميز پر ځای وکاروو – ان يو وړوکی مېز مې هم نه. لمری لړې اوبه نه غواړې؟"

ده زما په خوا يو وړوکی ګام راواخيست، لکه چې، هغه څه چې ما ورته وويل، اورېدلي يې نه وي، ده جدي وويل، خو بې له دې چې لږکې غوسه هم وي، "په داسې يوه شپېه کې کار تر ټولو مهم مسئله ده. خوراک او څښاک او نور څه وړې مسئلې دي. زموږ شلو نه تر دېرشو زرو ملګرو پورې د سيند هغې غاړې ته انتظار دي، چې پورې ووځي. دا د دېرشو زرو د ژوند مسئله ده!"

زه نه پوهېدم، چې څه ووايم، خو هلته درېدلی وم او ده ته مې کتل. ما د خپل زړه ډېر احساسوله. "ځه"، ده وويل. "ما ته يو تخته او يا يو څه ومونده، چې د ليکلو مېز په توګه يې وکاروم، مخکې له دې چې بل څه وکړې."

ما ځان سمبال کړ او په هونتين کې مې بشکته او پورته منډې کړې، يوه وړه تنبه مې ومونډله، چې د يوې سمڅې د دړې په توګه

کارول شوې وه. صدر مائو ما سره مرسته وکړه، مېز مو جوړ کړ او د ده نقشې او اسناد مو پرې وېړ کړل. بيا مې اوبه په ياد شوې، چې په دې ترڅ کې بايد هرومرو خوټېدلې وي. زه پاڅېدم، چې رايې وړم، چې صدر يو وار بيا ما ته په غرېدو شو.
"چن چنګ- فېنګ!"
"هو؟"
"ببرته راشه!"
زه ببرته سيخ سمڅې ته ورغلم، د "ليکلو مېز" مخې ته ودرېدم.
ده وويل: "زه به تا ته څه جزاګانې درکوم، پوهېږې"، خو غږ يې د تل په شان پوست ؤو، ما هوا ډېره ترېنګلې احساسوله. زه متوجه شوم، چې خپل کار مې څرنګه بايد سر ته رسولی وی، او په ډېرې بدمرغۍ سره مې ده ته کتل.
"زه غواړم، چې ته ما سره واوسې او ويښ پاته شې."
ما احساس وکړ، چې ستونزمنه خندا مې په مخ خوره شوه او ده ته مخامخ کېناستم.
ما وويل: "سمه ده."
ده د مېز له سره ټول تيلېګرامونه او اسناد راواخيستل. د ډګر تيلېفون ټول وخت خبرونه تېرول او دی مطلقا په کار کې ډوب شو. د د ځان د آرام لپاره يوه دقيقه هم مجازه نه کنله. ما، کله چې ورسېدم، چې د مېز په سر مې د ده وخت ضايع کړی، نو په سختۍ سره مې د اوښکې مې له تويېدو مخنيوی کولای شوی. که زه په خپله دنده پوه وای، نو بايد له دې تر مخه مې تيار کړی وای.
زه بشپړ له خوبه ډک وم او په هره توګه عادت شوی وم، چې د ده تر څنګه د خوب وړلم، کله به چې دی په کار بوخت شو. زه پوهېدم، چې د ده مقصد څه ؤو، کله چې ده وويل، چې ما به "مجازات کړي"، کله چې وويل ويښ پاته شم، که څه هم خبره يې نيمايې په ټوکو سره وکړه. خو دغه ورځ چې ما دی جسمن او روحن په کارکې ولېده، نو د وېده کېدو زره غوندې هيله مې هم نه لرله.

وخت په وخت ده ماته په خوشحاله موسکا سره کتل. زه زخت نا کراره وم. زه ولاړ شوم او اېشېدلي اوبه مې راوړې، او يو څه مې واچولې، چې سړې شي.
کافي وخت ؤو، چې دوه د ډوډۍ وختونه تېر شوي وای، مخکې له دې چې صدر مائو بس کړي، ودرېدو او شخې يې ووېستله.
ده وويل: "ته او ډېر کلونه کېږي، چې له ما سره يې. څنګه کېدای شي، چې ته لا هم نه پوهېږې، چې څه شی بايد لمړی سرته ورسېږي؟ کله چې موږ په يو ځای کې تم کېږو، لمړی شی، چې ته يې بايد وکړې، هغه دا دي، چې ته بايد زما د کار لپاره ځای وومومې. ډوډې او آرام د هغه په پرتله په بشپړه توګه په دوهمه درجه کې راځي. ته بايد پوه شي، چې کار به زموږ لپاره په هر اړوند ترټولو مهم شی وي." دی يو منټ تم شو او بيا يې لاس زما پر سر راوکاږه. ده وويل: "ځه نو اوس وېده شه. ته دې سترګې په سختۍ سره خلاصې ساتلای شې."
وروسته له هغه څه، چې صدر ما ته وويل، ما نه غوښتل چې ولاړ شم. ده ټينګار وکړ. زما اوشکې تقريبن راروانې وې – دا چې ما له ده سره مرسته کولای نشوه. دا د دې لپاره نه وه، چې په ما نېوکه شوې وه. دا د پښېمانۍ او خوښۍ ګډ احساس ؤ، هغه شانې احساس، چې کله تاسو غلط کار کړی وي او مور او پلار مو تاسو ته په جدي خو پاسته چلند سره اخطار درکړي: "زما ماشومه، دوباره بيا داسې ونکړې! اوس ځه و لوبې وکړه!"
له درو ورځو راهيسې، چې تقريبن ۳۰۰۰۰ لښکرې متداومن د طلايي رېګو له سيند څخه تېرېدلې، صدر مائو هېڅکله خپل د ليکلو "مېز" خوشې نکړ.

# د يي خلک
# صدر مائو نه هرکلی کوي

ژر تر ژره له تېرېدو څخه وروسته موږ په جنوب-ختيز سيکنګ کې مينينګ ته ورسېدو. هلته مو امر تر لاسه کړ، چې تيار شو، تر څو د يي خلکو سيمې ته ننوزو او د تاتو له سيند څخه پورې شو. زموږ څخه هر يوه دنده لرله، چې د ۱۴ ورځو لپاره کافی غله، يو د بانګس ډنډه او اوه متره اوږ پړی له ځانه سره وېسي. موږ په سړک باندې خلک لېدل، چې غله، په پرو تړلي د بانګس ډنډې او د لاس رسۍ وړ شيانو وځوکي (قودې) يې له ځانه سره وړل.

يوه ورځ مو له خپل کوربه سره غوږې کولې. هغه يو د خورا ډېرو غړېدو زوړ سړی ؤ، يو ځل به يې چې پيل وکړ، نو بيا ګرانه

وه، چې سرې يې غلې کړي. هغه په يوه شيبه خبرو له کوچني ټوپي څخه غر جوړولو. کله به چې خبره په يي خلکو راغله، نو دی به ډېر احساساتي شو او خطرناکه چيغه به يې کړله: "دغه شيطانان دي، که څنګه؟ آه، دوی وحشي دي، دوی همداسې دي!"

"څومره وحشي؟" موږ له ده څخه پوښتل، او هغه په لويو احساساتو ادامه ورکوله: "دوی وحشي دي او د جګړې سره مينه لري! دوی له موږ حان خلکو څخه په ځانګړې توګه کرکه لري. دوی، همدا چې نظر يې په يوه حان ولګېږي، سره ګوري، او که دوی مو ونيسي، نور نو، هر څه مو سر ته رسېدلي دي!"

تسېنګ هسين-چي وويل: "که دوی دومره وحشي وي، نو ښه ده، چې موږ يې له لارې نه چپ شو!"

"څنګه کولای شی، چې ځانونه له دوی څخه چپ کړی، تر څو چې د دوی له سيمې څخه لاړ نه شی؟" زموږ کوربه په ځواب کې وويل. "يو وار هلته، تاسو به په لومه کې ونښلی. د دوی د سړيو يو غر به مو مخې ته درشي، بغارې او رمباړې به وهي او ستاسو ښکار به کوي. بايد ووايم، چې دوی لمړی درجه نښه ويشتونکي دي!"

موږ وپوښتل: "ولې له حان خلکو څخه دومره کرکه لري؟"

زاړه سړي تندی تروه کړ او سر يې وخوځاوه. ده وويل :"زه نه پوهېږم!"

که څه هم موږ په ټول هغه څه، چې ده د يي خلکو په هکله ويل، باور نه کولو، خو بيا هم يو څه ځور راته پيدا شوی ؤ. مخصوصن د ويشتلو په هکله. موږ خورا اريان وو، ولې چې موږ د سياسي څېړنو په ټولګيو کې د لړکيو په هکله اکثرن بحثونه درلودل. موږ پوهېدو، چې سپين پوځ له دوی سره تر حانانو زيات بد چلند لرلو، نو له همدې کبله موږ په د دوی په وجود کې خپل وروڼه کتل. موږ د دوی په هکله، چې حانان دې مره کړي، څه نه وو اورېدلي، نو زه ولاړم او صدر مائو مې وپوښته.

ما پيل وکړ: "صدره، داسې ويل کيږي، چې د يي کام ډېر وحشي خلک دي"

هغه په ځواب کې وپوښتل: "دا چا درله ويلي؟" په دې توګه مې ټول هغه څه، چې زموږ له کوربه اروېدلي وو، ده ته وويل او دی مې وپوښته: "آيا دا رښتيا دي؟"

صدر مائو وخندل او ويې پوښتل: "ته څه فکر کوې؟"

زه په راتاوېدو کې مسک شوم او سر مې وخوځاوه.

ده نو بيا تشريح کړل، چې يي خلک په سځېچوان او مياؤ خلک په کوانګسي کې د سپين پوځ له خوا په خورا بې رحمی سره ځپل کيږي. له دې کبله دوی له سپينو نه کرکه لري. "خو زموږ په برخه کې" ده وويل، "دوی بل ډول دي. موږ د دوی احترام کوو او دوی ته د خپلو ورونو په شان ګوروو. موږ له دوی سره يو کيږو او له دوی سره ګډ د سپين پوځ د ستم پر ضد جنګيږو. يي خلک خوښيږي، که چيرې پوه شي، چې سور پوځ دوی ته راغلی دی. نو هلته څه شی شته، چې سړی ترې وبېرېږي؟"

"خو هغه زوړ سړی داسې غږېده، چې تابه ويل رښتيا وايي!"

صدر مائو ځرګندونه وکړه: "دا په ساده ډول د سپين پوځ له خوا آګاهانه خپرې شوې آوازې دي، تر څو د هان او يي خلکو تر منځ کرکه راوپاروي. دې زاړه سړي څه شی په خپلو سترګو لېدلي نه دي، نو طبيعي ده، چې په ساده ګۍ سره غولېدای شي."

د صدر مائو ځرګندونو زموږ فکرونه هوسا کړل.

دوه ورځې وروسته له مينينګ څخه لاړو. موږ د يي سيمې ته په غرمه ورسېدو. د مې مياشت وه. زما د زېږېدو په سيمه، کيانګسي کې به لا وختي پټي په طلايي وريژو ځلاند شوي وي، خو دلته زمکه تشه او شاړه شوې وه. دلته نه د وريژو پټي وو، نه فارمي کورونه، يوازې خامې تيټې جونګړې د ځنګلو په منځ کې پرتې وې.

خو لنډ وروسته له دې موږ يوې غرنۍ سيمې ته ننوتو، ناڅاپه مو د سړيو او ښځو يوه ډله په نا آشنا کاليو کې مخې ته راغله. دوی

په چيغې کړې، کله چې موږ ته رانږدې شول. زه او تسېنګ هسين-چي په رښتيا سره وارخطا شوو. خو کله چې موږ ته رالنډ شول، نو بيا ما څرګند وکتل، چې هغوی نه دي راغلي، چې له موږ سره وجنګيږي، بلکه راغلي، چې زموږ هرکلی وکړي. پنځه دنګې ښځې له ډلي نه جلا شوې، چې هرې يوې سور چرګ په غېږه کې درلودلو. دوی صدر مائو ته وروړسېدلې او دی يې محاصره کړ. دو يو څه وويل، چې موږ پرې نه پوهېدو. خو صدر مائو خپل سر وخوځاوه او د دوی د خوځښتونو تقليد يې کاوه، خپل لاسونه يې ټيټر ته ونيول، ترڅو خپله مننه دوی ته څرګنده کړي. ما، تسېنګ هسين-چي او نورو ملګرو په کتار کې سرونه وخوځول، تر څو د دوی نه مننه وکړو.

نو بيا صدر مائو، چې له چرګانو سره ښځې ښځې وريسې وې، روان شو. په دې وخت کې د يې خلک هر چېرې خواره وو؛ په درو کې، په غونډيو باندې او د غرونو په سرونو. ځينو له دوی څخه د هرکلي لپاره لاسونه اوچت کړل، ځينو ځانونه ټيټ کړل، نورو په خوښۍ سره سندرې ويلې. دا يوه بېګانه او پارووڼکې ننداره وه، چې اوښکې يې زموږ په سترګو کې راګډې کړلې.

صدر مائو موږ ته مخ کړ: "وګورئ! هغه ټولې خبرې د جګړې په هکله. دوی راغلي، چې زموږ هرکلی وکړي! يوازې سوچ وکړئ، ولې ما" کله چې موږ روان شوو، پر دې مسئلې مو بحث وکړ.

يوه شيبه وروسته تسېنګ وپوښتل: "صدره، که څه هم دوی زموږ ښه ورونه دي، خو نه په هغه څه، چې دوی وايي، نه پوهيږو. دا داسي ښکاري، لکه په يوه پردي هېواد کې چې وو!"

"دا يو ناڅاپه زېرې نه دی،" صدر مائو وويل. "تاسو پوهېږئ، چې څومره لوی زموږ هېواد دی. ته يو له کيانګسي سړی، په هغه څه هم نه پوهېږې، چې څه زه يو هوناني سړی يې وايم. نو ته به څنګه په هغه څه، چې د يې خلک يې وايي، پوه شې؟"



.دوی صدر مائو ته وروړسېدلې او دی يې محاصره کړ

دې خبرې موږ ټول په خندا راوستلو. کله چې يې خلکو موږ په خندا ولېدلو، نو دوی هم په شور سره په خندا شول. د دوی خندا دومره ساده او غير مصنوعی وه، چې سړی د دوی د وحشت او بېرحمۍ په اړوند اپلتو او چټي خبرو په هکله اريان پاته کېده. او دا د خوشالۍ او ملګرتيا نه ډکه فضا وه، چې کله موږ د يي له اسرارو ډکې سيمې نه تېرېدلو.

# له انشونچنګ څخه تر لوتینګ پله پورې

**د** يي خلکو د غرونو له راوتلو څخه وروسته مو د تقريبا ۲۰۰ لي له صدر مائو سره مارش وکړ، تر څو د تاتو سيند په غاړه انشونچنګ ته راورسېدلو. له هغه ځايه شمالن د سيند د غاړې په اوږدو رهي شوو. موږ اورېدلي وو، چې موږ به له تجارتي ښارګوټي څخه، چې موهسيمين نومېږي، تېرېږو او لوتينګ ته به رسېږو، چېرته به چې موږ په پله باندې بلې غاړې ته پورې وزو.
ده يوه غرنۍ سيمه وه، د سختو واخو او ګڼو بوټو ببډيا وه، چې پښه په تېره شوې نه وه. که څه هم صدر مائو يو آس لرلو (په کوم چې دی په ندرت سره سپرېده، که چېرې لاره کندکپره به هم نه وه،

خو ضعيه او زخمي ملګرو ته وړاندې کولو)، خو ګټه يې نلرله، او دى به له موږ سره يو ځاى په پښو روان ؤ.

ځومره چې موږ په ستغه لار پورته ختلو، هومره به تک ګرانېدلو او بوټې به ګنېدل. وخت تر وخته به موږ درېدلو او د انجينيرانو واحدونو ته به مو اجازه ورکوله، تر څو د بوټو په وهلو سره لار راوباسي.

خو صدر مائو د لارې نه بې پروا په ژوندې توګه روان ؤ. د ده په مخ د ستوماني کوچنی شاني نښه هم نه ښکارېدله، که څه هم موږ د اوږدې مودې لپاره مارش وکړ، جنګېدلو او په سختو کارونو بوخت وو. هغه اکثرن موږ ته مخ رااړولو، تر څو موږ سره وغږېږي يا موږ ته کيسې نکل کړي.

صدر به مو چې داسې ولېده، موږ به روحيه اخيستله. زموږ ستومانتيا به په وريځو کې ورکېدله.

په ترغونې کې د غره څوکې ته ورسېدلو. انشونچنګ لېږې شاته پاتې ؤ. هغه واحد، چې له موږ سره روان ؤ، ودرېدو، چې دمه وکړي. ما له تسپنګ هسين-چې او نورو سره مشوره وکړه، بيا صدر ته ورروختلم او ومې پوښته، "آيا موږ هم دمه کولاى شو؟"

صدر ودرېده او ما ته يې وکتل. "ستومانه يې؟"

"اوه، نه. خو ته ګورې، چې دوى په پخلي پيل کړى."

"اخ." صدر مسک شو. "نورو ته ووايه، چې موږ دمه کوو او موږ به هم څه وخورو."

کله چې دوى ولېدل، چې صدر مائو ودرېدو، نو باډيګاردان، جواليان او مهتران د ده نه راچاپېر شول. موږ د يوې وياڵې تر څنګه کېناستلو او خپل وچ خواړه مو وخوړل. صدر له موږ سره يوځاى په خوړلو بوخت شو.

يوه ځوان ملګري ناره کړه: "دا به زموږ لپاره ښه وي، چې يو څه اوبه واخلو او ويې څښو." د ده لخوا د اوبو يادولو موږ ټول لا تږي کړو. موږ ټولو غوښتل اوبه وڅښو.

صدر موږ ته وکتل، مسک شو. "دلته ډېري اوبه دي،" ده روان بهير ته اشاره وکړه. ده اوبه په لپه کې راواخيستلې او غټ غړپ يې وکړ، وويې ويل: "ښې، ډېرې سړې او خوږې." موږ ټول تيټ شوو، تر څو ښې اوبه وڅښو.
موږ نا څاپه خرخراړې واورېدې. موږ مجبور نه وو چې وګورو، تر څو پوه شو، چې هغه هوانګ ؤ. هغه يقينن ژر وېده شو. موږ مسک شوو. وو چيخ-چينګ حوصله ونکړلای شوه. ده يوه لپه اوبه له ويالې راواخيستلې او د هوانګ د پښو په څوکه يې ورتويې کړې.
"هغه ستومان شوی، پرې يې ږدی، چې يوه شيبه هوسانيه وکړي." د غږ د تون له مخه موږ مخونه صدر ته واړول. دی د هوانګ څنګ ته تيټ شو، د ده سر يې په مهربانۍ سره د واخو له ګېډۍ څخه اوچت کړ، او خپل کټ کړی کوټ يې ده ته د بالښت پر ځای کېښوده. هوانګ وخوځېده، ضعيف خندی يې وکړ او بېرته په خپل درانه خوب کې ډوب شو.
موږ ودرېدو او په مينه سره مو ورکتل. صدر موږ خوا ته راتاو شو او ويې خندل. "تاسو هم آرام يو څه آرام وکړی. موږ سبا ته بايد ډېر مارش وکړو."
پرته له يوې کلمې څخه مو هلته بسترې وغوړولې. زه په يوه هواره ډېره وغزېدم.
د دوبې د سر ماښام سوړ وي. که څه هم زه ډېر ستومان وم، خو نه وېده کېدلای نه شوم. هوانګ د صدر په کوټ ژور وېده ؤ. صدر ښکاره وه، چې په ډوب سوچ کې د غره څوکه ګامونه اخيستل. ما د تاتو سيند غړمباري کولای شوې لېرې ښکته له موږ نه واورم. د ډوبېدونکي لمر وروستنيو رڼا بشپړ آسمان سور اړولی ؤ، او د صدر مائو د يونيفورم رنګ يې له خړ نه په نارنجي بدل کړی ؤ.
دغه شيپه صدر زموږ سره د غره په سر وېده شو.

په راتلونکي ورځ موږ سهار وختي وخوځېدو. کله چې موږ موهسیمین ته نږدې شوو، یوه پراخ او ژور سیند ته ورسېدو. موږ نشوای کولای پورې وزو، او یوازېنی پل هم تش دوه متره سوروو ؤ.

لښکرې وخته د پورې وتو په حال کې وې، کله چې موږ هلته ورسېدو او پل په سرو ډک ؤ. کله چې هغو صدر ولېده، د ده لپاره یې یوه لار خلاصه کړله.

مخکې له دې چې صدر څه وویل شي، مېتر د ده آس د پله سر ته راوستلو. کله چې هغه پښه په ړپېدونکي جوړښت کېښوده، حیوان تمبه شو او په ډارونکو ششنېدو یې پیل وکړ، دا هم په عمومي ګډوډۍ ورزیاته شوه.

صدر پله ته منده کړه. "هغه اوس له ځانه سره مه اخلی." هغه په مېتر غږ وکړ. "لمړی ملګرې پرېږده، چې پورې وزي."

مېتر بېرته ناره کړه: "هغه ستاسو کالي او بکسونه نقلوي."

موږ پوهېدو، چې دا دلیل ؤ. تر څو چې آس پورې شوی نه وای، نو صدر به هغه شپه د بسترې لپاره څه شی نه درلودلی. نو موږ په دې کې د مېتر سره خبره غبرګه کړه، "پرېږدی، چې هغه مخکې پورې کړي، صدره."

"دا به ناسمه وي، چې موږ هغه پورې نکړو."

صدر موږ ته په یوه مهربانه او اوس غندونکی نظر وکتل. ده وویل: "له مېتر سره مرسته وکړه چېن چنګ-فینګه، چې آس بېرته وېسي. لښکرې پرېږده، چې لمړی تېرې شي."

سرتېرو له مېتر سره مرسته کوله، چې آس مخ په وړاندې بوزي. زه مجبورا د پله منځ ته وځغلم، تر څو دا حیوان بېرته بوځم.

کله چې موږ آس دې غاړې ته بېرته راوړ، صدر په سرتېرو ټینګار وکړ، چې په بېړې سره پورې شي. کله چې د دوی وروستنی پورې غاړې ته تېر شو، نو موږ صدر شاته ورپورې وتلو.

په دې شپه موږ موهسيمين ته ورسېدو. صدر موږ ته وويل: "په ياد وساتئ، چې موږ بايد خپلو لښکرو ته پاملرنه وکړو، نه دا چې بل چا ته پاملرنه ولرو، توپير يې نشته، چې چېرته او چا ته. که موږ چېرې د يوه آس لپاره د خپلو ملګرو د مارش مخنيوی کړی وای، دا به ډېره بد کار شوی وای، داسې به نه وای؟"

له هغه ځايه تر وتلو وروسته موږ د صدر سره لوتينګ ته ولاړلو. سيند د انشونچنګ نه وړوکی ؤ، خو بهير يې چټک ؤ، او دواړو خواوو کړنګونه لرل.

پل له ديارلسو پنډو پولاديزو زنځيرونو څخه جوړ شوی ؤ، چې په دواړو خوواوو کې په اوسپنيزو موګيو پورې تړل شوي وو، چې موګې هم په خپله په پرخو کې ټومبل شوي وو. زنځيرونو هم د پله دوو غاړو ته کټارې جوړې کړې وې.

په لوتينګ کې مو ملګري ليو يا- لؤ او نورو رهبرانو سره ولېدل. دوی صدر له ځانه سره د يوې لويې کليسا مخې ته وېوړو، چې د چاپېريال يوه ښکلې منظره يې مخې ته پرته وه. وروسته موږ له صدر سره پله ته ورغلو.

اصلن د پله په زنځيرونو پورې لرګيني تمبې نښتې وې. غليم، مخکې له دې چې زموږ مخکښ واحد پل په ولکه کې ونيسي، هغو ته اور ورته کړی او له منځه يې وړې وې. زه پورته لاړم، چې هغه کېبلونه وګورم، هر يو د کاسې په اندازه پنډ ؤ، او په سويو تمبو پور نښتي وو او لاندې هم سيند په خوټېدو ؤ. زه عصبي شوم.

صدر دې ته پام شو. هغه ګوته ما ته سيخه کړه او ويې پوښتل: "وېرېدې؟"

"نه."

هغه زموږ ټولو شاته په پورې کېدو پيل وکړ. ما په احتياط سره هغه ته پام کولو. هغه داسې سپک او داسې طبيعي روان ؤ. هغه کړنګونو ته وکتل، چې په هره غاړه يې سرونه وريځو ته رسېدل. د اوبو غړمبارې ځواکمنې نه وې، چې د ده فکر خراب کړي. له هغه

ځایه، چې خورا ډېر انسانان په پله باندې سپاره وو، کله چې موږ یې منځ ته ورسېدو، په زنګېدو یې پیل وکړ. ما زنځیریزه کټاره ونیوه او ودرېدم. صدر خپل سر تاو کړ او ما ته یې څه وویل. خو ما یو ټکی هم وا نهورېده. د سیند غرهارو هر بل غږ له منځه وړلو. ښکاره ده، چې ده به پوښتل، چې ما ستونزه لرله. ما سر وخوځاوه. هغه د درېدلو امر وکړ او زما لاس یې ونیوه. بیا نو موږ یو ځای روان شوو.

ما د یوې شیبې لپاره ښکته وکتل. لویې خوټېدونکې څپې داسې ښکارېدې، لکه اوږده غشي چې ولي، چې هغه هم په پله پورې مښلي. دې زما سر په تاوېدو راووست. ما خپلې سترګې پورته کړې او په پله باندې مې خپلو ملګرو ته مې وکتل. ځینې په احتیاط سره پرله پسې مخ په وړاندې روان وو، ځینې د پولادیزو کیبلونو په اوږدو خوېېدل. نور په یوه لیکه، لاس په لاس روان وو، خبرې اترې یې کولې او خندېدل.

صدر لا هم زه یې له لاسه نېولی، مخ په وړاندې بېولم او شاته یې سرو ته، چې موږ پسې وو، پام کولو. کله به دی ودرېدو او هغو ته به یې لاس خوځاوه، یا به یې څو خبرې ورته کولې. بالاخره مو پل شاته پرېښنوده.

ما وویل "صدره"، کله چې سیند غاړې ته ورسېدو، "په یوه لښکر سره موږ کولای شوای داسې یو پل وساتو. خو غلیم..."

صدر وخندل. "غلیم غلیم دی. موږ هغوی نشو کولای د کمونیست ګوند تر رهبرۍ لاندې یوه پوځ سره پرتله کړو. سمه ده؟"

موږ په ګډې سندرې (کورس) سره وویل: "سمه ده!"

# د شولتسبتي په لور سېرک باندې

**موږ** د تاتو دریاب څخه تر تېرېدو وروسته یو څو ورځې په هولینګپینګ کې پاته شوو. بیا نو موږ د شولتسیتي په لور ووتلو. خلکو ویل، چې موږ په یوه ورځ مارش سره هلته رسېږو.

موږ سهار رهي شوو. صدر مائو بوخت ؤ، نو دی د مرکزي کمیټې له سازمان سره لاړ نه شو، خو د هغه پر ځای د طبي واحد سره، چې هغه وروسته روان ؤ. ملګری هو چنګ-پاؤ، د ګارډ لښکر مشر، او زه له ده سره روان شوو.

کله چې موږ یوه غره ته راورسېدو، چې شپږ لي واټن یې تر څوکې پورې پاته ؤ، د غلیم درو الټکو پیل وکړ، چې زموږ په لار والوزي. موږ خواره شوو، خو خپل مارش ته مو مخ په وړاندې ادامه ورکړه. هو د صدر نه وړاندې روان شو او زه یې تر شا وم.

صدر په داسې حال کې، چې سترګې يې پر سړک ښخې وې، روان ؤ، لکه د کومې ستونزې په هکله چې غور کوي. يوازې کله نا کله به يې الوتکو ته پورته ورکتل. زموږ پاتې کسان ډېر وارخطا وو.
الوتکې خوا او شا تاؤ شوې او په هغه لور لاړې، له کومې چې موږ راغلي وو. په کومه شيبه چې موږ ځانونه له پورته خوا يو څه هوسا احساس کړل، موږ له پورته او شا څخه دوه مزاحم بزېدونکي غږونه واورېدل. زه چټک پوه شوم، چې هغه بمې وې.
ما کوکه کړه: "صدره،" او د ده په لور ګړندی شوم.
ما يوازې څو ګامه اوچت کړې وو، چې د بمو يو غانګی مې تر مخې او تر څنګه وچاودېدو. د چاودنې څپو زه پر ځمکه وويشتم. صدر په دود کې پټ شو. ما په زنګون کښولو ځان وخوياوه او د صدر په لور مې وکتل. دی د هو چنګ-پاؤ تر څنګه، چې لګېدلی ؤ، د پښو په څوکو ناست ؤ. صدر زخمي شوی نه ؤ. زما زړه چې خولې ته راوتلی ؤ، بېرته خپل عادي ځای ته لاړو. ما خولې او ګرد له خپل تندي څخه پاک کړ او د صدر خواته مې وځغاستل. هغه د هو په سر لاس تېرولو. هو پر خپلو لاسونو، چې خېټې ته يې تنبه کړې زور اچولی ؤ. د خولو لويې مرغلرې يې په تندي راپورته شوې. خو ده يو غږ هم له خولې ونه وېستو.
زه نه پوهېدم، چې څه وکړم. طبي ناظم په چټکتيا سره زموږ په لور راغی.
"چټک" صدر په ده بېره وکړه، "ده ته پاملرنه وکړی."
هو خپل لاس د مخالفت په نښه وخوځاوه. ده وويل: "صدره، زه ختم يم، دوا وساتی. تاسو پاتې کسان بايد لا مخ په وړاندې لاړ شی."
د ده سور مخ ژېړ وتښوو.
"دا دومره جدي مسئله نه ده. ته به روغ شې،" صدر په هوسا کوونکې لهجې سره وويل. ده چټک له طبي مرستيال سره د هو زخمونو په تړلو کې مرسته وکړه. بيا دی کېناست او هو يې لکه وېده ماشوم په خپلې غېږې کې واچاوه. بيايې په کراره وويل: "موږ به تا

شویسیتي ته یوسو. موږ به یو ډاکټر ومونډو او تا به چټک ببرته په پښو ودرووو."
هو په ډېره مینه سره په خپلو تیاره کېدونکو سترګو صدر ته کتل. خو هغه بشپړ رانسکور شو، کله یې چې واورېدل، چې موږ هوډ کړی، چې دی به له ځانه سره وړوو. په ستونزې سره یې خبرې له خولې را ایستلې، ده وویل: "صدره ګټه نه لري. ټوله وینه زما معدې ته روانه ده. زه نه غواړم مړ شم. زما یوازېني خواشیني دا ده، چې زه له تاسو سره شمالي شانسي ته تللای نشم او زموږ پایګاه هلته کتلای نشم." دوې ځلانده اوښکې یې د سترګو له کونجونو رارواني شوې. دی د یوې شېبې لپاره وسلېده او لکه څه شی یې چې په ستوني کې بند وي، ده زیاته کړه: "زما مور او پلار په چیان، کیانګسي کې اوسي. که ممکنه وي هغوی زما له مرګه خبر کړی."
صدر څه ونه ویل، خو دی یې ځان پسې ټینګ کړ.
"ته به ښه شې" طبي مرستیال او ما ډاډګېرنه ورکړه. "ته به له موږ سره شمالي سانسي ته ولاړ شې."
هو خپل سر وخوځاوه. "ملګریه چنه" ده ما ته وویل، د ده خبرې، چې ورو ورو یې کولې، "زه له صدر څخه نور پاملرنه کولای نشم. ته باید د ده او د مرکزي کمیټې نورو رهبرانو ښه پاملرنه وکړې."
د ده غږ دومره ټیټ ؤ، چې ما په سختۍ سره اورېده. په پای کې په ډېرې ستونزې سره سر اوچت کړ او صدر او موږ ته یې په کلکه وکتل. د ده شنډې رپېدلې، کله چې یې کلمې له خولې راایستلې، "بریالی ... دې ... وي ... انقلاب!" بیا یې سترګې وتړلې.
طبي مرستیال او ما په وارخطایی سره غږ پر وکړ، خو دی تلې ؤ. اوښکې مو پر مخونو راوبهېدې.

صدر خپل لاس ورو د هو تر غاړې راواېستلو، دی يې په مهربانۍ سره زمکې ته ښکته کړ او پاڅېدو. په ټيټ غږ سره يې ما ته وويلک "بړستن".

ما هغه بړستن، چې له ځانه سره مې وړله، ورکړه، ده هغه خلاصه کړه او ملګری هو يې په احتياط سره پټ کړ.

په دغه ورځ د باد بخری هم نه ؤ. ونې او واښه په غره باندې ناخوځنده ولاړ وو. دوی داسې ښکارېدل، چې خپل وروستنی درنښت قهرمان شهيد ته وړاندې کوي. موږ خپلې اوښکې پاکې کړې او دی مو ښخ کړ. بيا نو د صدر تر شاه مو مارش ته ادامه ورکړه.

# واورين غرونه
# او زرغوني زمکې

**د** ۱۹۳۵ په جون کې، د تاتو سيند څخه تر پورې وتو وروسته، موږ د چياچين غره لمنې ته راورسېدلو، يوه لوړه په واورو پټه څوکه. لمر په جون مياشتې کې نه ؤ لوېدلی، خو تودښت يې د دې لويو يخينو ډېريو په وړاندې خپل ځواک له لاسه ورکړی ؤ.

موږ د د هغه په لمن کې د يوې ورځې لپاره دمه وکړه. صدر مائو موږ ته توصيه وکړه، چې زنجفيل او مرچ تول کړو، تر څو ځانونه د تراخه ساړه په وړاندې ځواکمن کړو، کله چې د غره سر درې ته پورته کيږو. موږ د سبا ورځې سهار وختې پورته ختل پيل کړل.

د غره څوکه چې د لمر وړانګو ته ځلېدله، داسې ښکارېده، چې په آسمان پورې توره نښتې وي. د غره تېوله کتله پرکېدله، لکه چې په بې شمېره هندارو باندې سپېنګار شوې وي. د هغه رڼا به دې سترګې بريښولې. کله نا کله به د واورې وريځو د غره څوکه لکه د لويې چترۍ په شان پټوله. دا يوه ناځمکنۍ، افسانوي ننداره وه.
په پيل کې واوره دومره ژوره نه وه، او موږ کولای شوای، د هغې په سره ساده روان واوسو. خو وروسته له شلو دقيقو ګردله پرله پسې ژوربدله. يوازې يوه بې پامه ګام کولای شوای تاسو له پانه خطا کړي، نو بيا ساعتونه پکار وو، چې تاسو بيرته سړی راپورته کړي. چېرته چې د واورې پوخ پوست ؤ، هغه ځای خويدونکی ؤ؛ د هر ګام لپاره چې تاسو اخيستلو، دې ګامه به بېرته راتلی! صدر مائو، متونه يې ښکته، تر موږه مخکې روان ؤ، په سختۍ سره ختلو. کله به دېر ګامونه په شا راوخويېدو. بيا به موږ لاس ورکړ؛ خو موږ پخپله د پښو په تينګولو کې ستونزې لرلې، نو بيا دی ؤ، چې زموږ متې به يې تينګې ونيولې او موږ به يې راودرولو. ده بې استره کالی اغوستي وو. ژر د ده نرۍ خاورين پتلون خويشت شو، او د ده تورو وړينو بوټونه د يخ له لاسه ځلېدل.
پورته ختلو مو ځان وېستلی ؤ. زه د ده په لور وروختلم او ومې ويل: "صدره! دا ستاسو لپاره ډېره سخته ده، ښه ده چې موږ ته د مرستې اجازه راکړی!" زه د ده څنګ ته کلک ودرېدم. خو ده لنډ ځواب راکړ: "نه، تاسو هم هومره ستومان ياست، چې زه يم!" او روان شو.
د غره په نيمايي لاره ناڅاپه تېز باد منفجر شو. پندې، تيارې وريځې د څوکې په اوږدو کتار شوې. د باد څپېړې واوره يې پورته جګوله او په غوسه سره به يې موږ نه چاپېره راشيندله.
ما يو څو ګامه بېره وکړه او دی مې له کوټه ونيوه. ما کوکه کړه: "واوره راروانه ده، صدره!"

ده مخ په وړاندې د باد په لور وکتل. "هو، دا به سم لاسې په موږ را پرېوزي. راځی، چې تیار شوا!" دی لا سم نه ؤ غږېدلی، چې د وږو هګیو په اندازه ږلې په غورېدو شوې او زموږ پر سر را وشنل شوې. چتریو د واورې او یخ دې توفاني سمندر په وړاندې څه ګټه نه لرله.
موږ یوه موم جامه په سر ونیوه او د هغې لاندې ټلو سره کوټه شوو، چې صدر مائو مو په منځ کې ؤ. توفان تر موږ خوا او شا کې په غوسه ؤ، لکه چې آسمان په ربنتیا رالوېدلی وي. ټول هغه څه چې موږ اورېدلای شوای، د خلکو کوکارې، د آسانو شیشناوې او د برېښناؤو کنوونکې ترکا وه. بیا یو زیږ غږ له پورته نه راغی.
"ملګرو! تکړه شئ! تسلیم نه شئ! پرمختګ د بریا په مانا ده!"
ما سر جګ کړ او پورته مې وکتل. سره بیرغونه د درې په سر رپېدل. ما په پلټونکې نظر صد مائو ته وکتل.
"هلته څوک دي، چې شپېلکې وهي؟"
"د تبلیغاتو د ټیم ملګري دي،" صدر ځواب راکړ. "موږ باید له هغو څخه زده کړو. دوی یاغي روان لري!"
د واورې توپان هم هغسې چې پیل شوی ؤ، نا څاپه پرېوتو، او تود سور لمر بېرته ځرګند شو. صدر مائو موم جامه تر پنا ووتلو او د غره په واورینې ډډې ودرېده. د واورې وروستنې څپولې د ده نه چاپېره تاوېدلې.
"بنه نو، د دې شخړې نه څنګه راووتلو؟" ده وپوښتل. "څوک زخمي دي؟"
هېڅ چا هم د ژوبلې خبر ورنکړ. یوازې لاویو خپل آس راووست او خبرتیا یې ورکړه، "یوې ږلې زما مټ وپرسولو!"
صدر مائو چټک چونګ فو-چنګ، طبي مرستیال ته غږ وکړ، چې د لاویو په مټه ملهم کېږدي. خو لاویو وخندېدو، هر راز مرستې نه یې سر وغړولو او د خپل آس لاربنوونه یې وکړه. زه د تسېنګ

هسین-چي سره روان شوو او دی مو راونیوه، "بنه ده ملګریه، څنګه دې خوښه ده؟"

ده صدر ماؤ ته اشاره وکړه او ویې ویل؛ "که دی یې اخیستی شي، نو موږ هم کولای شو!" نو بیا یې خپلو پښو ته، چې په واوروکې ژورې ښخې شوې وې وکتل او په ملنډو سره یې زګېروی وکړ: "دې بلا ته وګورئ! زما پښه یې مصادره کړې ده!" د سرېښت له لاسه داسې بې حسه شوې وه، چې تا به ویل پښه نه لرې!

څومره چې موږ لوړ ختلو، پورته کېدلو هم هومره ستونزمنه وده کوله. کله چې موږ لا د غره په لمن کې وو، سیمه ایزو خلکو موږ ته ویلی وو: "کله چې د غره څوکې ته ورسېدی، نه خبرې کوی او نه هم خاندی، ګوندې د غره خدای به مو غرغره کړي." موږ په خرافاتو باور نه درلود، خو په هغه څه کې، چې دوی ویل، یو تریخ حقیقت پکې پروت ؤ. اوس ما په سختۍ سره ساه وېستلای شوه. داسې ښکارېده، چې تېتر مې د ژړندې دو پلو په منځ کې تر فشار لاندې دی. زما د زړه درزارې چټکې شوې وې، او ما خندا خو پر ځای پرېده، چې په سختۍ سره غږېدای شوی. ما احساس کاوه، چې زړه به مې له خولې نه راووځي، که چېرې خوله خلاصه کړم. نو بیا مې صدر مائو ته وروکتل. هغه مخ په وړاندې د باد او واورې په مخامخ لورې روان شو. د غره له سره تبلیغاتي ټیم بیا نارې کړې:

"ملګرو پورته لاړ شئ! مخ په وړاندې وګورئ! تلل تینګ کړئ!"

په پای کې د غره څوکې ته ورسېدو. سپینې واورې هر څه پوښلي وو. خلک په درې کسیزه یا پنځه کسیزه ګرووپونو کې ناست وو. ځینې دومره ستومان شوي وو، چې سرونه یې کېښنودل. کله چې دوی صدر مائو ولېدلو، ډېر ملګري راغلل او نارې یې کړې: " صدره، راځه او څه دمه وکړه!"

کله چې صد مائو دا ټول څه ولېدل، دی ژر دوی خوا ته ورغی او په مهربانۍ سره یې وویل: "ملګرو، موږ دلته دمه کولای نه شو!

هوا ډېره کمه ده. لږ څه نوره هڅه وکړی او موږ به ښکته له څلورم مخکښ پوځ سره یوځای شو."

له دې سره زموږ روحیه بیا لوړه شوه، او پیل مو وکړ، چې د غره له ډډې په خوییدو ښکته شو. زه نه پوهېږم، چې د بري لپاره د ډېرې خوشحالی له کبله او یا په کوم بل دلیل د غره څوکې ته راورسېدو، خو ناڅاپه زه زړبدی شوم. داسې ښکارېده، چې غر مې تر پښو لاندې ړچېږي. ما د خپلو غړو کنترول له لاسه ورکړ او په سختو رېږدېدو مې پیل وکړ. تر صدر مائو پورې ورورخوېېدم، غږ مې وکړ: "صدره...!" او ړنګ شوم. خو زه په بشپړه توګه بې سده شوی نه وم. ما صدر مائو احساسولو، چې په خپل متّه پورې یې تکیه کړې وم او په نامه سره یې يادولم. دا هسې ښکارېدل، چې په هوا کې لامبو وهم. ما په ساه ایستلو کې ستونزه لرله او خبرې مې کولای نشوې. خو ناڅاپه یوه څواکمن باد د واورې څپولې زما په مخ راوویشتلې. دې زه ځان ته راوستلم او سترګې مې روښانه شوې. ملګری ما نه چاپېر شول او اریان وو، چې څه پېښ وو. ما صدر مائو واورېده، چې زه یې پوښتلم: "څه شوې؟ هر څه سم دي؟" ما له خپلو پښو سره مبارزه وکړه او روان شوو.

د صدر مائو پښې په هر ګام کې په واورو کې ژورې ډوبېدلې. هغه خپل سر راتاوولو، چې د ملګرو پاملرنه وکړي، کوم چې څوکې ته نه وو رسېدلې. دوی ورو ورو روان وو او کتار لکه د منګاره په شان ښکارېده، چې خپله لار د څوکې په لور خلاصوي. ده هغو ته په ډاډورکونکې توګه لاس خوځاوه.

باد نور څواکمن شو، او توري وریځې بیا سره راټولې شوې. لکه چې د کوم ناڅرګنده څواک له خوا چې په خوځښت راغلی وم، د صدر خوا ته مې بېړه وکړه او ناره مې کړېله، "صدره، ته دلته درېدلی نه شې! لطفن چټک ولاړ شه!"



په پای کې د درې سر ته ورسېدلو. (۶۹مه پاڼه)

ښکته کوزېدل تر پورته ختلو څخه آسان وو، خو له هغه ځایه چې د غره دغې ډډې ته د لمر وړانګې نه وې، نو دغه خوا سړه وه. موږ ټولو نرې کتان کالي اغوستي وو، او له ساړه سره رېږدېدلو. ما یوه مړه تر ملا وتړله او روان شو، وښویېدم او د غره په واورینې ډډې وګړېدم.

څه شیبې وروسته د خلورم مخکښ پوځ ملګرو سره یوځای شوو، چې د شعارونو بیراغونه یې وړل: "په شمال لویدیز کې انقلابي بنسټونه پراخ کړی!" موږ په خپلو غړو کې نوی څواک احساس کړ. موږ ته د هغو په وړاندې داسې احساس راپیدا شو، لکه چې سړي ته له ډېرې مودې جلا شویو ورونو په بېرته لېدو سره پیدا کیږي.

کله چې موږ له وروستۍ ډډې څخه راښکته شوو، بیرته تاو شوم او مخ پورته مې وکتل. سره بیراغونه لا هم د غره پر واورو پټ سر رپېدل. د تبلیغاتي ملګرو نه سترېدونکی غږ مې لا هم په غوږونو کې شرنګېدو.

*

*          *

کله چې د چیاچین غره لار مو ووهله، نو د څو ورځو لپاره په ماوکونګ کې دمه شوو. بیا د واورو په یو بل لوی غره، د مېنګپې په غره پورته وختلو. موږ د سخېچوان په شمال لویدیز کې چوکېچې ته ورسېدو، چېر ته چې موږ ځانونه له واښینو زمکو څخه د تېرېدو لپاره چمتو کړل. تر دې کار وروسته مو خپل سفر ته ادامه ورکړه.

د یو بې وریځو سهار ؤ، کله چې له چوکېچې څخه روان شوو. مخکې له دې چې شل لې لار ووهو، تیرې وریځې راغلې او ژر یو نرۍ شنونکی باران په راپرېوتو شو. موږ له یوه کندوالي شاني غره نه، چې په عجیبو پرخو انځور شوی ؤ، تېر شوو. هلته هېڅ نه وو، حتا د کړنګونو په اوږدو کې او د رژېدلو پاڼو دلیو کې د پښو یو

وړوکی منډ هم نه لېدل کېدو. يو څو شېبې وروسته د بريښنا غړزا شوه او باران په راکوزېدو شو. لويو ځاڅوکو او د څانګو د راپرزېدو متروکو موږ په بې رحمۍ سره شړکولو. د صدر کالی او زموږ بشپړ لانده شول.
تر غرمې وروسته څلورو بجو باندې تياره شوه. کڼ وربښت پرته له کمښته دوام وموند. موږ له هر موقتي هستوګنځي څخه ميلونه لرې وو. د صدر د سپرلۍ د ډيوې تيل مخ په خلاصېدو شول. موږ په تپې تيارې کې يو ګام هم نشو پورته کولای. په دې شېبې کې مو رڼا ته څه عاجل ضرورت ؤ! دا چې صدر خپله لار په ستونزې سره وهله او ډېر ستومان ښکارېده، زه په ډارووونکي توګه ناکراره شوم. فکر وکړی! کله به چې د خيمې وهلو ځای پيدا شو، نور به وېده شول، ده به د غونډو غم خوړلو، تېلېګرامونه يې لوستل، سندونه يې لېکل او داسې نور. دې په رښتيا سره څومره له انرژۍ څخه ډک ؤ!
"صدره، غواړو دلته تم شو." زما داسې اراده وه.
دی ودرېدو. له يوې شېبې فکر نه وروسته يې وويل، "ډېر ښه، ټولو ته ووايه."
خو اوس موږ په ستونزې سره مخ وو. زموږ نه ګېرچاپېره د اوبو ډنډونه، پرخې او تياره خوره وه. چېرته مو د ده لپاره ځای جوړولی شوای، چې ده خوب پکې کړی وای؟ خو د خپل عقل نه پکار اخيستلو او د يو څه زيار له پسئلو وروسته بريالي شوو، چې يو زانګو جوړه کړو او هغه هم په دوو ونو پورې وتړو.
د لمدې زانګو په لمسولو سره صدر په ټوکو سره وويل، "زه به د کيانګسي په سرووونکي تخت باندې وېده کېږم!"
د صدر خوش طبعۍ موږ تشويقولو. تل به چې موږ ستونزو وارخطا کړو، د ده څو نرمو خبرو به نه بدلېدونکي فضا ته بشپړه واړوله. د ده له خوښۍ نه ډکو ټوکو به موږ ته د ستومانيو په هېرولو

کې نوی ځواک رابخښلو. موږ ځانونه تیار احساسول، چې له هر ډول ستونزو سره مقابله وکړو.

کله چې صدر سر کېښود، موږ پیل وکړو، چې ځانونو لپاره یو ځای ومومو. باران لا هم ورېده. زه خوا او شا وګرځېدم او لاس مه په یوه کړنګ ولګېده. کله مې چې لاس د هغه پر سر تېر کړو، یوه سوړه مې وموندله! په خوشحالۍ سره مې فکر وکړ، یوه سمڅه! پرته له نورو سوچونو ورننوتم. دا یوه سمڅه نه وه، خو هسې یوه وړه خوڅه وه. بلکه دا هسې یو څه وو، چې له هغه نه باید منونکی وی. بې پروا له درده په ځنګ پرېوتم او سر مې په هغه سوري کې کېښود. خو پر ځمکه دومره ډېرې اوبه له کومه شوې؟ خوا او شا مې په لاس لمس کړه، نو پوه شوم، چې زه د اوبه په یوه واره ډنډ کې پروت وم. اوه، بې توپیره وه. ما خپله پنډه د ډنډ په خوله کې کېښوده او د صدر ماته چترۍ نه مې کار واخیست، تر څو باران له خپل ځان نه لېرې وساتم. که څه هم چې سر مې باران ته برابر شو، زه وېده شوم، کله مې چې سر په پرخه ولګېده.

کله چې زه راویښ شوم، لمر ختلی ؤ، او د ګڼو ځانګو له منځه ځلېده، که څه هم چې سهارنی غبار په درې کې لا پاته ؤ. باران دربدلی ؤ، او لوی ځاځکي له ونو ښځېدل. ما سترګې لا سمې خلاصې کړې نه وې، چې یو درد مې په مرمېره کې احساس کړ. دا یو نا آشنا درد ؤ، هغه هلته راپیدا کېده، کله به چې ما د زمکې په لور وکتل. کله به مې چې اوبه په مخ راوښځېدې، نو یوازې هغه څه چې ما کولای شول، دا وو، چې خپلې سږمې پورته سڼ وهم، که مې چېرې غوښتلای چې د درد مخنیوی وکړم. ما دا خبره دومره جدي ونه نیوله، ما فکر وکړ، چې داسې څه نه دي، چې د تشویش وړ وي. نو ما د هغه په هکله څه ونه ویل.

موږ خپل مارش ته ادامه ورکړه.

صدر مائو تل پام ساتونکی ؤ. دی لمړی کس ؤ، چې پام یې کېدو، که څه شی سم نه وو، او ما ته یې په ټوکو کې وویل، "تا ته

څه پېښ دي، چن چنګ-فېنګه، چې ټول وخت آسمان ته ګورې؟ الوتکو پسې ګورې؟"
پورته پانو ته مې کتل، ځواب مې ورکړ، " مونږ دلته دوه آسمانونه په سر لرو. د غليم الوتکې مونږ نشي موندلی، که څومره هم هوښيارې وي."
د ده بله پوښتنه دا وه، چې "بيا نو، په آسمان کې څه شی دي، چې دومره ستا پاملرنه ځان ته جلبوي؟"
زه ده ته پورته ورغلم. ومې ويل: "زما په مرمېږ څه شوي دي. زه ښکته نشم کتلی. هرکله چې غواړم سره وخوځوم، يو نه زغمونکی درد راځي."
صدر ځای پر ځای ودرېدو. "داسې جدي څه نه دي،" زه روان شوم. "وروسته له څو شيبو به هر څه ښه شي." ما نه غوښتل دی سودايي کړم.
زما وروستی خبرو يې جدي ونه نيولې، ده په مهرباني سره لاس زما په مرمېږ تېر کړ او تاو شو، چې چونګ فو-چنګ، طبي مرستيال ته ناري کړې، چې راشي او زما غم وخوري.
اوس نو هر يو ويښ شو. زه محاصره شوم. تسېنګ هسين-چي او بارورونکی چونګ يونګ-هو زما ستونزې ته يې خاصه دلچسپي واخيسته. دوی زما مرمېږ چاپې کړ او سر يې راباندې ومنډلو، زه يې دومره انديښمن کړم، چې له ډېره هيجانه مې خبرې هېرې کړې وې.
چونګ فو-چنګ په خورا پاملرنې سره معاينه کړم. بيا يې مخ په خندا سره صدر ته واړولو. ده وويل: "زه د دې ناروغ لپاره څه نشم کولی. ده بايد خپل مرمېږ د شپې لخوا رګ کړی وي!"
صدر يو څه آرام ښکاره شو. "خو مونږ بايد ده يو څه وکړو. تسېنګ هسين-چي، طبي قطعې ته ولاړ شه او له ډاکټر نه هيله وکړه، چې راشي او چن چنګ-فېنګ وګوري"

وړاندې تر دې چې زه "ضرور نه ده" وویلای شم، تسینګ هسن-چي وتلی ؤ.
د دې لپاره چې ما له لوېدو وژغوري، دی له ماسره، چې سر مې بښکته خوا ته نېولی ؤ، روان شو، صدر لکه د یوه پلار په شان، چې خپل ماشوم ته تګ ورزده کوي، له لاسه نېولی وم.
ده وویل: "تشویش مه کوه." هڅه یې کوله، چې ما ډاډه کړي. "ته به بشپړ جوړ شې!"
ډاکټر په بېړه راغی، له ما څخه یې په تفصیل سره ډېرې پوښتنې وکړې. زما مرمېز یې وکتو او یو ملهم یې پرې ووهلو. په لنډ وخت کې به دې مرمېز سپک احساس کړې.
کله چې ده ولېدل، چې زه مې سر بېرته تاوولی شم، صدر وپوښتل: "اوس هر څه سم دي؟"
ما سره وخوځاوه او ومې ویل، چې هر څه سم دي، په پایله کې ده وویل، "ته هم معجزه یې! د خوب لپاره چمتو یې، چې سر ورکړې!"

*

*            *

د غرونو او ځنګلونو تر شا پرېښودو وروسته ماوېرهګای ته راورسېدو. دلته ودرېدو، تر څو د چینګهای-سیکنګ له واښینو دښتو څخه د تېرېدو تیاری بشپړې کړو.
ما د ملاریا تبې تر اغېزې لاندې په کړېدو پیل وکړ. ما دا خبره پېته کړله. مخکې له دې، چې د چیاچین غرونو څخه تېر شو، په موږ باندې د غرو څخه د تېرېدو په بهیر کې څه یرغلونه ونشول. بیا نو زه بشپړ لوند شوم او اوس د اوږده مارش څخه ستومانه په ما د ناروغی سخته حمله راغله، په داسې حال کې، چې موږ چمتو شوو، تر څو زموږ د لارې په سر تر ټولو ستونزمن خنډ، واښینو دښتوڅخه، چې په خطرناکو جبو سمبال وې تېر شو. په داسې یو

وخت کې ناروغ اوسېدل نه یوازې یو شخصي بدمرغي وه؛ بلکه زه د خپلو ملګرو، مخصوصا صدر مائو لپاره یو بار او تشویش جوړ شوی وم. دی هم اوس کمزوری ؤ، او د ده جسه تر هره وخته زیاته لوږه ښکارېده.

ده دغه مهال په ډېرو غونډو کې برخه واخیسته. اکثرن د شپې تر ناوخته پورې یې دوام موندلو او پرته له کومې هوساینې به یې له رهبرۍ ملګرو سره په ستونزو باندې بحثونو ته ورووستنیو ساعتونو پورې ادامه ورکوله. که څه هم دی بوخت ؤ، تل به زما د لیدلو لپاره راتللو. کله به چې ده ولیدل، چې زه کمزوری یم، ده ډاډه کولم، په دې کې، چې ده ویل ولې موږ له دې واښینې دښتې څخه تېر شوو او د دې لپاره چې ما ترغیب کړي، ده به په زړه پورې کیسې، چې ده زده وې، ما ته نکلولې.

ما په ده کې د یوه پلار مینه احساسوله. ما د ده له خوا یوه ګرمي او د ده په وړاندې د یوه ژور درنښت احساس کولو، او ما ځان سخت ګرم ګڼلو. څنګه کېدای شوی، چې زه په داسې یو وخت کې ناروغ شم؟ زه د خپلو ملګرو لپاره بار شوې وم او د صدر پاملرنه مې له اصلي دندو څخه اړولې وه.

موږ نږدې یوه میاشت په ماړېرهکای کې تېره کړه. بیا مو بالاخره د ۱۹۳۵ د اګوست په منځ کې په واښینې دښتې پیل وکړ، پر کومې چې مخکې تر دې هېڅکله انسانان نه وو تېر شوي. موږ لا ۴۰ لي نه وو تللي، مخکې له دې چې یوه لرغوني ځنګله ته ورسېږو. د هغه ونې، چې لویې پنډې ستې یې لرلې، زموږ په سر یې سرونه آسمان ته رسېدل. کله به چې موږ د یوې شپې لپاره دمه کوله، نو د صدر مائو زانګو مو د په دوو ونو پورې تړله، خو ده به ندرتن په هغه کې آرام کولو. دی به له سړو سره په میټینګونو او کتنو کې بوخت ؤ. نو چونګ فو-چنګ، طبي مرستیال به ما ته په هغه کې د آرام اجازه راکوله.

يوه شپه زه هلته پروت وم، کله چې وختي تياره شوې وه. لښکرو ډېر اوږونه بل کړي وو. نه مرغانو او نه هم حيواناتو وړاندې تر دې په دې ځنګله کې کله اوز لېدلی ؤ. دوی ډار شوي وو، نا آشنا غږونه يې اېستل او يا يې خوا او شا وارخطا پروازونه کول او په پټه کښېدل(خزيدن). زما ملګري اور ته نږدې او تر هغه چاپېره وېده وو.

ما د صدر مره په ځان خوره او يوه نوې جوړه، چې ده په ماوېرهکای کې راکړې وه، اغوستې وه، خو ما ناڅاپه د يوې نه کنټرولېدونکي رېږدېدو راتګ احساس کړ. که څومره هم شديد رېږدېدمه، ځان سره مې ويل، چې زګېروی به نه کوم، چې نور راويښ نکړم. زه مخصوصن تر دې ډارېدم، چې چونګ فو-چنګ، طبي مرستيال وځوروم، ولې، چې که هغه پوه وای، چې زه ملاريا نېولی يم، نو هغه به ژر صدر مائو ته نکل وکړي، نو هغه به بيا نور د خپلې زانګو له کارولو څخه انکار وکړي. ما خپله ساه بنده کړه، زنګانونه مې تر زنې پورې راټول کړل او ځان مې کرار ونيوه. ناڅاپه مې يو لوی سيوری خپلې مخې ته احساس کړ. صدر مائو بېرته راغلی ؤ! ما هڅه وکړه، چې خپلې پښې وغزوم، خو هغه وېده شوې وې او له خوځېدو يې انکار وکړ. ما ونشو کولای خپل غږې کنټرول کړم. زما غاښونه غرمبېدل. زه يو مېرګې نېولي سړي ته ورته رېږدېدم. صدر زانګو ته راغی او پر ما راټيټ شو.

"څه پېښ دي چن چنګ-فېنګه؟" ده خپل لاس پر ما کېښود او چغه يې کړه، "چونګ فو-چنګه جګ شه! چن چنګ-فېنګ بيا ناروغ دی!" ده لوړ غږ ونکړ، خو د اور له چاپېره ټول راويښ شول، ټول ما ته رانږدې کېدل.

کله چې ما صدر مائو او نور ملګري ځان ته چاپېره ولېدل، چې په دومره تشويش سره يې ما ته کتل، داسې ښکارېده، چې ځواک مې وجود ته بېرته راګرځي، او زه وتوانېدم، چې پورته شم.

"سر کېږده." صدر امر وکړ او خپل دواړه لاسونه يې وکارول، تر څو ما بېرته په ځانګوکې تينګ کړي. ما هڅه وکړه، چې ودرېږم، خو يوه جوړه ځواکمنو لاسونو زه بېرته ټيټ کړم. ما خپل زور له لاسه ورکړ، چې مقاومت وکړای شم. کله چې ده وليدل، چې زه بېرته کرار يم، چونګ فو-چنګ ته يې وويل، چې ما ته څه دوا راکړي. بيا نو دی او نور ملګري د اور خوا ته بېرته لاړل، تر څو ويده شي.

سبا سهار، څنګه چې راويښ شوم، له زانګو مې راټوپ کړ. زه نه پوهېدم، چې زما ځواک له کومه شو، شايد د بېګانۍ شپې له ښه خوبه او يا شايد د صدر د پلا شاني غم خوړلو جادو اثر ؤ. لمړی څه چې ما وکړل، منده مې واخيسته، چې دی وګورم.

ده خپل لاسونه پر ما واچول او ويې پوښتل: "ځان بهتره احساسوې؟"

ما يوه خبره هم ونشوه کولی. زما اوښکې راروانې وې.

موږ خپل مارش ته دوام ورکړ. زوږ ځنګل مو شا ته پرېښود، او موږ دښتې ته ننوتلو. د وېجاړې جبې يوه خورا لوی واټن سره مخامخ شوو. يوازې يو سړی هم دلته نه اوسېدلو. هېڅ کورونه نه وو. وحشي وابنو په ولاړو اوبو کې په افراط سره وده کړې وه. داسي ښکارېده، چې پای نه لري. خيشته زمکه په يو نواخته توګه، چړپ-چړوپ، چړپ-چړوپ غږونو چړپېدله، لکه چې موږ په هغې باندې په کار لګيا وو. يو بې پامه ګام کولای شوی، تا ډاروونکي مرګ ختيني کندې ته ولېږي؛ ستا پېښه د خوسا ډنډ په لومه کې ګير کړي.يو وار به چې بند شوې، نو بيا ګرانه وه، چې د ملګر له مرستې پرته ځان راوباسې. ډېر ځله صدر زموږ څخه له ځينو سره په خپلو ځواکمنو لاسو مرسته وکړه.

هوا سړه او بدلېدونکې وه. کله به باران ورېدو، او کله به واوره ورېده. کله به ږلۍ راپرېوتله. هر ګام يوه ستونزه وه. صدر مائو زموږ په وړاندې روان ؤ. دی به له يوې شېبې لپاره کله نا کله

ودرېده، شاته به یې په دېرې پاملرنې سره وکتل او زموږ نومونه به یې اخیستل، تر هغې چې موږ ټولو هغه ته ځواب ورکولو. بیا به هغه مخ په وړاندې روان شو. کله به چې ده ولیدل، چې موږ ستومانه یو، ده به موږ ته کېسې او ټوکې نکلولې او موږ به له خندا نه نو چاودېدلو. او موم به خپله ستوماني هېروله.

هېڅ څوک نه ډونګېدل او نه یې ګېلې کولې. موږ هوډ کړی ؤ، چې له دښتي څخه تېرېږو او باور مو لرلو، چې موږ دا کار کولای شو. واقعا موږ د صدر مائو په ملتیا سره خوښ باوره وو.

لښکرې هم دښتې ته ننوتې وې. دو د یونیفورمونو یو رنګین دلې اغوستې وه. ځینې په خاورینو خړو یونیفورمونو کې وو، نورو د راز راز پوټکو څخه جوړ شوي کوټونه اغوستي وو، نورو مړې لکه د خولیو په شان په سرو غورځولې وې. ځینو د ګونجو مزرو خولې په سر کړې وې، نورو ماتې چترې وړلې. دې د زړو جامو اغوستنکې ډلې مړې جبې ته ژوند وربخښلی ؤ. دوی، لاس په لاس یوبل سره تړلې، په یوه کیله کې مارش کولو، ورو ورو، خو په کلکه سره مخ په وړاندې روان وو.

یوه ورځ مو ناڅاپه د آسمان په متروکه افق کې یو تور خاپ تر سترګو شو. څومره چې موږ مخ په وړانډ تللو، هغه پر له پسې لویېدلو. او زموږ هیجان هم له هغه سره زیاتېدو. هیلې زموږ په زړونو کې راوپارېدې. دا د پانیو ښار ؤ. زه نشم کولای زموږ احساس تشریح کړم. کله چې موږ بالاخره وروړسېدلو، صدر مائو او موږ باډیګاردانو یوه حواله یوه کور ته، چې تبتي کورنی په کې اوسېده، ورکړه. زموږ سړي ویاړلي وو. موږ د سرو اور ولګاوه، تر څو خپل لانده او نیم لانده کالي وچ کړو.

ژر وروسته بیا پاشي ته ورسېدو، او دلته د یوې عجیبې پېښې شاهدان وو: د خلوم مخکښ لښکر ځینې سړي ورو او خواشینې زموږ مخې ته د واښینې دښتې په لور د مارش په حال کې وو! موږ په دې پوه نه شوو او صدر مائو څخه مو د دلیل پوښتنه وکړه. ده ژر

ځواب رانکړ، خو د ده د مخ له حالت څخه موږ پوه شوو، چې دی سخت پارېدلی ؤ. بیا ده موږ ته وویل. دا د مرتد جان کو-تاو د دسیسې پایله وه، چې غوښتل یې ګوند منشعب کړي. دا دی ؤ، لکه د مریه توب چلوونکی، چې دغه بې ګناه ملګري یې وهڅول، چې غلطه لار وټاکي.

وروسته له یوې شېبې صدر مائو موږ وپوښتلو: "غواړی وګرځی او بیا له دښتې تیر شی؟"

موږ په یوه غږ سره وویل: "هېڅکله، بهتره ده چې له مرګ سره مخامخ شو،"

صدر ودرېدو او هغه خوارې، ستومانې ګنې ته یې وکتل، چې بېره یې په هغه لور مارش کولو، له کومې خوا څخه چې موږ راغلي وو. ده په ټینګ خو باورمن غږ سره وویل: "دوی به بېرته راشي! موږ باید د دوی مخې ته یوه لار خلاصه پرېږدو، چې دوی بېرته موږ ته راوګرځېدای شي!"

# د لیوپان په غره باندې

**په** تیاره کې د سپټمبر په منځ کې موږ لاتسېکو ته نږدې یوه کلي ته راورسېدو. ما د صدر بستره داسې هواره کړه، چې هغه څه آرام وکړای شي. کله چې زه بلې کوټې ته ولاړم، دی له نیح یونګ-چن، لیو یا-لاو او نورو رهبرانو سره په کنفرانس کې ؤ. مېز په نقشو پوښل شوی ؤ.
لاتسېکاو، چې په ستراتېژیکې درې په نوم پېژندل شوی ؤ، د سځچوان او کانسو ایالتونه یې سره تړل، او د عمده درو څخه یوه وه، چې موږ باید ترې تېر شوي وی، تر څو شمالي شنسي ته

رسېدلي وای. زه متیقن وم، چې صدر او نور په دې باندې غږېدل، نو زه پرته له څه خبرې په شا شوم. صدر د شپې تر ناوخته پورې وېده نه شو.
موږ په درې باندې په راتلونکې سهار د سپېده داغ پر مهال یرغل وکړ. د هغه تر نیولو وروسته موږ ونه ځنډېدو، خو مخ په ورانې لاړو.
د سپتمبر په پای کې موږ د وایشوی سیند له خنده په بنه توګه تېر شوو او د لیوپان په غرو وختلو.
د لیوپان غر، د لونګشان سلسلې یوه څوکه، په لویدیز کانسو کې تر ټولو لوړه څوکه ده. دا په دې توګه وروستی لوی غر ؤ، چې موږ باید ترې تېر شوي وای، چې شمالي شنسي ته رسېدلي وای. کله چې سرېيو واورېدل، چې له غره نه باید تېر شي، روحیه یې اوچته شوه.
آسمان وريځ ؤ او سوړ باد ټوله هغه ورځ، چې موږ باید پورته ختلي وای، چلېدلو. ژر د باران وربنت پیل وکړ. که څه هم موږ وختې لانده شوي وو، د غره لمنې ته په وخت ورسېدو او هېڅ څه نشوای کولای زموږ له پرېکړې نه مخنیوی وکړي.
د لیوپان غر د چیاچین په واورو پټ غره سره نشوای پرتله شي، کوم څخه چې موږ وخته تېر شوي وو. خو کله چې موږ یې په پېښو کې ودرېدو او پورته مو وکتل، کافي خطرناک ښکارېده. منډ تاوېده او راتاوېده. د ختلو په پیل کې وړې ونې وې، چې موږ رانېوی شوې. خو کله چې موږ څوکې ته نږدې کېدو، یوازې د وچو واخو غوټو څخه پرته هلته هېڅ هم نه وو. دا خورا ستونزمن تګ ؤ.
زه لا د جبې تبې له کبله کمزوری وم. منډ تر څوکې پورې تقریبن دېرش لي ؤ او ډېر کنډ کپر. کله چې موږ په نیمایي لار کې وو، ما په هوا پسې ساه ابستله. زما زړه په سختۍ سره پمپ وهلو، او زه له خولو سر تر پایه لوند شوم.

صدر مائو ژر هغه جسه، چې زه پکې وم، وپيژندله. هر کله هم چې موږ سختو واټونو ته رارسيدلو، د هغه لوی او ځواکمن لاس راغزيده او زه يې مخ په وړاندې کاږلم.
کله چې موږ څوکې ته نږدې کيدو، زه بل هيڅ ګام تللای نشوم. زما سر په زنګيدو شو، زما جسه داسې ښکاريده، چې په لامبو وهلو ده، او زه ناڅاپه لکه ډبرې راپريوتم.
زه تت پوهيدم، چې دوه لوی لاسونو ما سره مرسته وکړه، چې په پښو ودريږم، او ما د صدر مائو مهربان غږ واوريده، چې تسپنګ ته يې ويل، "طبي مرستيال راوله، چې ده ته ژر څه درمل ورکړي. د ده ملاريا بيرته راستنه شوې."
ژر چا دوې ترخې توټې زما په خولې کې کېښودلې، او ما ته د ځښلو اوبه راکړی شوې. زه تدريجن په رغيدو شوم. صدر مائو زما مرسته کوله، او تسپنګ او طبي مرستيال ما ته کتل. زما زړه په کرار شو. "دا ملاريا نه ده، صدره،" ما کوکه کړه. "يوازې خبره دا ده، چې زه ځواک نلرم. زه ډاريږم، چې زه به هيڅکله شمالي شنسي ته ونه رسيږم."
"ته به وکولای شې، مطلقن. تشويش مه کوه،" صدر په ډاډګيرنې سره وويل. "داسې هيڅ څه نشته، چې له ستونزو په باب تشويش ولرو. يوازيني شي په هکله چې تشويش بايد ولرو، هغه د ستونزو څخه ډار دی ستونزې يو څه ډاروونکې دي، کله چې ورسره مخ شو. خو هغه وړې زرې دي، که چيرې تاسو ځانونه وارخطا نکړی. له زړه نه يې وباسه. يوار چې موږ له دې غره نه تير شو، ته به بشپړ ښه شې."
د صدر خبرو زه باورمن کړم. خو ما نه غوښتل د هغه لپاره بار واوسم. "تاسو مخ په وړاندې لاړ شی، صدره،" ما ورته وويل. "زه به درپسې درشم، ژر وروسته له دې چې زه يوه څه آرام وکړم."

"دا به نه کوي."  صدر په ټینګار سره وویل. "هوا دلته نرۍ ده، او باران وربېږي. ته دلته آرام نشې کولای. ته باید، مقاومت وکړې، تر هغو پورې، چې موږ له دې غره تېر شو، بې توپیره ده، چې څه پېښیږي."
ده او تسېنګ زه ورلم او مخ په وړاندې لاړلو. صدر داسې بې کراره ؤ، ما غوښتل خپله لاړ شم، خو زما ټول وجود رېږدېده. ما یو ګام هم نشو اخیستلای.
صدر وپوښتل: "ته سوړ یې؟"
"تر هډوکو پورې سوړ شوې یم."
"دا کوټ واغونده او یو څه ګرمې اوبه وڅښه. ته به ځان بهتره احساس کړې، کله چې ته ځان یو څه ګرم کړې." صدر خپل کوټ راووېستلو.
ټول څه چې ده تر کوټ لاندې لرل، یو خړ کتان یونیفرم ؤ، کوم چې د ده لپاره هغه وخت جوړ شوی ؤ، کله چې موږ په تسوني کې وو. برسېره پر دې ده د شپې تر ناوخته پورې مخکې تر هغه کار کړې ؤ او په ساعتونو یې نن په باران کې مارش کړی ؤ. ما نه یوازې د صدر غم په غاړه اخیستی ؤ، بلکه د ده د بار برخه هم ګرځېدلې وم. څنګه کېدای شوای، چې د ده کوټ ومنم؟
ما هغه بېرته ټېله کړ. "زه یې نه غواړم. زه مارش کولی شم."
ما د هغه له اغوستلو څخه امتناع وکړه، او پر ځان مې فشار راوړ، چې روان شم. خو زه ډېر کمزورې وم. ما یو ګام واخیست او بې سده پرېوتم.
کله چې ما سترګې خلاصې کړې، د صدر کوټ مې په ځان کې ؤ. صدر په باران کې ولاړ ؤ، د منې باد د ده خړ نظامې یونیفرم رپولو. دی لا هم زما لپاره خورا ډېر خواشینی ؤ، خو یوې موسکا پیل وکړ، چې د ده کړه وړه روښانه کړې.
تسېنګ ما ته یوه کاسه د ښنلو اوبه راوړې او زما تر څنګه ودرېدو.

ګرمي په ما کې ننوتله. زما قوت داسې ښکارېده، چې بېرته راګرځي. ما ځان په پښو ودراوه او صدر ته مې وکتل. زما ستونی تنګ شو.

صدر خوشحال ؤ. "ځان بهتره احساسوې؟"

"ډېر ښه. ځو نو." ما ډېر څه غوښتل، چې ووایم، خو دا ټول هغه څه وو، چې وکړای شول.

"ښه دي. ته د سره پوځ یو واقعی سرتېری یې." صدر مائو زه په مهربانۍ سره په مټه وټپولم. "ځو نو."

په نیمه تیارې کې بالاخره د لیوپان له غره نه تېر شوو او دهغه لمنې نخ په بلې خواکې راورسېدو. ما خوا او شا وکتل.

"ته نارو غه، بریالی شوې." صدر وویل. "په دې ډول سړی د ستونزو سره لاس او پنجې نرموي."

مونږ په دې شپه د غره په پښو کې په یوه کلي کې خیمې ووهلې. زه په خپل ځای کې پرېوتم، د هر هغه څه په هکله مې فکر کاوه، چې په دغه ورځ پېښ شوي وو. "د صدر له غمخوروړلو او ډاډګېرنې پرته به شاید زه نن د لیوپان په غره کې مړ شوې وای." ما له ځانه سره وویل.

ما پرله پسې فکر کاوه، او اوښکو زما سترګې ډکې کړې. "زه به هېڅکله هغه څه هېر نکړم، چې صدر وویل." قسم مې واخیست. "بې توپېره ده، چې کله او چېرې، زه بې یې په یاد ساتم، تل تر تله."

# موږ په کور کې يوو!

**د** ليوپان غره له تېرېدو وروسته، موږ د کانسو د هوی سيمې ته د ننه شوو. د هوی خلکو موږ سره ډېر ګرم چلند لرلو. هر چېرې به چې موږ تللو، دو به راووتل او د سړک په غاړو به يې له موږ ځخه هرکلی کولو، د ګرمو اوبو سطلونه به يې موږ ته راکول او ويل به يې، "تا سو له کومه راغلي ياست؟ تاسو بايد ستومان واست، ملګرو. لطفن لږې اېشېدلي اوبه وڅښي." موږ په ندرت سره خلک ولېدل، چې له موږه سره په حان ژبې وغږېږي، وروسته له هغه چې موږ د

تبتيانو سيمي ته راغلي يو. موږ په دې توګه دلته ځان مخصوصن په خپل کور کې احساساوه، کله چې موږ ته د "ملګرو" په کلمې سره خطاب کېده. موږ د دوی څخه پوه شوو، چې زموږ ۲۵م سره پوځ، چې په جولای کې له دې سيمې څخه تېر شوی ؤ، په خپل کلک دسپلين سره په دوی کې ښه اغېزه اچولې وه. کله چې موږ شمالي شنسي ته نږدې کېدو، زموږ هيجان زموږ ستومانتياوې او رنځورې له موږ څخه هېرې کړې. موږ هيله کوله، چې موږ د شنسي پر ځمکه ژر تر ژره خپل راتلونکی "کور" ووينو.

يوه ورځ ژر وروسته له دې چې موږ د کانسو له هوانهسين له ښارګوټي څخه روان شوو، له يوې نرۍ لارې څخه په غره باندې د ختلو په حال کې وو. ناڅاپه مو پنځه سړي ولېدل، چې د آس په شا سپاره وو او زموږ خواته يې راځغستل. په ښکاره توګه ملګري، دوی جرمني مضر ټوپک تر ملا او سپين دسمالونه يې په سر پورې تړلي وو. کله چې دوی پورته راغلل، موږ ولېدل، چې دوی د شلو کلو په شا او خوا کې ځوان هلکان وو. کله چې د غره لمنې ته راورسېدل، نو له آسونو راښکته شول او زموږ خوا ته په پښو رارهی شول. "صدر مائو چېرته دی؟" دوی موږ په جګ غږ وپوښتلو.

زه ورغلم، چې دوی وګورم، او ويې پوښتم، چې څه غواړي.

يو زوړ سړی د دوی په منځ کې، چې ټول مخ يې خولې او په سختۍ سره يې ساه ايستله، په تاوده غږ سره يې وويل: "موږ زاړه ليو رالیږلي يو، چې يو ليک صدر مائو ته ورسوو. هغه چېرته دی؟"

زوړ ليو! دا ملګری ليو چيح-تان نه ؤ؟

"ملګرو" ما وپوښتل، "تاسو ملګري ليو چيح-تان رالیږلي ياست؟"

"دقيقن،" دوی په يوه غږ سره وويل. په دې لړ کې زاړه سړي ليک ما ته راکړ. ما د ليک سره صدر ته وځغاستل. کله چې صدر هغه ولوستلو، دی په خندا شو او ويې ويل، "ملګرو، تاسو ښه کار

کړی!" بیا دوی یوه شوي وو، چې هغه دی ؤ، - صدر مائو – څوک چې د شمالي شنسي خلکو یې تمه لرله، چې وروسته له مودو به یې وګوري. دوی پر ده راپنډ شول، هڅه یې کوله، چې له ده ته لاس ورکړي.

صدر هغه ځای ته پورته لاړو، چې لښکرو آرام کولو. د دوی په منځ کې ودرېدو، په جګ غږ یې وویل، "ملګرو، موږ نږدې شوي یو، چې د شنسي په شمال کې شوروي سیمې ته ورسېږو! زموږ ۲۵م او ۲۶م لښکرو د غلیم دوهمه محاصروي عملیات مات کړل او سرې یې راالېږلي، چې له موږ سره وګوري!"

په دې خبر سره غوغا او خوشحالي خپره شو. هر یوه نارې وهلې، خندېدلو او لاسونه یې له بل نه چاپېرول.

پنځه ملګري، چې راغلي وو موږ وګوري، د سنچاچن کلي په لور یې زموږ لاربنوونه په غاړه واخیستله. دغه شپه صدر له دو سره تر ډېره وخته پورې خبرې وکړې او دوی لپاره یې یو لیک ولیکلو. د حتا د دې وخت نه لرلو، چې ډوډۍ وخوي.

په سبا ورځ په یوه واړه کلي کې تم شوو، چې په نامه یې نه پوهېدو. هلته وریژې له اخیستلو لپاره نه موندل کېدې، یوازې ژړ-رنګي ږدن. موږ باډیګاردان ټول ختیزیان وو، د ږدن پخول خو لا پرېږده، چې مخکې تر دې مو په سترګو هم نه وو لیدلي. څه مو کړي وای؟ له هغه ځایه چې پریمانه وزې موجودې وې، موږ یوه غتټه په پیسو واخیستله او د پسینې غوښې څخه مو د شپې ډوډې چمتو کړه.

"ولې یوازې غوښه؟" صدر غوښتل پوه شي، کله چې موږ د وزینې غوښې ادوم،چې ده ته تیار کړی ؤ، ننه راوړل شو.

"موږ په دې کلي که نه وریژې او نه هم وړه لاس ته راوړو،" تسېنګ هسین-چې ژر وویل. "هلته یوازې ږدن وو، خو موږ نه پوهېدو، چې څرنګه یې پاخه کړو."

"پځول يې زده کړی، دا څه ستونزه نه ده،" صدر وويل. "موږ بايد د ژوند نوې دودونه زده کړو، کله چې نوي ځای ته راځو. ګونډې موږ به له لوږې ومرو."
موږ فکر وکړ، چې ولاړ شو او ځای پر ځای ړدن پاخه کړو.
"د هغه لپاره کومه بېره پکار نه ده،" صدر وويل. "پرېږدی، چې اوس د وزې غوښه اوس وخورو!"
د چوچيح او د کانسو-شنسي ويشوونکو غونډيو تر منځ ۸۰ لي سفر په ترڅ کې موږ د کومين تانګ د جګړه مار ما هونګ- کوی تر لارشوني لاندې سپرو لښکرو سره ۱۸ ځله وجنګېدو. خو کله به چې موږ د ما له سپرلو سره په اړيکه کې شوو، دوی به راوتښول. موږ په دوی پورې له ملنډې وهلو کار اخيستلو، چې دوی ته به مو ويل، چې دوی حتا د کوايچوو جګړه مار ونګ چيا-ليح تر مشرې لاندې د "کورخو-قورمې" لښکرو سره نشي پرتله کېدای (مانا يې دا چې د کورخي له قورمي نه هم پاسته)؛ دوی تر قورمې جوړولو وروسته يوازې د کورخو زباله وو.
د دې لښکر و په هکله د صدر کړو تبصرو په موږ کې د ټوکو شعور راپارولو. "دوی به جرئت ونکړي، چې وجنګېږي، کله چې دوی پوه شي، چې دا د چينی کارګرو او بزګرو سور پوځ دی،" ده تبصره کوله. "دو يوازې د تېښتې متخصصين دي!"
د غونډۍ په سر يو لويه دړه چې وتلې کرکټر يې لرلو ولاړه وه "ويشوونکي غونډې"، چې د کانسو او شنسي ايالتونو تر منځ پوله يې جوړوله. موږ د دړې تر څنګه د نصواری رنګه غونځيو ونې نه لاندې د هوسايني لپاره کېناستو.
صدر د دړې تر شا ليکل شوي حروف لوستل. "موږ تر اوسه لس ايالتونه تر شا پرېښودل،" ده موږ ته په هيجان سره وويل. "کله چې موږ له دې غره نه ښکته شو، موږ به په يوولسم ايالت - شنسي کې وو. دا زموږ د بنسټ سيمه ده – زموږ کور!"

يوه ورځ او نيمايي مارش موږ له ويشوونکي غونډې څخه د ووشي ښار ته راورسولو، چېر ته چې موږ په سمڅينو کوټو کې، چې د شګينو غونډيو په لمن کې ابستل شوې وې، اوسېدو. دا زموږ په ژوند کې لمړی ځل ؤ، چې موږ دا ډول سمڅې لېدلې وې. اوس موږ په شوروي سيمو کې وو.

صدر د رهبرۍ ملګرو سره په دې بحث، چې څنګه مو د ما هونګ- کوی سپاره مات کړل، بوخت ؤ.

زموږ سرتېري د راتلونکې جګړې سوچ راپارولي وو. "موږ يې د کور مخې ته کوو،" دوی ويل. "راځئ، چې د شمالي شنسي خلکو ته يوه ډالۍ د برې په بڼه وړاندې کړو!"

هغه لويه ورځ راورسېده. موږ د صدر سره د غره په سر ولاړ وو، کوم چې له هر راز شنېليو څخه لغړ ؤ. کله چې جګړه پيل شوه، زموږ مشينګنې په ګرارو شوې. ډارشوي آسان په ټولو خواو په ششنېدو سره ځغستل او هڅه يې کوله، چې د ګوليو له ږلې نه ځان وژغورې، خپل سپاره يې غورځول او له دوی سره له پانيونو څخه ګرېدل. څوک چې ژوندي پاتې شول، د خپل ژوندانه لپاره يې منډې وهلې.

دا يوه رښتيانی خوشحالي وه، چې د جګړې ننداره له هسې "لوی موقعيت" څخه وکړو. موږ نعرې وهلې، "صدره! موږ يوازې دوې پيښې لرلې، او دوی څلور، خو موږ دوی هره خوا د غره په لور تېښتې ته اړ کړل!" د به له موږ سره د خندا په عمومي تړک وهلو کې ګډون کولو.

د هغه په ترڅ کې چې لښکرو د ووشي په ښار کې دمه کوله، موږ صدر هسياشيهوان، د ګوند ايالتی کميټې او ايالتی شوروي زرې(مرکز) په لور بدرګه کړ.

کله چې موږ روان شوو، د واورې لويې څپولې په راپرېوتو شوې. کله چې موږ د اغره په زړه لار په ختو وو، که څه هم موږ ګڼ کالي نه وو اغوستي، خو چا د ساړه احساس نه کاوه. نيمه تياره

شوي وه، کله چې موږ هسیاشیهوان ته ورسېدو. موږ د ټوپکو ډزې د ډالو درزا او د خلکو د ګڼې ګونې غوریږ اورېدو. موږ له لېرې د کلي تر مخه په یوه پراخ میدان کې یوه لویه ټولنه کتې شوه. خلک انتظار وو، چې د صدر هرکلی وکړي. همدا چې دی يې تر سترګو شو، لېونی شورماشور يې پیل کړ. دوی د ټوپکو او ډالونو زوروور شور په منځ کې ټولنه په بېړه وخوځېده، سرې او شنې جنډې يې رپولې، چې دغه شعارونه پرې لیکل شوي وو:

د صدر مائو هرکلی وکړی!
د سره مرکزي پوځ هرکلی وکړی!
د شنسي – کانسو – نینګسیا شوروي سیمه پراخه کړی!
د غلیم دریم محاصروی عملیات مات کړی!
ژوندی دې وي د چین کمونیست ګوند!

په خپل اغوستي کوټ کې، چې له کیانګسي څخه يې درلوده، او له زړې پیکیزې خولې سره صدر سر خوځاوه او پرله پسې يې ګڼې ته لاس ښوررولو. بیا نو خلکو د رهبری ګڼ شمېر ملګرو ته لار خلاصه کړه، چې پورته راشي او له صدر سره لاس ورکړي. ملګري لیو چیح – تان او هسو تېح – لي د ۲۵م سره پوځ قومندانان هم د دوی په منځ کې وو. ملګري چو ېن- لای، تونګ پي- وو، هسو تېح – لي، لین پو- چو او هسیح چوېح – تسای د صدر مائو سره د هرکلي د منلو لپاره دربدلي وو. دوی ګرد چاپېره لاسونه سره ورکړل او یو او بل يې معرفي کړ.

ګڼې غورځې وکړ، "صدر مائو ښه راغلاست!" له هر خنډې ناري راپورته شوې، چې زمکه يې په خوځېدو راوسته.

تسېنګ هسین – چې او ما هم ناری کړې، "موږ بریالي شوو! موږ بریالي شوو!"

# صدر مائو

# زه ښوونځي ته ولیږلم

موږ تر راتلو وروسته ژر په شمالي شنسي کې هستوګن شوو.

د ۱۹۵۶ په پسرلي کې ملګرې مو وېن- هوا، د سره پوځ د اکادمۍ د سیاسي څانګې مشر، راغی، چې له صدر مائو سره وګوري او د اکادمۍ لپاره د زده کوونکو د جلبولو په هکله ورسره خبرې وکړي. د خبرو په لړ کې صدر زما په لور په تامل سره راوکتل او ویې ویل: "دلته ځینې مجربان په مرکزي ستاد کې شته

دي. هغه ښه ملګري دي، چې د اوږده مارش له امويني برياليو راوتلي دي. څنګه ده، چې د دوی ځينې تاسو ته د تحصيل لپاره درولېږو؟" ملګري مو د موافقت سر وخوځاوه او ويې ويل: "دوی ته ښه راغلاست، په تودوښې ښه راغلاست!"

يو سهار، څو ورځې وروسته، زه صدر لپاره د پرېمېنځلو اوبو لپاره لاړ وم، چې ده زه ودرولم او ويې ويل: "چن چنګ – فېنګه! زه تا د سره پوځ اکادمی ته لېږم، چې تحصيل وکړې! دا څنګه ده؟"

ما ژر ځواب ورنکړ. زما زړه چټک دربېده. هر راز چرتونه مې په سر کې راتول شول. زه، هغه ځوک چې هېڅکله ښوونځي ته نه يم تلې، ما چې په ماشومتوب کې د فيوډال لپاره رمې څرولې، يوه حقيقي ښوونځي ته لېږل کېږي! يقينن چې زه خوښ وم! خو زه له ده سره شېږ کاله يوځای وم. دا لنډه موده نه وه. د سختو ورځو په ترڅ کې، بې توپيره وه، چې څومره هم دی بوخت ؤ، ده تل ما ته پاملرنه لرله او ما ته درس راکولو. ده ځان زما سياسي او عمومي روزني ته او په ورځنيو ستونزو کې د ژوند ورو برخو متمرکز کړی ؤ. دا د ده پلارشاني پاملرنه وه، چې ما په تدريج سره د طبقاتي مبارزې په واقعيت او په نور ډېر څه پوه شوم. خو هغه څه چې تر ټولو مهم وو، دا وو، چې ما د ده له ورځني ژوند او کار څخه زده کړل، چې يو واقعي کمونيست څوک دی...

زما تردد يې چې ولېده، صدر بيا زه وپوښتم، "کومې پايلې ته رسېدلی يې؟"

"زه ... زه فکر نه کوم، صدره چې زه بايد لاړ شم."

"ولې؟"

"نور څه نه دي، بې له دې، چې زه نه غواړم تا خوشې کړم. د هغه تر څنګه، دا به هم هومره ښه نه وي، چې له تا څخه زده کړه وکړم؟"

صدر زما تر خوا راغی، خپل لاس يې زما په مټ کېښود او له ما نه يې وغوښتل، چې کښينم. زما په څنګ کې کښناسته، په يوې

پستې لهجې سره يې پيل وکړ، "چن چنګ – فېنګه ته بايد پوه شې، چې زموږ انقلابي بنسټ ورځ په ورځ پراخيږي. موږ کادرونه پکار دي، چې هر راز کارونو سرته ورسولای شي – ګوند ته وفادار کادرونه، خلکو ته وفادار کادرونه. ته اوس شپږ کاله کېږي، چې له ما سره يې. تا ډېره موکه په لاس کې نه لرله، چې درس ووايې. اوس ته بايد يوه ښوونځي ته لاړ شې، چېرته چې ته په سيستماتيکه توګه درس وويل شې. کله چې تا خپله زده کړه سر ته ورسوله، ته به ځواکمن وې، چې د ګوند لپاره بهتره کار وکړې، او زه به خورا خوښ وم. ته څه وايې؟"

ده ما ته په ډېره اغېزناکه توګه کتل، کله چې غږېده.

"خو، زه چې لاړ شم، نو څوک به ستا په چوپړ کې وي؟" زه پوهېدم، چې دا يوه ماشوميزه پوښتنه وه، کومه چې اوس ما وکړه.

"ته هغه ته بايد تشويش ونکړې،" ده وويل، په خندا سره. "کله چې ته لاړ شې، يو بل څوک به راولېږل شي، چې ستا ځای ونيسي."

زه ودرېدم، فکر مې داسې مغشوش ؤ، چې د اوبو سطل مې، مخکې له دې چې صدر د ځان وينځلو موکه پکې پيدا کړی شي، بېرته وېوړو. ما خپل روحي نشتوالی هغه دم احساس کړ، چې اوښکې مې په پاک نه کارول شويو اوبو کې توی شوې.

نو زما د ښوونځي د تګ خبره داسې سر ته ورسېده. ما يوه بې خوبه شپه تېره کړه، مخکې له دې چې له صدر نه لاړ شم، د درس د ارزښت په هکله، د ښوونځي راتلونکي ژوند په هکله، د صدر په هکله مې فکر کاوه. "څوک به زما ځای ونيسي؟ نوی ملګری به د صدر له عادتونو سره ژر بلد نشي، آيا دی به زموږ ګران رهبر ته ښه پاملرنه ولري او که نه؟" ډېر سوچ زما فکر بېرته ناکراره کړ.

زه له کټه کوز شوم او بهر ووتلم. ډېر ناوخته ؤ؛ د صدر په کوټې کې لا رڼا ځلېدله. ما داسې پرېکړه وکړه، چې وروستنې هيله ترې وکړم، چې ما له ځانه سره وساتي. خو کله چې زه کړکې ته نږدې شوم، همت مې له لاسه ورکړ. زه پوهېدم، چې که زه دننه لاړ شم،

دی به له ما سره وغږېږي. د کلونو تجربې راته وويل، چې زه بايد د ده د کار خنډ ونه ګرځم. زما کوچنې ستونزه د هغه د کار په پرتله، چې د ټول هېواد او ټول ګوند سره يې تړاو لرلو، څه اهميت لرلو. زه د پېښو په څوکو ببرته خپلې کوټې ته لاړم.

زه سبا سهار وختي را ولتېدم. لکه معمول زه د صدر دفتر ته لاړم، چې پاک يې کړم، ويې رېبڅوم، او لوښې سم کړم – هغه کار چې زه ښه ورسره بلد وم. خو زه اوس له دې ټولو شيانو څخه جلا شوی وم.

صدر رانٔوت، چې څه د کاغذو پاڼې او پنسلونه واخلي. "ته به ژر لاړ شې،" ده وويل. "هېڅکله د کوټې په فکر کې مه اوسه. څه دمه وکړه." پاڼې او پنسلونه يې ما ته په لاس کې راکړل، ده ادامه ورکړه، "دغه ستا د پاره دي، چې په ښوونځي کې يې وکاروې. ښه زده کړه وکړه. زما د لېدلو لپاره راځه، کله دې که وخت درلودلو."

ما د صدر ډالي واخيستې. ده ته مې کتل، ستونی مې نېولی احساسولو او سترګې مې ډکې شوې. ما يوه خبره هم له خولې نشوه اېستلې.

*

*          *

صدر جبهې ته لاړو، وروسته له دې چې زه د سره پوځ اکادمی ته ننوتلم. ما هلته ګرد سره څلوېښت ورځې زده کړه وکړه بيا د شمال لويديز امنيتي دفتر ته د امنيتي کنډک د ښوونکي په توګه ولېږل شوم. د همدې کال په اګوست کې صدر مائو د شنسي له جبهې نه ببرته راستون شوی ؤ او زه ورغلم، چې دی ووينم. په هغه شپېه کې چې زه د ده کوټې ته ورننوتم، دد لمړې پوښتنه زما د زده کړې په هکله وه.

"زه نور زده کړه نه کوم؛ زه اوس په کار بوخت يم،" ما ځواب ورکړ.

"کوم کار؟" صدر زه وپوښتم، یو سګرټ یې ولګاوه او د خبرو لپاره کېناست. ما له خپله کاره ورته وویل.
"ډېر ښه! څو کسه سږي لري؟"
"څه د پاسه دوه سوه."
کله چې صدر دا واورېدل، ما ته یې په تعجب سره وکتل او زه یې کش کړم. "څه د پاسه دوه سوه! دا په دې مانا ده، چې ته د یوه واړې لېوا قومندان یې!" (په هغه وخت کې زموږ لښکرو یوازې اویا تر اتیا تنو پورې سږي لرل.)
ما ځان د صدر له تبصرې یو څه بې واره احساس کړ.
"په خپل کار کې ښه مخ ته ځې؟" د ده راتلونکې پوښتنه وه. "د ښوونکې په توګې به دې زده کړې وې، چې څنګه په پاملرنې سره ودرېږې او هوسا واوسې؟"
په یادېږي مې، چې موږ د ځوانو ملګرو په توګه، کله چې د صدر په چوپړ کې وو، نو موږ به په تیارشې او داسې نورو حالتونو کې کمزورۍ نندارہ وړاندې کوله – صدر هم اوس له هغې مسئلې نه مقصد ؤ – ما په خندا سره ځواب ورکړ: "هو ما زده کړې. خو زه لا هم سمه وینا نشم کولی، مخصوصن د ماښامنې حاضرۍ په وخت کې...."
ده وخندل او ویې پوښتل: "کله چې ته خبرې کوې، سرتېرې په پښه ورځي او له میاشو څخه شکایت کوې؟"
په هغه وخت کې که چېرې د ماښام حاضرۍ معموله وینا ډېره اوږده او احمقانه وه، ځینې ټوکمار په لیکه کې یقینن په پښې ورتل او که تاسو پوښتلې وای، چې سبب یې څه ؤ، نو دوی به ویل چې میاشو وچیچل. صدر مائو داسې ښکارېده، چې زموږ د پوځ له ټوکو ښه خبر ؤ.
بیا یې په جدیت سره وویل: "اوس چې ته یو کدر یې، نو باید وینښ واوسې. کله چې خبرې کوې، مسایل څرګندوه، بې اړونده مه

غږېږه، هوايي خبرې مه کوه، معامله ګري مه کوه!" بيا ده وپوښتل: "ستا کسان ليکل او لوستل زده کوي؟"
ما ځواب ورکړ، "هو،" او کله چې ده وپوښتل، چې چا ورروښودل، ما ځواب ورکړ، "ما." "ښه، ته ښوونکى يې!" ده په جګ غږ وويل. "ته څنګه نورو ته ښوونه کولى شې، چې خپله دومره کم توري پېژنې؟"
"زه د زده کړې په ترڅ کې ښوونه کوم،" ما څرګنده کړه. "که څېرې کوم لغت وي، چې زه پرې نه پوهېږم، زه يې د زده کوونکو په جيبي قاموس کې ګورم."
کله چې صدر دا واورېدل، نو ما ته يې زېږورتيا راکړه: "دا ښه دي! په سختۍ سره کار کوه او په ستونزو بريا مونده! ستا په ياد دي، کله چې موږ په کيانګسي کې وو، هسيح چوېح – تساى، هسو تېح – لي او تسو چوان تا ته ښوونه کوله، چې لوستل او لېکل زده کړې؟"
ما سره وخوځاوه. څنګه مې هېرولى شواى؟ د کيانګسي په هغو ورځو کې، څنګه به چې موږ په کوم ځاى کې ځاى پر ځاى شوو، نو د رهبرۍ کادرونه به راوګرځېدل، موږ ته به يې درسونه راکول، ليکل او لوستل به يې راښوول. ملګري هسيح چويح – تساى، دي يوه به زموږ په زده کړې سره مخصوصه مينه لرله. صدر مائو، که څومره بوخت هم دى ؤ، هر څه به يې چې په وس کې وو، زموږ د زده کړې سره يې مرسته کوله، که يوه وزګاره شېبه به يې هم په واک کې وه.
په هغه وخت کې، او وروسته، سور پوځ به چې هر چېرې لاړو، شعارونه به تکوهل شول. صدر مائو به له موږ سره مرسته کوله، چې په دې شعارونو ليکل شوي توري زده کړو او بيايې موږ ازمويلو. دا دى ؤ، چې زما لاس يې ونيوه او ما ته يې د خپلې نامې ليکل رازده کړل. ده موږ ته په همدې توګه نور تول شيان هم راښوول. کله چې موږ د فوکين په لونيين، د سکرو د معدن په مرکزکې وو، ده موږ ته څرګنده کړه، چې د معدن لاندې پټلى څنګه

وهل شوې ده. کله چې موږ ځينو ګرمو چينو ته راورسيدو، نو ده به يې دليل موږ ته څرګنداوه. کله به چې تالنده او برېښنا وشوه، ده به راته ويل، چې دا څه شی وو.

کله چې موږ د کيانګسي په جويچين کې وو، صدر هم زموږ ټولو سره يوشان د سابو تخصيص لرلو. ده پخوونکی نه لرلو. وو چيح –چينګ او ما په بدلون سره دنده لرله، چې د ده لپاره ډوډی واخلو. کله به چې زه د مارکيټ نه راستون شوم، ما به د سابو نومونه په په خپلې کتابچې کې ليکل. يوه ورځ ده دغه ليستونه ولېدل او ويې پوښتل:

"دا ستا حسابي دي؟"

"نه،" ما ځواب ورکړ، "د کلمې دي، چې زه يې زده کومه."

"دا ښه لار ده، چې حروف زده کړو،" د تبصره وکړه. "آيا وو چيح –چينګ هم دا کار کوي؟"

کله چې ما ځواب ورکړ "نه، " ده ويل، "دا ډېره بده ده. ده ته ووايه، چې دلته راشي!"

ما وو ته نارې کړې او صدر ورته وويل، "سره له اوسه کله چې ته سابه اخلې، حسابي يې حتمن لېکه او رپوټ يې ما راکوه!"

له همدې سره وو لېکل او لوستل جدی ونيول. په دې توګه صدر مائو زموږ له روزنې سره ژوره مينه لرله.

# ماله صدر مائو سره خدای په اماني وکړه

کله چې زموږ مقاومت د جاپان پر ضد په بري سره پای ته ورسېدو، ګوند ګڼ شمېر کادرونه نویو لاس ته راغلو سیمو ته، چې هلته خلکو زموږ انتظار کاوه، چې خپلې نوې دندې پر غاړه واخلو، ولېږل. دغه وخت زه د ین آن په تونګکوان کې د عامه امنیت د دفتر تر لاس لاندې دفترونو مشر وم. یوه ورځ زه د ګوند د تشکیلاتو مرکزي دیپارتمنت له خوا زما د نوې دندې په هکله د بحث لپاره وروغوښتل شوم. کله چې زه هلته ورغلم، ما ته د هغه دیپارتمنت یوه ملګري وویل، ګوند په دې باندې فکر کوي، چې ما جبهې ته ولېږي

او زما څخه غوښتل شوي وو، چې د شانتونګ او شمال ختيز تر منځ يو غوره کړم. له مهمو شيانو څخه يو هم چې د کمونيست ګوند له غړي څخه غوښتل کيږي، هغه د ګوند د امرونه سر ته رسول دي. زه به هر هغه ځای ته، چې د ګوند ضرورت وي،لاړ شم. نو زه لاړم، چې ګوند زما لپاره پرېکړه وکړي.

ګوند پرېکړه وکړه، چې زه شانتونګ ته کار لپاره لاړ شم.

پخوا به چې کله زه کومي نوې دندې ته استول کېدم، هېڅکله هم دومره نارامه نه وم، لکه اوس چې ومه. داخل زه له ين آن څخه ډېر لېرې ځای لپاره تلم او ممکن زه بيا د اوږدې مودې لپاره بريالی شوې نه وای، چې صدر ووينم. کله چې زه بېرته کور ته راغلم، زما لمړی سوچ دا ؤ، چې دی ووينم او خدای په اماني ځينې واخلم. ما ده ته تيليفون وکړ او ده د سبا سهار لپاره يوه وعده راکړه.

د هغې شپې په ترڅ کې له هيجان سره ويښ وم. ما له خپلې مېرمنې سره خبرې اترې وکړې. ما دې ته د خپل ماشومتوب په هکله د صدر په هکله، زما په برخه کې د ده د پاملرنې په هکله، د ده د ساده ژوند طريقې په هکله د ده ګوند او خلکو ته وفادارۍ په هکله او ... په هکله وويل.

په راتلونکې سهار ژر تر سبناري وروسته زه د خپلې مېرمنې او ماشوم په بدرګې راولتېدم. کله چې موږ وانګجياپينګ ته ورسېدو، چېرته چې ده ژوند کاوه، هو چينګ – هوا د ده باډيګارډ موږ ته وويل: "صدر مائو په خپل دفتر کې له سهار وختي راهيسې ستاسو لپاره انتظار باسي!"

موږ دی انګړ ته تعقيب کړ. ملګرې چيانګ چينګ، د صدر مېرمن، دباندې راووتله، چې موږ ته ښه راغلاست ووايي. دې زموږ سره لاسونه راکړل او ماشوم يې په غېږ کې واخيست. دی په خپل پاسته يونيفورم کې لږ څه پنډ ښکارېده. ما ده ته د زړو ورځو په دود سلامي ووهله. ده موږ خپلې کوټې ته ورووبللو او کله چې کېناستلو، زه يې وپوښتم: "ته چېرته ځې؟"

ما ورته وويل، چې زه شانتونګ ته روان وم.
"داسې، شمالي شنسي ښخه ځې! څه ستونزې لرې؟"
ما ځواب ورکړ "نه". بيا يې زه وپوښتلم، که چېرې زما مېرمن او ماشوم مې ملتيا راسره وکړي او که چېرې په لار کې له ستونزو سره مخ شو. کله چې ما د ده پوښتنو ته ځواب ورکړ، صدر مائو ما ته نصيحت وکړ، چې دوی ته بايد ښه پاملرنه وکړم.
بيا يې زما د مېرمنې سره خبرې وکړې. دې راضي ؤ، له دې چې مور خوشحال کورنی ژوند درلوده.
ده له ماشوم سره لوبې کولې او موږ ټولو نه يې د هغه په هکله پوښتنې کولې. ده زما شانتونګ ته بدلون په هکله خبرې وکړې، ويې ويل، چې کله ځوک يوې نوې سيمې ته د کار لپاره ځي نو مجبورن دې ته اړ کېږي، چې د ستونزو سره لاس او پنجې نرمې کړي. "دا تا پورې اړه لري، چې د هغو د حل لارې ومونډې،" ده وويل او ما ته يې بيا وويل، "د پرګنو سره تړلې اړيکې ساته!" کله چې دی غږېدو، هو چينګ – هوا ته يې غږ کړ، چا چې دوه پاکټه کلچې او کانسرو شوې د غوا غوښه د ننه راوړه. ما ته يې په لاس کې راکړل او ويې ويل: "ته اوس روان يې. ما ښايسته څه نه لرل، چې تا ته يې درکړم، خو دلته څه شيان د سفر په ترڅ کې د ماشوم لپاره دي. "
ما په خپله برخه د يادښت يوه وړه کتابچه راوويسته او دی مې وپوښته، "صدر مائو، زه له تا ښخه ځم؛ غواړې يو څه زما د يادښت په کتابچه کې زما لپاره ولېکې؟"
د ژر تر ژره لاندې کرښې زما په کتابچې کې ولېکلې:

**ملګري چنګ چانګ – فېنګ ته،**
**سخت کار کوه. ګوند او خلکو ته وفادار اوسه!**
**زه ستا لپاره د هر راز بريا هيله کوم.**
**مائو تسه تونګ**

ده ما خپل يو عکس هم راکړ.

ځنګه چې زه له هو چينګ – هوا پوه شوې وم، صدر يوې غونډې ته تګ په مخې کې لرلو. زما مېرمن او زه چمتو شوو، چې روان شو.

"ځه بېره نشته." صدر وويل. "دلته د غرمې ډوډی لپاره پاته شی، کله چې زه غونډې ته ځم." ده هو ته وويل، چې موږ لپاره د غرمې ډوډی تياره کړي او ما ته اجازه راکړي، چې ځو قابه وخورم.

موږ وويل، چې موږ بايد د سفر لپاره تيارى بايد ونيسو، موږ د غرمې ډوډی لپاره نشو پاتي کېداى.

صدر له موږ سره بهر راووتلو، او ما ته يې بيا بيا وويل، چې ښه کار وکړم او ځان ته ښه پاملرنه ولرم. کله يې چې لاس را اوږد کړ، ما ټينګ ونيوه. ما يوه خبره هم ونکړاى شوه.

ما ين آن د ۱۹۴۶م د مې په ۱۸مه خوشې کړ. د ډېرو کلو په ترڅ کې، چې وروسته له هغه تېرې شوې دي، که زه د مرچل په کرښو کې وم او يا مې د سولې جوړښت لپاره کار کاوه، ما تل احساس کاوه، چې زه لا هم د صدر مائو سره يو ځاى يم. زما ځواک او باور به زياتېدو، هرکله به چې د ده په هکله فکر کاوه. د ده انځور او د ده په ليکلي پيام سېنګار شوې زما د يادښت کتابچه زه لاهم تر دې ورځې پورې له ځانه سره لرم. زه به تل هغسې کوم، چې ده ويل – په خپل کار کې تر ټولو ښه زيار کاږم او ګوند او خلکو ته وفادار پاتې کېږم.




د صدر مائو لاسلیک د لیکوال د یادښت په کتابچه کې

**ملګري چنګ چانګ – فېنګ ته،**
**سخت کار کوه. ګوند او خلکو ته وفادار اوسه!**
**زه ستا لپاره د هر راز بریا هیله کوم.**
**مائو تسه تونګ**
**د ۱۹۴۶م کال د مې ۱۷مه**

# پیوستون
# خوشحالي خاطرې

دولس کاله، له هغې راهیسې تېر شوي، کله چې زه له صدر مائو ښخه په ین آن جلا شوم. دا د ۱۹۴۶ د مې ۱۷مه وه، زما یادېږي، چې زه ورغلم، چې له ده سره خدای په اماني وکړم، مخکې له دې چې د شانتونګ په لور روان شم. ده ما سره ښې خبرې درلودلې.
"داسې نو، ته شانتونګ ته روان یې؟" صدر پیل وکړ. "هغه ښه ځای دی. موږ هلته لوی انقلابي بنسټ لرو. له هغه ځایه چې موږ په وروستیو وختو کې ډېر سیمې آزادې کړې دي، نو کادرونو ته اړتیا ده، چې مختلف کارونه سرته ورسوي. کله چې ته هلته لاړ شې،

حتمن د سيمه ايزو مسئولو رهبرۍ ملګرو او په سازمان کې هغو کسانو ته، چې ته وربدل شوي يې، احترام ساته. ته بايد د سيمه ايزو کادرونو سره يو شې او ښه همکاري ورسره ولرې."

د ده مشورو ته مې په غور سره غوږ نېولى ؤ. ما خپله د يادښت کتابچه راووېستله او ده نه مې هيله وکړه، چې څه کلمې په کې وليکي. د دا کار وکړ (هسې چې په تصوير کې ښکاري) او خپل انځور يې هم لاسليک کړ او ما ته يې راکړ. زه له هغه وخته راهيسې د هغو درنښت کوم.

زما هغه ورځ را په يادېږي، چې د صدر په چوپړ مې پيل وکړ، لمړی د خادم په توګه، بيا د باډيګارډ په توګه او څنګه د اوږده مارش په اوږدو کې له ده سره روان وم. زه شپاړس کلن وم. په واقعيت کې صدر په ما باندې پاملرنه لرله، د دې پر ځای چې زه په هغه پام وساتم. د ما ته د انقلاب واقعيتونه څرګندول، ما ته يې درس راکاوه، چې څرنګه بايد سرې وليکي او ولولي او زما لپاره يې زما کورنۍ ته ليکونه ليکل، هرکله به چې زه د خپلې کورنې په فکر کې شوم. د مارش په شپو کې په سختو بارانونو کې، ده د تونانونو په منځ کې ډېوه نبوله او لار يې په هغه روښانوله، تر څو زه ونه لوېږم. يوه نه هېرېدونکې پېښه هغه وه، چې د ليوپان له غره د تېرېدو په ترڅ کې زه د ملاريا په ناروغۍ کې ډېرې ورځې پرېوتم. مخکې له دې چې زه د غره څوکې ته ورسېږم، ټول وجود مې په رېږدېدو پيل وکړ او بيا بيسده شوم. صدر خپل کوټ راووېستلو، چې زه يې واغوندم او دی خپله په نريو جامو کې په ساړه باد کې ودرېدو.

زما تر فزيکي روغتيا ده زما د زده کړې سره نور هم لويه لېوالتيا لرله. کله چې د ۱۹۳۶م په فبرورۍ کې زه له ده څخه د سره پوځ اکادمۍ ته لاړم، ده په جديت سره وويل، "دا يو ښه شی دی، چې زده کړه وکړې، نه د دې لپاره چې ته يو رسمي مقام غواړې، بلکه د دې لپاره چې ته به ځواکمن شې، چې خلکو ته ډېر کار

وکړي. طبيعی ده، چې ته به په زده کړه کې يو څه ستونزې ولرې.
خو تر هغه چې تا پرېکړه کړې وي، چې خلکو ته خذمت وکړې، نو
ته به په ټولو ستونزو بريا ومومې."

زه لا هم د يوه ځوان په توګه وم، کله چې ما په ين آن کې د
عامه امنيت په دفتر کې کار کولو – کله به مې هم چې موکه موندله،
صدر ته به ورتللم، خلاص زړه خبرې ورسره ولرم. ما هغه وخت
ښه اندازه اهميت تر لاسه کړ، چې ترفيع او مقام ته ورسېږم. ما فکر
کولو چې د ښوونکې په توګه وروسته له څلورو کلو کار څخه زه د
ترفيع وړ ګرځېدلی يم. يو وار مې صدر ته وويل، "صدره، څه موده
نور ته فکر کوې، چې زه د ښوونکې په توګه پاتې شم؟"

"يو معلم اوسېدل هم يو انقلابي کار دی. فکر کوې، چې ته يو
مامور واوسې؟" ده زه وپوښتم. "کمونيست ګوند د هغه چا ځای نه
دی، چې يوازې د رسمي مقام په فکر کې وي. موږ ټول يو شان
يوو، موږ د خلکو لپاره کار کوو – که چېرې مامور وو که نه وو.
هېڅ څوک هم له کومه ځايه دلته نه راځي، که چېرې دی د ترفيع او
يا شتمنی غونډولو په فکر کې وي."

ما د ټکي ډېر پاروونکي وموندل. هغو پر ما ژوره اغېزه وکړه.
د ټولو کلونو په اوږدو کې، له هغه وخت راهيسې، چې زه له ين آن
څخه د شانتونګ په لور راووتم، کله هم چې له يوې دندې نه بلې ته
بدل شوې يم، ما په هره دنده کې په لوړ احساس سره کار کړې، پرته
له دې چې خپل ځان ته شخصي پاملرنه ولرم، ولې چې ما د صدر
خبرې د خپلې موخې او د خپل ځواکمن د سرچينې په توګه منلې دي.

اوس دولس کاله کيږي، له هغه وخته چې ما له صدر مائو سه
خدای په اماني وکړه او زه تل لېوال يم، چې دی ووينم. د جګړې په
کلو کې، کله چې د آزادي شوېو سيمو اړوند د غليم په اړه پرې شوی
ؤ، سخته وه، نو ما يوازې کولای شوی ده ته وليکم. د ملي برې
راهيسې مې ډېر غوښتل، چې پيکنګ ته لاړ وای او له ده سره مې

کتلي وای. خو د کار په وجه زه په هغه موقعيت کې نه وم، چې دا کار وکړم.
يوه ورځ د ۱۹۵۳م په فبرورۍ کې، کله چې ما يو پوځي ټولګی په نانکېنګ کې د تياشۍ په حالت کې درولي ؤ، امر مې تر لاسه کړ، چې زه د خپلو صنف ملګري ټول کړم او ولاړ شم، چې يو مشخص مرکزي ملګری چېرته ولېږم. دا د رهبری ملګری، چې ما ځان ته څرګنده کړه، پرته له صدر مائو څخه بل څوک نه ؤ. زه زخت ډېر هيجاني وم. کله چې دی زموږ په کتو سره تېر شو او توپيزې بېړۍ ته ورختلو، د خدای په امانۍ لاس يې د سيند په غاړه ګنې ته خوځاوه، زه خاربنت ونيوم، چې کربني ماتي کړم او پاس ورروځغلم او ده سره يوه خبره وکړم. ښکاره وه، چې دا نشوو کېدای. هغه څه چې ما کولی شوای، دا وو، چې د بېړۍ ننداره وکړم، چې څنګه له ډکې (د بېړيو اډې) څخه په شا تنبېږي او ورو ورو له نظره ورکيږي.
څه موده وروسته، کله چې د قاعدې په اساس د پوځ افسرانو ته د رخصتۍ اجازه ورکړای شوه، ما پيل وکړ، چې زه د تياري لپاره په سپما بوخت شم، تر څو له خپلو رخصتيو څخه بهترينه ګټه پورته کړم او خپله اوږده هيله، چې صدر په پيکېنګ کې وګورم، سرته ورسوم.
خو زه له يوه ناڅاپه زېري سره مخامخ شوم. د ۱۹۵۸م کال د اګوست په ۹مه يوه لويه ورځ وه. کله چې ما د شانتونګ د ايالت په تسينان کې د ګوند په يوه پوځي کانګرس کې ګډون کولو، صدر مائو راغی، چې د استاذو هيئت ووينې. کله چې ما دی ولېده، چې د موټر څخه راښکته کيږي، نو خورا خوښ وم، کله چې زه متيقن شوم، چې زه توانيږم، چې له ده سره وغږيږم، ولې چې زه په ګروپ کې شامل وم. کله چې دی له موږ سره ناست ؤ او عکس مو سره اخيسته، ما په بې کراری سره تلوسه لرله، له دې چې څه به ورته وايم. کوم چا بايد ورته ويلي وي، چې زه په ګروپ کې وم. ده زما پوښتنه وکړه.

په لويې بېړۍ سره زه ورغلم. کله چې ما سلامي ورته ووهله، ټول هغه څه مې چې غوښتل ورته ووايم، هېر کړل. زه له احساساتو ګونګی شوې وم. دا دی ؤ، چې لمړی يې خبرې وکړې، "دا چنګ چانګ – فينګ دی، که نه دی؟"

"هو،" زه ژولی وغږېدم.

ده لاس را اوږد کړ، کوم چې ما په دواړو لاسونو کې ونيوه.

زه داسې هيجاني وم، چې هېر مې کړل، چې دی وپوښتم، چې څنګه دی.

"تر لسو کلو ډېره موده وشوه، چې سره جلا شوي يوو،" صصدر پيل وکړ. "څنګه يې؟"

"دولس کاله کيږي!" زه بريالی شوم چې دا ووايم. "ته ښه يې صدره؟"

"چېرته بوخت يې؟"

"په يوه لاس لاندې پوځي زون کې،" ما ځواب ورکړ.

سياسي لاربنود لي او مرستيال لاربنود تونګ، چې زما تر څنګه درېدلي وو، صدر ته يې وويل، چې زه د يو لاس لاندې پوځي زون مرستيال قومندان يم.

"داسې، ته اوس يو قومندان يې!" صدر په خندا سره ووېل. "ته کورته کله تلی يې؟"

"زه يوار په ۱۹۵۳ م کې بېرته تلی وم. "

"هغه ستا زوړ کور په نينګتو کې ؤ؟"

هغه يقينن يوه عالي حافظه لرله! ورروسته له دومره ډېرو کلو لا هم د ده په ياد وه، چې زما کور په نينګتو کې ؤ.

"ځوک دې کورنۍ ده او ځوک دې اوس د کورنۍ غړې دي؟"

ما ده ته د خپلې کورنۍ په هکله ووېل – چې څنګه دوی د يوه کرهنيز کواوپراتيف غړي شول او څنګه د دوی د ژوند شرايط بهتره شول او داسې نور.

"اوس څو تنه ماشومان لرې؟"

"ځلور."

"ډېر ښه!" ښکارېده، چې خوښ ؤ، چې په دې باندې پوه شو.

وریسې یې وپوښتل، "او د څومره عمر یې؟"

"تر ځلوېښتو پورته،" ما وویل.

"څرنګه ځلوېښت؟"

"ځلورځلوېښت!"

ده له خندا شین شو. "دومره ځوان نه نو!"

زما لاس ده په خپلو داوړو لاسو کې وکړچاوه، ده وویل، "ډېر ښه! موږ به بیا یوبل سره وګورو!"

د ده منګولې ځواکمنې وې. دی تر پخوا په خورا ښه صحي حالت کې ؤ. ده یو سپین کمیس اچولی ؤ، خړ پتلون او زاړه چرمي بوټونه یې اغوستي وو او د تل په شان ساده او غیر رسمی ؤ. ما د ده مسئوله جسه څارله، چې په کلکو ګامونو سره د هغه موټر خواته روان ؤ، چې ده ته ماتل ؤ، چې بویې ځي.

د ورځې په زړه پوري ناڅاپه زېرې ما ته یوه بې خوبه شپه راپه برخه کړه. زه ویښ پروت وم، خابرې مې په سر کې تېرولې، کومو چې زه زړو ورځو ته د صدر څنګ ته ورروستلم.

# پیوستون

# د اوږده مارش په هکله

**د** چین د کارګرانو او بزګرانو سره پوځ دوه کاله ونیول (د ۱۹۳۴ اکتوبر – د ۱۹۳۶ اکتوبر)، چې خپل نړیوال مشهور اوږد مارش له جنوبي بنسټونو څخه په فوکین او کیانګسي کې پیل او په شمالي شنسي کې یې بشپړ کړي، چې ۲۵۰۰۰ لي، چې له۱۲۵۰۰ کیلو مترو سره سمون خوري، اوږد واټن یې درلود. د یولسو ایالتونو له منځه یې خپله لار په جګړې سره ووهله، د غلیم په سل هاؤ زره کسانو ځواکمنو کړیو ماتولو په ترڅ کې سره پوځ په واورو پوښل شویو غرونو او ستراتیژیکو درو په سر وختو، ناویسا سیندونه یې مات کړل او ناوهل شوې واښینې دښتې یې تر پښو لاندې کړې. د

جنګیالیو بې ساري زړورتیا او زغم د کمونیست ګوند تر لارښوونې لاندې د خلکو په پوځ کې د جګړې لپاره د ځواک د حجم ښکارندوی وو، چې د ټولو غلیمانو په وړاندې نه ماتېدونکی ؤ.
لاندې یوه ارزونه ده، چې اوږد مارش څنګه رامنځ ته شو او بري ته ورسېدو، او د هغه تاریخي ارزښت په هکله.

*

*          *

کله چې په ۱۹۳۱م کې جاپاني امپریالیستانو شمال لویدیز اشغال کړ، چین له یوه خطرناک حالت سره مخ شو. د کومینتانګ رژیم، په هره توګه د خلکو غوښتنه، چې د جاپاني تېري کوونکو په وړاندې باید مقاومت وشي او له هېواد څخه ساتنه وشي، له نظره غورځوله، د جاپان په وړاندې یې د مقاومت نه کولو پالیسي غوره کړې وه. دوی خپل یرغلونه د چین د کمونیست ګوند په انقلابي بنسټونو باندې متمرکز کړي وو.
د ۱۹۵۳م کال په اکتوبر کې چیانګ کای – شېک یو میلیون کسیزه لښکر راغونډ کړ او خپل پنځم محاصروي عملیات یې د انقلابي بنسټونو پر ضد – عمدتن د کیانګسي په ایالت کې د مرکزي بنسټ پر ضد، چې جویچین یې مرکز ؤ، پیل کړل. تر هغه وخته پورې سور پوځ په ټول هېواد کې ۳۰۰۰۰۰ کسانو ته وده کړې وه؛ ولسي وسله وال ځواکونو هم لوی پرمختګ کړی ؤ. ډوډۍ او نور مواد تر پخوا ښه رسېدل. د ځمکو بنسټیزو اصلاحاتو په انقلابي بنسټونو کې، د اقتصادی جوړښت پرمختګ او د خلکو د ژوند په شرایطو کې مثبت بدلون پرکګنې – مخصوصن بزګران – د انقلابي جګړې ملاتړ ته وهڅول.
ده هغه کال په نومبر کې د فوکین پېښه رامنځ ته شوه. ۱۹م لاریز پوځ، چې اساسن د کومینتانګ تر امر لاندې وه، د تساي تینګ – کای له خوا رهبري کېده، له لي چي – سهېن او د کومینتانګ له

نورو غړو سره يوځای شوه، ترڅو "د چين جمهوريت د خلکو انقلابي حکومت" په فوکين کې جوړ کړي، او د سره پوځ سره يې يو قرارداد يې لاسليک کړي وو، چې د چيانګ کای – چک سره به مخالفت او د جاپان پر ضد به مقاومت کوي. په پايله کې سره پوځ په دې محاصروي عملياتو کې تر نورو ځلورو عملياتونو ګتور شرايط ترلاسه کړل.

په بدمرغۍ سره کمونيست ګوند د دريمي "کيڼي" مشي تر اثر لاندې ؤ. "کيڼ" اوپورتونيسم، چې د ګوند کنترول يې په لاس کې ؤ، په ۱۹۳۳م کې مرکزي انقلابي بنسټ ته تر ننوتلو وروسته، د ملګري مائو تسه تونګ له سره تېر شول او د بنسټ او سره پوځ رهبري يې په لاس کې واخيسته. دو د ۱۹م لاريز پوځ سره بنه ګډ کار ونکړ، داسې چې وروستني لاړل، چې په خپله خپل ځان وساتي، د چيانګ کای – شيک له خوا له منځه ولاړل. خو، هغه څه چې نور هم جدي وو، دوی د ملګري مائو تسه دون له ستراتيژۍ څخه سرغړونه وکړه او پيښ لټونتوب (ماجراجويي) يې په يرغل کې غوره کړ، هغه هم په دې کې چې دوی د کومين تانګ په بهترو وسلو سمبال شويو لښکرو په وړاندې په منظم او مرچليز جګړې لاس پورې کړ، چې سره پوځ ته يې غټ تاوانونه ورسول. بيا يې په مدافعې کې محافظه کارۍ ته مخ راوړو، چې په هغې کې دوی کاملې مدافعه ترسره کړه او ځواکونه يې خواره کړل، چې په پايله کې يې سور پوځ په پسيف موقعيت کې واچاوه. که څه هم وروسته له يوه کال جګړې څخه سره پوځ ځينې برخه ايزې برياوې لاس ته راوړې، خو د غليم محاصره يې ماته نکړای شوه. برعکس بنسټونه سره يوځای ته شول او سور پوځ پرله پسې ستومان شو.

په داسې شرايطو کې، د دې لپاره چې د جاپاني يرغلګرو په وړاندې خپل ځواک او جګړه ژوندي وساتي، سره پوځ پرېکړه وکړه، چې بله الترناتيف نشته، پرته له دې چې د غليم کمربندونه مات کړي او په اوږده مارش لاس پورې کړي.

د ۱۹۳۴ کال په اکتوبر کې د لمړي مخکښ پوځ عمده ځواک، ټول ۸۵۰۰۰ کسه (او یا د دولتي مامورینو سره ګډ ۱۰۰۰۰۰ کسه)، د کمونیت ګوند د مرکزي کمېټې تر مستقیمي رهبر لاندې، له مرکزي بنسټ نه يې په اوږده مارش پیل وکړ، یوازې یو کوچنی ځواک د چن يي او نورو ملګر په لاربسوونه له بنسټ څخه روان شول، چې ګوریلایي جګړه پیل کړې او له عمده ځواک څخه د محاصرې په ماتولو کې ملاتړ وکړي. د څلورو محاصروي کرښو په ماتولو سره ، چې د غلیم په ۴۰۰۰۰۰ لښکرو سنبال شوې وې، لمړی مخکښ پوځ د ۱۹۳۴م په نومبر کې د هونان او کوانګسي سرحد ته ورسېد او د هونان-هوپیح-سځېچوان-کوایچوو بنسټ په لور، چې د دوهم مخکښ پوځ له خوا جوړ شوی ؤ، روان شول. چیانګ کای-شېک، چې د سره پوځ د دوو عمده واحدونو د یوځای کېدونه له ځواک څخه د مرګ ډار درلوده، د سره پوځ په پرتله شپږ ځله لوی ځواک راغونډ کړ، تر څو سور پوځ په لوېدیز هونان کې راګیر کړي. ده په همدې توګه د کوانګسي جګړه مارو ته هم امر وکړ، چې په سره پوځ له شماله یرغل وکړي، هڅه وکړي، چې سور پوځ محاصر او له منځه وېسي. حالت جدي ښکارېده. د صدر مائو تسه تونګ په ټینګار او د عمده ملګرو په ملاتړ سره لمړي مخکښ پوځ خپل لوری بدل کړ او د کوایچوو په لور مخ په وړاندې لاړل، چېرته چې د غلیم مدافعه کمزورې وه، ژر يې کوایچوو اشغال کړ. د ۱۹۳۵م په جنوری کې له وو سیند، یو طبیعي خند، څخه تېر شو او تسونيي، د شمالي کوایچوو تر ټولو ستر ښار يې ونیوه. هلته ۱۲ ورځې دمه شو، چې دهغه په ترڅ کې يې خپلې کرښې په تقريبن ۵۰۰۰ نویو جنګیالیو بیا ډکې کړې. کمونیست ګوند په همدې توګه د مرکز سیاسي دفتر لویه غونډه – د تسونيي کنفرانس – يې راوبلله، چې د چین د انقلاب په تاریخ کې خورا لوی اهمیت لري.

سره پوځ د چیانګ کای – شېک د پنځم محاصروي عملیاتو په ترڅ کې د غلط "کین" سیاست په پایله کې ماتې وزغملې، هغه

ملګري، چې "کينې" اشتباه ګاني يې کړې وې، وحشت ځپلي شوي وو. دوی د اوږده مارش په پيل کې ونکړای شول، چې ښه تبليغاتي کار وکړي. بيا، د اوږده مارش په بهير کې د دوی د فکر بنسټ له غليم سره مخامخ کېدو نه مخنيوی ؤ، چې په پايله کې يې سور پوځ اکثرن پسيف دريز غوره کړ او روحن وځپل شو. دوی په همدې راز خورا لويه قومانده او لوژيستيکي سازمانونه جوړ کړل، چې پايله يې د لښکرو د خوځندتوب راوپرېوتل وو. د غليم په محاصرې او تعقيب سره سور پوځ څو ځله نا مطمئنه موقعيت ته ولوېدو. کله چې لمړی مخکښ پوځ د ۱۹۳۵م په جنورۍ کې تسوني ته ورسېدو، خپل ۶۰٪ سرې يې له لاسه ورکړي وو.

جدي وضعې، د هغه برياو په پرتله، چې د غليم د څلورو محاصروي عملياتو په ماتولو کې لاس ته راغلې وې، ونشو کولای، چې د رهبرۍ غړو منځنيو غړو او ساده غړو سترګې د دې حقيقت پر مخ خلاصې کړي، چې هرڅه د مائو تسه دونګ له سمې مشې د ردولو او غلطې مشې ته مخ راوړلو په پايله کې له ماتې سره مخامخ شول. په لښکرو کې شک او ناراضی توپ په لښکرو کې راپورته شو او ديو د رهبرۍ په غړو کې د بدلون غوښتونکي شول. د ملګري مائو تسه تونګ په لاربښوونه يو پرېکړنده مبارزه د "کېڼ" اوپورتونيسم په وړاندې روانه شوه، چې د تسونيي په کنفرانس کې خپلې لوړې څوکې ته ورسېده، کومې چې په ګوند په مرکز کې د "کېڼ" اوپورتونيسم برلاسي ته پای ورکړ او سمه رهبري يې د مائو تسه دون په مشرۍ رامنځ ته کړه. په دې توګه ګوند او سور پوځ په لنډه کې د پېښ خطر څخه وژغورل شول. د تسونيي کنفرانس د ګرځون يو ټکې (نقطه عطف) او تاريخي اهميت په نښه کوي، کوم چې ګوند يې په دې ځواکمن کړ، چې اوږد مارش په بري سره پای ته ورسوي، د اوږده مارش په ازمويښتينه دوره کې د ګوند او سره پوځ د ملا تير کلک او پولاديز کړي.

د تسونيي کنفرانس نه وروسته، لمړي مخکښ پوځ، د مائو تسه دون تر مشرۍ لاندې، فلېکسيبل تکتيک خپل کړ، انيسياتيف يې په خپل لاس کې واخيست. د ۱۹۳۵م په فبرورئ کې يې د غليم څلور فرقې تسونيي ته نږدې له منځه يوړې او دا د اوږده مارش له پيله لمړی لوی بری ؤ. له دې وروسته، لمړي مخکښ پوځ غليم په تېراپستلو سره اغفال کړ او د هغه په غولولو بريالی شو. د مې په مياشت کې د سځېچوان او ين آن په سرحد کې د طلايي ربګو ګرندي سيند څخه د نهو روځ او نهو شپو په ترڅ کې – پرته له کومو تلفاتو څخه - تېر شو.

سره پوځ د غليم د سل هاؤ زرو لښکرو بنديزونه مات کړل. دا د اوږده مارش پرېکړنده بريا وه. له دې وخته راهيسې سور پوځ د لويديز سځېچوان په لور د شمال په اوږدو مخ په وړاندې لاړ، د تاتو سيند يې مطيع کړ، د غرو په لوېو واورينې سلسې وروختل او د ۱۹۳۵م په جون کې په لويديز سځېچوان کې تاواى او ماوکونګ ته ورسېدو، د څلورم مخکښ پوځ له ځواکونو سره د سځېچوان- شنسي په بنسټ کې يوځای شو.

چانګ کو- تاو، د څلورم مخکښ پوځ له رهبرانو څخه يو، د پنځم محاصروي عملياتو پر ضد جګړه کې د ماتې له کبله يې د انقلاب په موخو باندې باور له لاسه ورکړ او بنې اوپورتونيستي مشې يې خپله کړه. د ۱۹۳۵م کال په مارچ کې ده د سځېچوان – شنسي بنسټ خوشي کړ او له خپلو لښکرو سره مخ په لوېديز رهي شو، د تېبنتې او پرشاتګ په موخه دی په واقعيت کې د چين جنوب لويديز خواته ولاړ. د چيالينګ، فو او مين سيندونو څخه له تېرېدو وروسته دغه لښکرې په لوېديز کې د لمړي مخکښ پوځ سره د ليهسين په سيمه کې يوځای شوې.

ملګري مائو تسه دون د چانګ کو – تاو د انحراف پر ضد د ګوند د ننه مبارزې سمې لارې څخه کار واخيست. د ده د بېرته راستنېدو په هيله د ناروغ د درمل له لارې، د ګوند مرکزي کميټې د

سخېچوان په شمال لوېدیز په سونګ- پان کې یوه مهمه غونډه راوبلله، چې هغې د بحثونو په پایله کې پرېکړه وکړه، چې سور پوځ به په شمالي لور خپل مارش ته ادامه ورکوي. چان کو- تاو ظاهرن د مرکزي کمېټې پرېکړه ومنله.

د ۱۹۵۵م په اګوست کې سره پوځ په دوو ستنو کې د شمال په لور خپل مارش ته ادامه ورکړه – ښي ستنه د ملګری مائو تسه دونګ او مرکزي کمېټې تر لارښوونې لاندې؛ او کیڼه ستنه د چو تېح، چانګ کو – تاو او لیو پو- چېنګ په مشرۍ. خو، کله چې کیڼه ستنه اپا (اوس اپا د تبتیانو په سیمه، چو په سخېچوان کې ده) ته ورسېده، چانګ کو- تاو بیا د مرکزي کمېټې د پرېکړې له پلي کولو څخه ډډه وکړه او د چو تېح او یو- چېنګ په برطرفولو سره یې لښکرې د جنوب خواته وبوړې. ده په همدې توګه په پټه په څلورم مخکښ پوځ کې دوو پوځونو ته، چې په ښي ستنه کې وو، امر وکړ، چې له ده سره د جنوب په لور لاړ شي او تینچوان او لوشان (او د سخېچوان د ین آن په شمال کې) ته په شا شي. وروسته یې د مرکزي کمېټې پر ضد شعارونه پورته کړل او حتا د هغې له منځه وړل یې پلان کړل. مرکزي کمېټې بیا پرېکړه وکړه، چې ښي ستنه یوازې د شمال په لور رهبري کړي. په سپتمبر کې دوی د سخېچوان او کانسو په سرحد کې د لاتسېکو طبیعی خند ونیوه، د مین له غره تېر شول او جنوبي کانسو ته ننوتل. په راتلونکې میاشت کې دوی په شمالي شنسي کې د ووچي ښار ونیولو او د ۱۵م پوځ له قطعو سره مل شول، چې دوی بیا په شمالي شنسي کې مانور وکړ. په نومبر کې د سره پوځ دوو واحدونو په ګډه د غلیم یرغلګرې لښکرې ماتې کړې او د شنسي – کانسو بنسټ یې پیاوړی کړ، کوم چې وروسته د شنسي – کانسو – نینګسیا مشهورې سرحدي سیمې ته وده وکړه، چې مرکز یې ین آن ؤ.

د ۱۹۵۵م په نومبر کې، دوهم مخکښ پوځ خپله دنده په اوږده مارش کې د لمړي مخکښ پوځ نه په ملاتړ کې داسې سرته ورسوله،

چې د غلیم شاته کرښو کې یې ګوریلایي جګړې په لار واچولې، اوږد مارش یې هم تقریبن په هم هغه منده تعقیب کړ، چې لمړی مخکښ پوځ پرې لاړ ؤ. د ۱۹۳۶م په جون کې د لویدیز سخېچوان کانتسو ته ورسېدو او د څلورم مخکښ پوځ له ځوکونو سره، چې د چانګ کو – تاو له خوا رهبري کېده، کوم چې خپل وخت دلته هسې تېراوه.

اوس چانګ کو – تاو، چا چې نه سمېدونکي شومې موخې لرلې، دومره مخکې لاړ، چې ګوند ته یې د خیانت داسې توطئه جوړه کړه، چې جعلي "ګوندي مرکز" یې بنا کړ او ځان یې صدر مقرر کړ. ده غوښتل چې د دوهم مخکښ پوځ رهبران وهڅوي، چې له ده سره د مرکزي کمیټې پر ضد یوشي او د ده د تېښتې او د ګوند ضد انشعابي فعالیتونو ملاتړ وکړي. د صدر مائو په ګوند کې دننه مبارزې د سمې مشې نه په پیروۍ سره، ملګري چوتېح کلک سیاسي سپېڅلتوب او انقلابي کیفیتونه په دې کې څرګند کړل، چې د چانګ کو- تاو بلنه یې د دې لپاره چې باید د ګوند د مرکزي کمیټې پر ضد دریز ونیسي، رده کړه، تر دې زیات دا چې، د کدرونو په منځ کې یې د مرکزي کمیټې سمه مشې تبلیغ کړه. د ګوند د مرکزي کمیټې له سمې مشې او د چانګ کو- تاو د تېښتې پالیسۍ او د ګوند ضد انشعاب غوښتونکې سیاست سره مبارزې څخه د ملګرو چو تېځ، لیو بو-چېنګ، جېن یي- شیح او کوان هسینګ – یینګ (وروستي دوه د دوهم مخکښ پوځ رهبران وو) پرېکړنده ملاتړ په برکت او د څلورم مخکښ پوځ د کادرونو د عمده برخې له خوا د چان کو- تاو د مشې د غلطوالي پېژندلو او د شمال په لور د پرمختګ او جاپان پر ضد د مقاومت لپاره د دوی د غوښتنې په وجه د چان کو- تاو خاینانه او انشعاب غوښتونکې دسیسې له ماتې سره مخ شوې. دی دې ته مجبور کړای شو، چې خپله جعلي "مرکزي کمیټه" منحله کړي او څلورم مخکښ پوځ له دوهم سره د شمال په لور یووړي. دوی په اوکتوبر کې د کانسو هویننګ ته ورسېدل او ځواکونه د لمړي

مخکښ پوځ سره یوځای شول. د سره پوځ د درو عمده ځواکونو – لمړي، دوهم او څلورم مخکښ پوځونو – په یوځای کېدو سره، اوږد مارش په برم سره پای ته ورسول شو.
اوږد مارش د چین په تاریخ کې یوه بې بېلګې حماسه ده. تر ټولو لېرې واټن، چې د سره پوځ له خوا ووهل شو، ۲۵۰۰۰ لي اوږد ؤ، چې ټول سره یوځای په ترتیب سره، فوکین، کیانګسیو، کوانګتونګ، هونان، کوایچوو، یون آن، سیکانګ، سځېچوان، کانسو او شنسي، یوولس ایالته یې په ترڅ کې وو. چیانګ کای- شېک خورا زیاتې هڅې پکار واچولې، چې خپل درزخوړلې پوځ او هوایي واحدونه چمتو کړي او له جګړه مارو او فیوډالانو سره یې ګډ کار پیل کړ، په بېلابېلو ایالتونو کې یې ځواکونه په وسلو سمبال کړل او د سره پوځ د پرمختګ په لار کې یې په طبیعي خنډونو کې مدافع قوتونه ځای پر ځای کړل، خو هېڅکله د هغه د یرغل خنډ ونه ګرځېدلای شول. د دې لپاره چې په بهترو وسایلو سمبال شوي او په شمېر باندې څو ځله لوی غلیم سره د مخامخ کېدو څخه یې مخنیوی کړی وي، سور پوځ باید له متروکو سیمو، هسکو غرونو او یاغي سیندونو، خطرناکه ډاګونو او لارو، مخصوصن له لویدیز سځېچوان څخه، چې په واورو پوښل شوي غرونه یې د بحر له سطحې نه ۵۰۰۰ متره اوچت تلې وو او ناویسا جبې یې لرلې، تېر شوي وای. دا سیمې په خپلې بې وزلې، خواره نفوس او د دوډۍ په نشتوالي سره په نښه شوې وې.
له دغو ستونزو او خطرونو څخه یوه هم د سره پوځ مخه ونشوه نیولې، چې په اوږده مارش کې بری تر لاسه کړي. دا د دې لپاره وه، چې په لمړي سر کې سور پوځ د مارکیست – لیننیست ګوند، د چین کمونیست ګوند له خوا رهبري کېده. په ۱۹۲۱م کې د خپل بنسټ ایښودو څخه راهیسې، ګوند په اوږدې انقلابي مبارزې کې اوبلېدلی شو، دا یې زده کړل، چې مارکسیستي – لیننیستي تیوری ته د چین له انقلابي عمل سره تړاو ورکړي، ډېرې تجربې

راغونډې کړي، مخصوصن د انقلابي جګړې تجربه او کڼ شمېر د رهبری کدرونه وروزي. د تسونيي لﻪ کنفرانس څخه وروسته د ملګري مائو تسه تونګ پﻪ مشری د ګوند د مرکزي کميټې بنسټ کېښودل شو، کومې چې سمه مشې تدوين کړله. نه يوازې لﻪ راز راز غليمانو سره پﻪ جګړه کې يې مهارت ترلاسه کړی ؤ، بلکه پﻪ ګوند کې دننه يې هم د غلطو مشيو پر ضد مبارزې کې مهارت موندلی ؤ. د اوږده مارش ټول بهير دا څرګندوي، چې د هغه د برى د کيڼې مشې د انحرافونو پﻪ بشپړه سمون، د ملګرې مائو تسه تونګ د سمې مشې پﻪ برلاسي، د چانګ کو- تاو د ښي او انشعاب غوښتونکې مشې پرضد کلکې مبارزې، او د ملګري مائو تسي تونګ لﻪ سمو آيدياؤو څخه پﻪ پيروی سره لاس تﻪ راغی. د سره پوځ د اوږده مارش بری، د ګوند د سم مشرتابه او ملګري مائو تسه تونګ څخه پرته، د تصور وړ نه ؤ.

ملګري مائو تسه تونګ پﻪ مفصله توګه د اوږده مارش اهميت پﻪ لاندې ډول څرګندوي:

**د اوږده مارش پﻪ هکله خبرو پﻪ لړ کې بايد يوه پوښتنه وشي، "د هغه اهميت څه دی؟" موږ ځواب ورکوو، چې د تاريخ پﻪ اوږدو کې، اوږد مارش پﻪ خپل ډول کې لمړنی دی، هغه يو مانيفيست دی... هغه نړۍ تﻪ څرګنده کړه، سور پوځ د اتلانو يو پوځ دی، پﻪ دې حال کې چې امپرياليستان او د دوی ځغستونکې سپي، چنانګ کای- شېک او د هغه شاني زبلي(خوار، زبون، بې عرضه) دي. دوی زموږ پﻪ محاصرې، تعقيب، مخنيوي او موږ تﻪ خنډ اچولو کې خپله بشپړه بې وسي څرګنده کړه.**

اوږد مارش په همدې توګه یو تبلیغاتي ځواک دی. ده تقریبن ۲۰۰ میلیونو خلکو ته په یوولسو ایالتونو کې اعلام وکړ، چې د سره پوځ لار د دوی د خلاصون لار ده. پراخو پرګنو، پرته له اوږده مارشه، څنګه کولای شوی داسي چټک د هغه حقیقت په شته والي خبر شي، کوم چې سور پوځ یې ښکارندوی ؤ؟ اوږد مارش همدا راز د تخم ښندلو یو ماشین ؤ. په یوولسو ایالتونو کې یې دومره ډېر تخم کرلی، کوم به چې پونګې راوباسي، پاڼې راشنې کړي، غوټې یې وغوړېږي، او ثمر ونیسي، او په راتلونکي کې به فصل ونیسي. په یوه ټکي کې، اوږد مارش زموږ لپاره په بري سره او د غلیم لپاره د ماتې سره پای ته ورسېده.
("د جاپان امپریالیسم پرضد د تکتیکونو په اړه")

د اږده مارش بریالي پای د چین انقلاب ځواکمن کړ، چې له ۱۹۲۷م څخه وروسته په بل بحران بری ومونديي. اوږده مارش د چین ټول خلک د خپل انقلاب او د جاپان پرضد د مقاومت راتلونکي ته باورمن کړل. هغه د ګوند او د سره پوځ غورځنګیز ځواک وژغوره د ګوند کرښې یې په کلکو ازموینو کې پولادیزې کړې. د دې ځواک په برکت انقلابي ځواک د ګوند او مائو تسه تونګ په سمې رهبرۍ سره، د جاپان پر ضد جګړې کې تر هره وخته زیاته ځواکمنه وده وکړه او همدا راز د امپریالیسم او د هغو څغلنده سپیو، دګومینتانګ مرتجعینو، د سلطې په راپرځولو کې د چین خلکو د لوی

بري لپاره بنسټ کېښودل شو، او نوی چین ته يې شتون ور په برخه کړ.



# يادښت:

اوږد مارش، د تاريخ په خپل ذات کې لمړنی سفر، چې د چين د کارګرانو او بزګرانو د سره پوځ لخوا د چين د کمونيست ګوند او صدر مائوتسه تونګ په مشرۍ د ۱۹۳۴ ــ ۱۹۳۶ کلونو په ترڅ کې تر سره شو. مارش ۲۵۰۰۰ لي(۱۲۵۰۰ کيلومتره) واټن وواهه، د غليم درندو محاصرو په ماتولو او له بې شمېره خطرونو او ستونزو څخه په راوتلو سره بريالی پای ته ورسېدو.

دا کتاب له ۱۹۳۰ څخه راهيسې شپږ کاله د ليکوال يادښتونه دي، کله چې دی لمړی د صدر مائو د محافظ او وروسته يې د باډيګارډ په توګه دنده سرته رسوله. دلته د صدر مائو له ژوند او کار څخه د ده درکونه دي، چې په اوږده مارش او سره پوځ پورې دازموينې په دورې کې تمرکز لري. د انقلاب دا خاطرې د هغه دورې تاريخي پېښې برجسته کوي او په څرګنده توګه د صدر مائو انقلابي نړۍ ليد او ساده ژوند انځوروي.

دوو مقالو له کتاب سره پيوستون موندلی: خوشحالې خاطرې او د اوږده مارش په هکله.

لمړی مقاله د ليکوال د پاېليزې په توګه خپرېږي او بشپړيز مواد وړاندې کويو ته ورپسې د نوي چين تر بنسټ ايښودو وروسته د صدر سره د ده د مصاحبې يوه جمعبندي ده. دوهم پيوست شوې مضمون د کتاب بهتره پوهېدو لپاره پس منظري معلومات وړاندې کوي.